


# د انقلاب قربانیان

Ketabton.com



شان الف

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د انقلاب قربانیان

## شان الف

افغان: د تذکرې په نامه دوې گوتې کاغذ بسنده نه دی، بلکې په تاریخ ویاړ او له ولس سره مینه پکار ده.

**داوري نمی‌خواهد، خون بها نمی‌گیرد**
**انتقام می‌جوید، میهنی که ما داریم**
عبدالرحمن پژواک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتابپېژندنه

د کتاب نوم: د انقلاب قربانیان

لیکوال: شان الف

کمپوز: جفسر

ډیزاین: جنرال جمرود

چاپکال: ۱۳۹۹لمریز

چاپشمېر: ۱۰۰۰

**د ژباړې او اقتباس حق مینهوالو ته آزاد دی!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

انسانان د خپل طبیعي خاصیت پر بنا ځانغوښتنه، شهرت‌طلبي او ګټه‌غوښتنه، شهوت، حرص، د ماجرا جویي او قهرماني ثابتولو په انګېزه، له کوره نیولې بیا تر سیمي د قدرت‌نمایی پراختیا او د نورو مځکې لاندې کولو باندې لاس پورې کوي. تاریخ ځینې داسې یادونې په یاد لري، لکه په تر مېلاد وړاندې ۳۲۰ کال کې چې لوی مقدوني الکساندر له یونانه هم په همدې تکل د افغان تر خاورې راورسېد، چې په کاپیسا کې له خنډ او ځنډ سره مخ شو، په ٦٦١م کلونو کې د امویانو لښکرې د هېواد شمال غرب ته رانوتلې ( افغانستان در مسیر تاریخ، ٦٣مخ).

د چنګیز لښکرکښې په ۱۲۲۱کال کې هم د همدې مثال یوه بېلګه ده او مغول ګوډ تېمور هم د چنګیز له نبیرې څخه و، دوی هم خپله واکمني په ۱۳۸۰ م کې افغانستان ته راوغځوله. (غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ۲۵۸مخ)

افغانانو هم په خپل وار په خپل زور د نورو خاورې لاندې کړې او د هېواد د پراختیا هڅې یې کړې دي.

هوتکیان به په پارس (ننني ایران) ورننوتل له اصفهانه به یې حکم چالوه.

او احمد ابدالي هم د پښتونخوا د غرو د سرو په یاد د ډهلي پر تخت ناست و.

د هېواد نورو واکمنانو لکه سوریانو، غوریانو، لودیانو او غزنویانو هم دا هدف تعقیب کړی دی. د نورې نړۍ واکمنانو هم دا ډول کړني کولې، د ناپلیون فتوحات هم همدا ډول وو. اډولف هېټلر هم تر همدې انګېزې لاندې لښکرکښی کولې، د ۱۹ پېړۍ د پیل نه د لوېدیځې اروپا استعمارګرانو هم لکه فرانسې، برتانیې، ایټالیا، اسپانیا، پرتګال، بلجیم او هالنډ او نورو هېوادونو همدا پالیسي تعقیبوله او آسیایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او افریقایي هېوادو ته یې د حرص سترګې نیولې وې او د مستعمره شوي هېواد اداره به یې په خپل لاس کې ونیوله. د کابل په بالاحصار کې هم مېکناټن کنبېناست، د هرڅه اداره یې په خپل لاس کې ونیوله. چې ځوان وزیر سردارمحمد اکبرخان یې د ۱۸۴۱ د ډېسمبر په ۲۳ نېټه (د غبار تاریخ، ۵۵۹مخ) په داد وررورسېد. او په ورسره چاړه یې وواژه او جسد یې د کابل په (چته بازار) کې راځوړند کړ او راغلي انګرېزان ټول تارومار شول، یوازې ډاکتر برایډن مړژواندی تر خیبر درې وررواوښت.

درېیمه افغان او انګرېز جګړه د اعلی‌حضرت ملي قهرمان امان الله د پاچاهۍ په پیل کې اعلان شوه، د جنوبي معرکې د قومندان غازي نادرخان په قومانده انګرېز مات او تسلیم شو، په ۱۹۱۹کال د افغان خپلواکي اعاده شوه، په ۱۸۸۰ کې دویمه جګړه د غازي محمدایوب خان تر قوماندې لاندې وشوه. د میوند د غزا د انګرېزانو مړي لا تر اوسه هلته ښخ دي، په دې غزا کې ان مېرمنو او پېغلو ګډون درلود. د افغانستان در مسیر تاریخ په ۶۳۸مخ کې داسې راغلي دي:

خال به د یار له وینو کېږدم چې شینکي باغ کې ګل ګلاب وشرموینه

د میوند قهرمانې ملالې بیا داسې چیغه وکړه:

که په میوند کې شهید نه شوې خدای‌ږو لالیه بې‌ننګۍ ته دې ساتینه

د امویانو او عباسیانو لښکرې د عقیدې او اسلام د ترویج او د دین د پراختیا او زده‌کړې لپاره، چې دیني مبلغین به ورسره مل وو، د الهي احکامو او نبوي ارشاداتو د زده‌کړې او د بشریت د فلاح په خاطر چې دیني رسالت به یې وروسپاره، چې په نړۍ کې عدالت او اخوت مسلط شي، راغلې. د فاتح لښکرو ځینې کسان د افغان ولس له مېلمه‌پالنې خوښ وو او پاتې شول، چې په افغان کلتور کې جذب شول، چې تر اوسه یې د ساداتو، قریشو، عربو، انصاریانو، باچایانو، میرانو او خواجه‌ګانو په نامه درناوی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مگر انگرېزانو له دې افغاني مېلمهپالنې څخه ناوړه ګټه پورته کړه، دیوبندیان او د بغداد پیران یې وارد کړل، د دیوبند د مدرسې علما سرازېر شول، د جهاد کفیلانو مفتي محمود او د قاضي حسین احمد او د اسلامي امارت مولوي فضل الرحمن او سمیع الحق د معنوي پلرونو ځای ونیو. د اسلام د دین او مذهب په څنګ کې د قادریه، چشتیه، نقشبندیه، او اسماعیلیه غوندې طریقې راواردې شوې، چې جنت ته د ژر لار موندنې په هیله یې د خپلو مریدانو او پیروانو لاس‌نیوی وکړ. دا پیران ژر د نفوذ خاوندان شول او شتمنۍ هم په لاس ورغلې نو سیاست ته یې مخه کړه. دا خلک زموږ نه دي او تر اوسه هم له پردیو سره اړیکې ساتي. د دې طریقو په اړه د (سرې لښکرې) کتاب او د (دست‌بګیران انګلیس) کتابونو کې مستند اسناد ارایه شوي، چې د کتلو وړ دي.
دا پیران څنګه جوړ او وارد شول او څنګه راته رهبران جوړ شول او یا مذهبونه هم راته جوړ کړل، مثلاً اسماعلیه، چې تاریخ او مبدا یې معلومه ده، چې څرنګه رواج شول، او څرنګه یې پراختیا وموندله. کریم آغاخان څوک او د چا Made in دی. یا په پاکستان کې څنګه بله اسلامي ښاخه د احمدیه (قادیاني) په نامه وزېږېده. مذهب په ټولنه کې خاص حساسیت لري. په احتیاط باید وسره برخورد وشي. یا سلفیان او وهابیان او پنج پیران څنګه پیدا او راوزېږېدل. دا د اسلام د ضد عناصرو طرحه ده. شوروي استعمار څنګه له مذهب سره دښمني لري. خپل پیروان یې پر خلق، پرچم، ستمي او ماویستانو ووېشل. کله دا ډله ورنژدې کړي او کله هغه بله. مجاهدین هم ډلې ډلې دي، که اسلام یو وي، نو ډلې څه معنا لري؟ «واعتصموا بحبل الله جمیعا و لا تفرقوا» څه معنا لري؟
مذهبي او روحاني قشر د روحانیت او معنویت په څنګ کې سیاست او دولتي چارو ته هم مخه کړه.
دا فکري او عقیدوي توپیرونه په نړۍ کې د ډېرو جګړو او ناوړو پېښو سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځېدلي، اوس هڅه کېږي چې حل شي. عقیده او ایمان یوازې د خدای او بنده ترمنځ رابطه ده، نه سیاسي اهداف. د اهل تشیع او سني مذهبونو ترمنځ دا فقهي توپیرونه د اسلام دښمنانو ته د مداخلې زمینه برابره کړه، چې تاریخ د ناوړو پېښو شاهد دی. البته داسې پېښې په عسویت کې هم د کاتولیک او پروتستانت ترمنځ راغلې دي. صلیبي جګړې هم د تاریخ په یاد دي. ستونزې همدا دي چې هره ډله په خپل ډول او سلیقه مذهب او دین غواړي او ځان حق په جانب بولي.
روسانو هم د خپل استعمار لپاره بل نوی او پوخ تکتیک رامخته کړ چې هرې خوا ته ریښې ځغلوي، مزدوران مومي او هغه روزي، چې په نیابتي ډول د روس (شوروي) د ګټو دفاع وکړي. همدا ډول خپلواک هېوادونه لکه ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان، اوکراین، ستوانیا، ګورجستان، آذربایجان او نور جمله ۱۵ قومونه د شوري جمهوریتونو اتحاد تش په نامه تر مستقیم استعمار لاندې کړل، بل ګام یې د ختیځې اروپا په لور واخیست، ختیځ آلمان، پولېنډ، چکسلواکیا، رومانیا، هنګري، بلغاریا (د وارسا د پکت) په نامه تر خپلې ادارې او یوغ لاندې ونیول، د مارکسېزم او لېنېنزم تخم یې پکې وپاشه او د اکتوبر انقلاب ته یې په اطاعت مکلف کړل او «د نړۍ کاریګرانو سره یو شئ!» یې پرې ومانه. کله چې چکسلواکیا او هنګري له دې نوي استعماره په تنګ شوې، په یوه اقدام یې لاس پورې کړ، مګر هنګري په ۱۹۵۷ کال کې او چکسلواکیا په ۱۹۶۷ کال کې روسیې (شوروي) تر مستقیم برید لاندې کړل، ملي ګرایان او وطنپرستان یې وځپل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عرض و مرام

کتاب پای ته ورسېد نامه ته یې متردد وم. معمول خو دا دی چې لومړی د یو چا زوی زوکېږي بیا یې د نامه په فکر شي، په دې کتاب کې د هغو کسانو په اړه معلومات راغلي چې ځان ته یې انقلابیان ویل، مگر هغه انقلابیان د انقلاب د مخالفت په تور دهشتگر او د خپلو انقلابي ملگرو له خوا قرباني شول، نو مې «د انقلاب قربانیان» نوم ورکړ.

د عام ولس او مجاهدینو او ملي شخصیتونو د قربانۍ یادونه دلته نه ده شوې (روح یې دې ښاد وي).

دا انقلابیان چې ځان ته اتلان وایي، په حقیقت کې لوبغاړي دي. د انقلاب اصلي اتلان یا گردانندگان ملگری برژنېف، اندروپوف، پوزانوف دي، چې دا انقلابونه یې راولاړول. مجاهدین چې د ولس جگړه‌یي ځواک و، د بریالیتوب سره ونه توانېدل چې د اسلام او وطن دښمنان محکمې ته کش کړي. ځینې انقلابیان وتښتېدل د لوېدیځ (چې دوی به امپریالېزم باله) تر لمنې لاندې شول، خو تاریخ ډېر بېباکانه خپل یادښتونه ساتي او په مټ یې د دې تورمخیو ورته پوهېږي چې د چا زامن او د چا لمسیان دي.

یو سیاست پوه وایي: «که پخواني هېر کړو، نو راتلونکي ته به په ړندو سترگو گورو!». د تاریخ په اوږدو کې پر ولسونو لوړې او ژورې راځي، چې باید ثبت شي او هېرې نشي.

زموږ هېواد هم له دې حکمه مستثنی نه دی، په تېره بیا دا وروستي ۴۰ کاله چې زموږ له هیلو ماسېوا یوه ډله د پردیو په نیابت او د پردیو د گټو لپاره د وژنو، شکنجو او خرابیو سبب وگرځېدل. د هېواد پر دین، عقیده او دودونو یې مسخرې وکړې، کله به یوه ډله محکومه او کله به بله ډله حاکمه شوه. بالآخره یې یو بل ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمنۍ کمين ونيو. يو پر بل يې توروونه ولګول او يو بل ته يې توطيې جوړې کړې. د سنګر ملګرو پر خپلو ملګرو بريد وکړ.

په دې خاطر مې د دې کتاب نوم د انقلاب قربانيان غوره کړ.

په درناوي

شان الف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د واک د انتقال ډولونه

۱ – لښکرکښي: د واک هغه انتقال چې د لښکرکښۍ په واسطه کېږي، بالآخره د مستعمرې بڼه مومي.
۲ – کودتا: کودتا هغه اداري او سیاسي بدلون دی چې په یوه غیرمعمول او چټک اقدام او لنډ وخت کې ترسره شي.
معمول دا دی چې کودتا د یوه کس او یا څو تنو پر یوه شخصي انګېزه تکیه وي، بیا هم د انقلاب نوم ورکړل شي، چې دا په درېیمه نړۍ لکه جنوبي امریکا، افریقایي هېوادونو او عربي هېوادونو لکه مصر، سوریه، عراق او جنوبي آسیا لکه پاکستان او افغانستان کې دود ده. په کودتا کې د قوانینو او مقرراتو رعایت نه وي.
۳ - انقلاب: کوم بدلون چې د ولس د پاڅون په واسطه د پوځیانو له مداخلې پرته رامنځته کېږي.
۴ – ټولټاکنې: ډموکراتیک اصول ټولټاکنې دي، چې په مټ یې واک له یوه واکمنه بل ته لېږدول کېږي. په اسلام کې بیعت ورته ویل کېږي. افغانان چې پخوا آریایان وو، پېنځه زره کاله پخوا به پکې د یوې لویې جرګې له لارې واک لېږدېده. مثلاً په ام البلاد (بلخ) کې به په یوه دښته کې اړوند ولس راټول شو، چې د یما پاچا او کنېکشا واک ته رسېدل هم په همدې ډول وو.
په وروستیو کې ټولټاکنې د لویې جرګې له لارې کېدې، چې د میرویس نیکه د «مانجي رباط» لویه جرګه او د احمدشاه بابا د ټاکلو جرګه چې په تاریخ کې د «شېر سُرخ) په نامه یادېږي. همدا لویه جرګه په وروستیو کې په دولتي تشکیل کې مسجل شوه.
۵ – ټولپوښتنه (رېفرېنډم): دا ټولټاکنې نن د ډموکراسۍ په اصولو په نړۍ کې په ډېرو هېوادونو کې دود دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان له څلورو لسیزو راپه‌دېخوا د ځو بدلونونو او کودتاو شاهد دی، چې په ټوله کې د شوروي د استخباراتي کړیو غیرمستقیم یا نېغ په نېغه لاس پکې و. خو څرنګه چې دا کودتاوې د ولس د ارادې خلاف وې، نو دوام یې ونه‌کړ. همدا وو چې له کمونېستانو څخه مجاهدینو ته، له مجاهدینو څخه طالبانو ته او له طالبانو څخه د افغانستان اسلامي جمهوریت ته واک ولېږدېده مګر اسلامي جمهوریت ته دا واک په سوله‌ییز ډول انتقال نشو، بلکې د F-16 او B52 رول پکې روښانه و. په شمال کې د شوراءِ نظار او په جنوب لوېدیځ کې د حامدکرزي قومي مقاومت ورسره ملګری شو.

زموږ په هېواد کې چې په شلمه پېړۍ کې د انقلابونو په نامه د KGB لاسوهنه کېده، هغو کسانو ته دنده سپارل شوې وه، چې دوی روزلي وو، چې په سیاسي اصطلاح ورته «پینځم ستون» وایي. په دې وروستیو څو لیسزو کې مو د KGB رول په رڼو سترګو ولید او بېخی برالا و. نو، زموږ په هېواد کې نه د چنګاښ ۲۶مه *انقلاب* و، او نه د غویي اوومه.

ان د اوکتوبر انقلاب هم انقلاب نه و، بلکې د بلشویکانو بغاوت و چې د واک دې غصب ته یې د انقلاب نوم ورکړ. نړۍ یوازې د فرانسې انقلاب او د ایران د آیة الله روح الله خمیني انقلاب *انقلاب* بولي، چې د ۱۳۵۸ کال د سلواغې په ۲۲مه وشو.

کله کله کورني شورشونه هم وي، چې البته له انقلاب سره توپیر لري، مثلاً د سقاو د زوی حبیب الله نه انقلاب و او نه کودتا بلکې یو کورنی شورش و. په دې عصري نړۍ کې د ډموکراسۍ د اصولو په چوکاټ کې د ولس غوښتنو ته د اعتراضونو، نیوکو او مبارزې لارې پرانیستې دي، مېډیا پکې فعاله وي، واک غوښتونکي پلویان پیدا کوي او د ټاکنو له لارې ځانونه واک ته رسوي. مخالفه ډله یې *اپوزېسیون* بلل کېږي، چې قانوني مشروعیت لری او په دې ډول د شورش مخه ډب کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پیلامه

«انقلاب خپل بچیان خوري» لېنن

د هېواد د تاریخ یوه ترخه څنډه دا وروستۍ پینځه لسیزې دي، چې پکې زموږ هېواد له سیاسي غوبل سره مخ شو، چې پر هر څه سیاست، کلتور او معارف یې اغېزه وکړه؛ هېواد مو د جګړې په ډګر بدل شو او د سیاسي سیالیو میدان او د یو بل په وړاندې د بریدونو مرکز وګرځېد. ملي یووالی تخریب شو، نیابتي جګړو زور واخیست. ترهګرو دلته ځالې جوړې کړې، القاعده او داعش دلته وده وکړه. خپل مو (طالب) هم رانه پردي شول؛ غواړي چې *تور، سور او زرغون* بیرغ مو کله په *سره* کله په *سپین* او کله په *تور* واړوي.

په دې څو لیکو کې چې د ګرانو لوستونکو مخ ته پرتې دي، د کودتاګرانو (یا د دوی په اصطلاح انقلابیانو) پر قربانیو، چې ځینې کسان که په حق وو یا ناحق خو قربانیان بلل شوي دي، مې لیکنه کړې ده. په کومو قربانیو کې چې ولس وځپل شو، په ملیونونو شهیدان، په میلیونونو معیوبان او په میلیونونو مهاجرت او تېښتې ته اړ شول. دلته یوازې د هغو انقلابیانو (د دوی په اصطلاح) یادونه کوم چې د انقلاب لپاره قرباني او یا د انقلاب د مخالفت په تور تکول شوي دي، یا وژل شوي یا د خپل انقلاب قرباني شوي دي؛ دلته د لېنن هغه خبره صدق کوي چې ویل به یې: «**انقلاب خپل بچیان خوري!**»

د هېواد په دې وروستیو کې د تاریخ په اړه په کور د ننه لیکوالو او هم د بهرنیانو له خوا ډېرې لیکنې او کتابونه خپاره شوي دي، د بهرنیانو لیکنې د ترجیع وړ دي اما د داخلیانو په لیکنو کې د حقیقت او واقعیت رعایت لږ لیدل کیږي.

د بهرنیانو لیکنې له زړه‌سوي ډکې او پر واقعیت ولاړې دي لکه د جنرال الکساندر مایروف کتاب «په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل؟» یا د جنرال بوریس ګرومو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب (سرې لښکرې)، «*د افغان مېړانه او غمیزه*»، د مېتروخین «ک.ج.ب در افغانستان»، اما د افغانو لیکوالو لیکنې د جنرال نبي عظیمي «اردو و سیاست»، یا د دستگیر پنجشیري «ظهور و زوال حزب دموکراتیک خلق»، د صالح محمد زېري «د نیمې پېړۍ پېښې»، د محتاط عبدالحمید او جنرال قادر «خاطرات سیاسي»، د وکیل «از سلطنت مطلقه الی سقوط جمهوریت دموکراتیک»، د غوربندي «د افغانستان د خلکو دموکراتیک گوند تاریخ ته یوه کتنه»، د فقیر ودان «خدشه های سرخ» د ډاکتر حسن شرق «کرباس پوشان برهنه‌پا» او نور بې‌پرې نه دي.

د پېښو لیکنه تاریخ دی، تاریخ ته رنگ ورکول او یا یې رنگ اړول، له تاریخ سره جفا ده؛ مثلاً جاسوس ته «یادِ جاوادان» وایي او وژونکي ته «شهید»، خو لمر په دوو گوتو نه پټېږي، د کتاب په راتلونکو پاڼو کې به راشي.

هر څوک د خپل ذهنیت او فکر د اظهار حق لري اما حقیقت او واقعیت باید سره کرښه ومنل شي. انقلابیان د ایډیولوژۍ تر اغېزې لاندې راغلي وو او دا هېواد همدغو پردیو ایډیولوژیو خراب کړ، چې د ملي او اسلامي ارزښتونو مخالفې وې. دوی د هېواد اصلي وارثان د «اشرار» په نامه یاد کړل، مگر د یرغلگرو دوستانو او جاسوسانو بیا د وطن‌پرستانو یا انقلابیانو لقب ترلاسه کړ.

خلقیانو او کورنیو کمونېستانو به کلیشه‌یي جملې کتارولې، لکه: لېنن کبیر، انقلاب اکتوبر، مارکس، طبقه گارگر، طبقه روشنفکران او نیروهای مترقي او دموکراتیک، مبارزه طبقاتي، کاریگران جهان متحد شوید!، خلق‌های مبارز، قوت های ارتجاعي، ایدیولوژي دوران‌ساز مارکسېزم و لېنېنزم، فیوډالېزم، امپریالېزم، «کور، کالي، ډوډۍ» او نور.

دغسې نورې جملې د عبدالوکیل په کتاب «از پادشاهي مطلقه الی سقوط جمهوریت دموکراتیک افغانستان»، د دستگیر پنجشېري په «ظهور و زوال حزب دموکراتیک خلق»، د صالح محمد زېري په «نیمه پېړۍ خاطرې»، د سلطان علي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشتمند په «خاطرات و رویدادهای سیاسي»، د عبدالقدوس غوربندي په «د افغانستان خلکو دموکراتیک گوند تاریخ ته یوه کتنه» لیکنو او بیانیو کې راغلې دي، تکرارېدې، هر ملگري به په «هورا» ستونی څېرې کړ.
بلې ډلې به د «الله اکبر» چیغې وهلې: لا شرقي، لا غربي - اسلامي، اسلامي. مگر یوه هم دا ونه‌ویل چې **لاشرقي، لا غربي – افغاني-افغاني!**
د لېنینانو بیرغ سور او د اسلامیانو زرغون و. خلقیانو انټرناسیونالېستي تاییداوه، او د مجاهدینو دا شعار چې «**اسلام سرحد نه لري!**». ملي ارزښتونه د دواړو خواوو له خوا رد او محکوم وو، یوې خوا به ویل ***کارېگران جهان متحد شوید!***، بلې خوا به ویل ***مستضعفان با هم یکي است***، چې عین معنا لري.
خپلواکي چې د وینو په بدل کې په لاس راوړل شوې وه، څنگه د یوې ډلې له خوا یرغمل شوه او تر پوښتنې لاندې راوستل شوه، بلې ډلې د هېواد فرهنگي میراث (د بودا مجسمه) د پردیو په مدیریت په توپ والوزاوه. خلقیانو انقلابي محکمې او طالبانو صحرایي محکمې دود کړې.
انقلابي او صحرایي محکمې دود شوې، یوې ډلې د فرهنگي او اقتصادي تاسیساتو په ورانولو لاس پورې کړ، ځینو افغانانو د خپل وطن په خرابیو کې د پردیو په هدایت لوی لاس درلود. افغانانو پر افغانانو تر روس او امریکا ډېر ظلمونه وکړل. د طالب پر جنگي اسیرانو باندې د *گلم جم* له خوا د ټولو بشري او نړیوالو کنوانسیونونو خلاف ظلم وشو، او دا جنگي اسیران خو د طالب د کېبل په زور جگړې ته سوق شوي وو، او دا د ناروا یوه نمونه ده (د مرگ کاروان، د BBC فلم، د رحمت آریا ژباړه، د بېنوا کتابتون ۲۰مه گڼه.)
د گلم جم حاجي عبدالرشید دوستم چې له حاجي احمد اېشچي سره کومه کړنه وکړه، په نړۍ کې بې‌مخینې ده، بیا هم د اشرف غني ولسمشر له خوا د مارشال په رتبه ونازول شو. دوستم په خپل وخت کې د مرکزي کمېټې غړی او یو سرسپرده

(c) ketabton.com: The Digital Library

انقلابي و، چې د جبهې پرمختگ به يې په اجاره اخيست.

کوم جنايات چې ملګري اسدالله سروري او رفيق داکټر نجيب وکړل، د چنګېز او هلاکو مخ يې سپين کړ. طالبان دا اوس هم شېخ فاني او زېږ سِن صحرايي محاکمېږي. اوس هم بېعدالتي په لوړه پيمانه روانه ده، د حامدکرزي د ميدان افسر خادم مل په خپل کور کې بې له مقاومته د کورنۍ په مخ کې اعدام شو او همدا ډول په جلال‌آباد کې څلور ورونه په خپل بستر کې بې له مقاومته د ملي امنيت د ۰۱ کومنډو قطعې له خوا بې له محاکمې اعدام شول. چا پوښتنه ونه کړه. يوازې د ملي امنيت د رئيس معصوم ستانکزي استعفا بسنده نه ده، بلکې د دې جنايت تحقيق بايد وشي.

د جنرال مايروف، جنرال ګروموف او د افغان مېړانې او غميزې د کتابونو په لوستلو سره سړی د دوی ترحم او زړه‌سوی درکوي چې دا يرغل يې اشتباه بللی؟ او داکټر نجيب به زېږ سن په اعدام محکوم کړي وساتل چې ۱۸ کلن به شول او بيا به يې مجازات پرې تنفيذ کړ (کرباس پوشان برهنه‌پا).

ملګرو او رفيقانو هم د انقلاب د بقا لپاره تلفات ومنل، هم يې وژنې وکړې او هم ووژل شول. څوک چې ژوندي پاتې شول او د پلچرخي ترخې خاطرې ورسره دي، لکه کشتمند، صالح محمد زېري، لايق، بارق شفيعي، غوربندي، جنرال قادر، جنرال رفيع، د خپلو ګوندي ملګرو له خوا هر ناانسانيت تجربه کړ، شکنجې، بېخوبی، وهل او ټکول، برقي شوکونه، توهين، تحقير، تهمت، جنسي تېري، د رفيع او کشتمند د اعدام تر سرحده، د تشنابو ستونزې، د خوب لپاره د ځای کمبود او تنګوالی، غيابي محاکمې، غيرعادلانه پرېکړې، اعدامونه، او نور او نور تجربه کړل. شکايتونه ليکي او بيانيې ورکړي، او د حقوق بشر غوښتنه کوي، کله چې دا ښاغلي د نورو په برکت او لطف او مهربانۍ له مرګه بچ او آزاد شول، په رژيم کې بيا واک ته ورسېدل، کشتمند لومړی وزير، رفيع د ولسمشر مرستيال، زېری او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوربندی همدا ډول. دوی د نظام په عدلي سیستم او د زندان په سمون کې هېڅ گام پورته نه کړ، بشري حقونه او بشریت یې هېر کړ.
چې وایي:« چیزی که به خود روا نداري، به دیگران هم روا مدار.» د (اگسا) د قصاب‌خانې مشر اسدالله سروري بیا هم په کابینه کې د کشتمند څنگ ته ځای ونیو. تر دې شعار لاندې چې: «تاریخ شا ته نه ځي!» مگر په نشو مست و.
کارگره طبقه هم هېره شوه، «کور، کالي، ډوډۍ» هم نور نو چا نه یادول. ادبیات هم وگرځېدل، یوازې د انقلابِ برگشت ناپذیر چیغې پورته شوې، د لېننېزم، او امپریالېزم او رهبرِ توانا، ستارهٔ شرق، اموزگار نورمحمدتره‌کي په شعارونو دېوالونه، څانگې او بازارونه لړلي وو.
اجتماعي عدالت یوه پلمه وه، رفیق کشتمند د کوچیانو په مقابل کې عقدې اړ ایست چې گوند ته وروښوېږي، که څه هم په اخر کې یې وویل: **(من هزاه موباشم او هزاره بودم!)** او د ده اوښی محمدطاهر بدخشی هم د گوند د موسسانو له ډلې څخه و چې له گونده وگرځېد. د فېدرېشن په هیله اخېر (ستمی) شو.
ځای لري چې یو څو ټکي نور هم ورزیات کړم: فرانسه په اروپا کې د کلتور په لحاظ ځانگړي خصوصیات او دودونه لري، چې د فرانسې نوم یې ورسره پیوندوي، لکه فرانسوی موډ، فرانسوی ږیره (مادم لوفرانسي) یا فرانسوي عشق او جنسي اړیکې او همجنسگرایي، چې په هغه وخت کې په نورو هېوادونو کې لا جرم بلل کېده. کله چې د مهاجرت سېلاب راغی، زما هموطن د خپل اخلاقي مرض په خاطر فرانسه انتخاب کړه، ځان یې همجنسگرا معرفي کړ او د دې مرض په خاطر یې خپل ژوند په خطر کې باله؛ ځکه چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی او په فرانسه کې پر همجنسگرایۍ بندیز نشته. دی د محمدطاهر بدخشي د مکتب پیرو دی، د فدرېشن تر نامه لاندې د ملي یووالي ضد دی، کله چې له بدخشانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسي جرګې ته کاندید شو، د خپل ولایت ولس ورته د «نه» ځواب ورکړ، بالآخره یې ولسمشرۍ ته ځان کاندید کړ. چا په کلي کې نه پرېښود، ده ویل چې آس مې د ملک کره ودروه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اکتوبر ۱۷مه

روسیه زموږ په ګاونډ کې پرته وه، د اکتوبر له انقلاب سره د منځنۍ آسیا هېوادونو په اشغال سره نوره هم رانږدې شوه. خواسته او ناخواسته کلتور، سیاسي او اقتصادي اغېزه یې محسوسه وه. روسانو هم افغانستان په خپل سیاسي حریم کې شمېره. کله چې د سړې جګړې په دوران کې د ناټو د پکټ په څنګ کې د شوروي د نفوذ په مخنیوي کې په خاصه د بغداد پکټ هم جوړ شو، ایران، عراق، ترکیې او پاکستان پکې ګډون درلود. چې دا پکټ وروسته د «سېنټو» په نامه ونومول شو. افغانستان خپله بېطرفي ساتله، د پښتونستان د موضوع او ستونزې په خاطر او د پاکستان د ګډون له کبله یې په دې پکټ کې ګډون ونه غوښت. هېواد نور شوروي ته له سیاسي لحاظه ورنیژدې شو. په دې ډول د شوروي تر سیاسي نفوذ لاندې راغی. د سېنټو پکټ کې د برتانیې او امریکا دواړو تر همفکرۍ لاندې و.

د ډیورنډ کرښې د هېواد ستونزې نه یوازې زیاتې کړې بلکې زموږ یوه لویه برخه خاوره یې راجدا کړې وه، بلکې د پښتنو لوی قوم یې هم نیم وویشه. روسیې به هغه وخت د پښتنو د دواړو خواوو (لر او بر) په ظاهره د یووالي دا ارمان کاوه، د دې حق پلوي او سیاسي حمایه یې کوله او د ډیورنډ منحوسه کرښه د حقوقي، بشري، تاریخي، کلتوري او طبیعت له مخې د منلو وړ نه بلله. ولې چې کرښه یوازې د تهدید او فشار له مخې یې ممکن د یوه لنډمهال لپاره پر عبدالرحمن خان لاسلیک کړه. اوبه په ډانګ نه بېلېږي. یوه ورځ به بیا سره یو شي. د پنجاب مخ به تور شي.

شمالي او جنوبي ویتنام سره یو شو. شرقي او غربي آلمان سره یو شو. شمالي او جنوبي یمن سره یو شو. داسې ورځ به راشي چې زموږ د هېواد بېله شوې ټوټه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېرته پیوند او وصل شي. اصل مطلب ته راګرځم.

په ۱۹۱۷ کال د اکتوبر په ۱۷ مه زموږ د ګاونډۍ روسیې په پراخه ځمکه کې یو لوی بدلون راغی چې دوی (د اکتوبر انقلاب) وباله، او (د شوروي جمهوریتونو اتحاد) یې جوړ کړ، خواسته او ناخواسته یې زموږ پر اقتصاد، کلتور، سیاست او امنیت اغېزه درلوده. له دې کبله د انقلاب ویروس افغانستان ته هم راورسېد.

دا مهال روسیه په فقر او بېچارګۍ، بېکارۍ کې ده او د تزار نیکولای حکمراني ده، داد او بېداد کوي، خلک پاڅون ته اړ شول، ټاکنې وشوې، یو ډېرې منځته راغی، چې په «بلشویکانو» یې شهرت وموند. نیکولای تزار د ولادیمیر ایوېچ لېنن ورور، چې د نظام مخالفت یې کاوه، ووژاه. لېنن آلمان ته وتښتېد. د آلمان د جاسوس په نامه پېژندل کېده. د هلمن کارادانکوس د کتاب «برادر بزرګ»، ۱۶مخ، چې «ژاله عالي جابي» ژباړلی دی.

که څه هم بلشویکانو اکثریت لاسته راوړی و، لېنن تر هغه زړه نشو کولای چې خپل هېواد ته د ننه شي، چې آلمان په زور اورګاډي ته ورټېله او روسیې ته ولېږه، چې د مخالفینو مل او وروسته یې د ټولو په سر کې قرار ونیو او د مارکسېزم فلسفه یې طرحه کړه او بېکاران، لنډغر، محرومه طبقه یې پر ځان راټوله کړه. د تزار پر کورنۍ باندې یې د پخوانۍ عقدې پر بنا برید وکړ، هغه یې د نر، ښځو او ماشونو سره ووژل او دې اقدام ته یې *د اکتوبر انقلاب* نوم ورکړ. کاریګري نظام او پرولیتاریا دېکتاتوري د سوسیالېست ګوند په نامه، ګوند جوړ کړ. چې وروسته هم پر ۲۹۰میلیونو نفوس یوازې د ۱۱میلیونو ګوندیانو له خوا حکمراني کېدله.

هر ډول اخلاقي، بشري، قانوني، دیني ارزښتونو ته یې شا کړه، پارلمان، قضا او حکومتي اداره ټول د ګوند په لاس کې وو. ګوند حق او هم عدالت د ټولنې د ګټو په نامه شخصي او فردي ټول حقوق بې ارزښته وبلل، اما دې نظام هم هغه د تزارانو له وخته د حرص او پراختیا هغه شوم ارمان وساته. د ۱۵ مختلفو قومونو لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاجک، ازبک، ترکمن، قزاق، اوکرايني، آذربايجاني، ارمنستاني، لېتوانيايي، ستونيايي، سپينې روسيې، گرجستانيانو او نورو ځمکې يې د تش په نامه جمهوريتونو په نامه مصنوعي او په جبر او اکراه «د شوروي جمهوريتونو اتحاد» په نامه په روسيه کې مدغمې او ګډې کړې.

د جمهوريتونو پر کلتور او دين ټولو سترګې پټې کړې، مارکسېزم هم کرار کرار په لېنېنزم بدل شو، چې په څرګند ډول يوه فاشېستي ايډيا ده؛ په هر جمهوريت کې يې خپل روزلي ګوډاګيان نصب کړي، په څنګ کې يې د مرکزي جاسوسې ادارې چيکا چې وروسته KGB ونومول شوه، ډېره فعاله او لوی واک يې په لاس کې ونيو.

لېنن واجب الاحترام شو او ټول قومونه تر يوه سور توغ (سور، څټک او لور لاندې) راوستل شول. دولتی او رسمي ژبه روسي ومنل شوه. خبرې يوازې د مځکې د سر د جنت وې. د پراختيا حرص او تودو اوبو ارمان پر ځای پاتې شو، چې خليج ته ورنږدې شي. په ۱۹۲۲ کال کې لېنن مړ شو، جسد يې موميايي شو او په کرېملېن مانۍ کې وساتل شو چې د نړۍ د ګرځندويانو په زيارتګاه بدل شو. د ده پر ځای جوزف ستالين راغی، چې تر ۱۹۵۳ پورې په واک کې پاتې شو، چې د تاريخ په شهادت د بشر په تاريخ کې په جنايتونو کې لومړی مقام لري.

د اکتوبر انقلاب يوه دوکه وه. لېنن د خپلو وطنوالو اختناق، نيولو، وژلو، بنديز، شاقه زندانونو ته دوام ورکړ او دا د اکتوبر د انقلاب ثمره وه.

کله چې په نولسمه او شلمه پېړۍ کې امپرياليزم او استعمار زور واخيست، لوېديځ هېوادونه په تېره اسپانيا، فرانسه، برتانيه هر يو لاس په کار شول په آسيا او افريقا کې يې د مستعمرې په نيت مځکې لاندې کړې او خپله ژبه او فرهنګ يې پرې وغوړاوه، ايټاليا، هالېنډ، بلجيم، ډېنمارک او نور واړه هېوادونه هم يو څه لاس ته ورغلل، روسيه يا د شوروي جمهوريتونو اتحاد لاس تر زنې او محروم پاتې و. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراختیا مخه یې ډب وه، کله چې دویمه نړیواله جګړه ونښته، شوروي لومړی د نازي آلمان اډولف هېټلر سره د دوستۍ قرارداد درلود، هغه هم ځای ونه نیو. د هېټلر تر برید لاندې راغی، له دې کبله چې اردو او ولس له ستالین څخه سم زړه نه درلود، مقاومت یې ونه کړ، نازیانو پېترس بورګ (لېنن‌ګراد) ونیو، مسکو ته هم ورنیژدې شول، درانه تلفات واوښتل، ګورباچوف دا تلفات کوم وخت ۲۶میلیونه وویل. متحدین (برتانیه، فرانسه او امریکا) د شوروي اتحاد ملګري شول، آلمانیان له شوروي څخه عقب‌نشینۍ ته اړ شول. د ختیځې اروپا په مځکو لکه پولېنډ، چکسلواکیا، بلغاریا، رومانیا، هنګري کې یې د نازیانو په پوځیانو پسې تعقیب کړل، دا مځکې له نازیانو څخه شوروي اشغال کړې، چې ان تر برلین پورې ورسېدل او د آلمان یوه برخه یې د شرقي آلمان په نامه هم تر خپل تصرف لاندې کړه.

په ۱۹۴۵کې د آلمان له ماتې سره سم متحدینو یو پوځي پکټ د (ناټو) په نامه او شورویانو په مقابل کې د (وارسا) د پکټ په نامه جوړ کړ. چې دا پکټ غړوندی و چې د هېوادونو په غاړه کې ولوېد. دا د لېنن امتیان شول او د هغه احترام پرې واجب و او دا هرڅه یې د اکتوبر د انقلاب تر سیوري لاندې راوایستل. د دوی سیاسي خپلواکي سلب او د مطلقې مستعمرې بڼه یې درلوده، استعماري ګټې یې ترې پورته کولې. د روسیې هر څه لکه انقلاب، لېننېزم، سرې لښکرې او وارسا پکټ واجب الاحترام وو.

روسانو د اکتوبر تش په نامه انقلاب د سوسیالېزم د ایډیولوژۍ د تطبیق په نیت د شوروي استعمار ته لار هواره کړه، چې پر درو ستنو (سوسیالېست ګوند، سور لښکر او KGB) ولاړ و:

۱ - د ګوند هرڅه په لاس کې وو. ګوند مهم و. ولس د ګوند په خدمت کې و، نه ګوند د ولس په خدمت کې. ګوند ته ننوتل هم خاص شرایط لرل. څه کم ۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلیونو گوندیانو د شوروي پر ۲۹۰ میلیونه نفوس باندې حکم چلاوه. د گوند تصمیم قانون و او حکم د محکمې د پرېکړې په شان و. اعتراض ځای نه درلود.
۲ - سرې لښکرې هغه اردو وه چې له نازیانو سره جنگېدلې وه. که څه هم سمې لاسته‌راوړنې یې په‌خپله نه درلودې، د نازیانو ماتې نور عوامل درلودل. شورویانو په ځان پسې هوایي ویاړونه ونښلول. لکه په افغانستان کې یې چې همت معلوم شو چې کوم برې یې ترلاسه نه کړ، په قاچاق او چور اخته وو، ډېر یې معتاد خپل هېواد ته ستانه شول. د «پټې توبې» کتاب په دې اړه ډېر موارد راوړي دي. تجهیزات یې کمبود او سم په نس ماړه نه دي.
۳ - KGB په گوند او په دولت کې تر ټولو مهمه اداره ده. هرڅه واک او امتیاز یې په لاس کې دی، په حقیقت کې KGB دولت دی. یا په بله معنا دولت په دولت کې دی، البته هره دیکتاتوره اداره د خپل مرام د تطبیق او مخالفینو د منځه‌وړلو لپاره داسې یوې ادارې ته اړه لري.
روسانو د خپلو امپریالېستي ارمانونو لپاره په کور دننه (د شوروي جمهوریتونو اتحاد) او په بهر کې سوسیالېست پکټ یا (وارسا) پوځي پکټ جوړ کړ.
دا یې په ټولو ومنله چې لېنن‌پرستي لومړی شرط او مهم شرط دی، لېنن واجب الاحترام دی. مارکسېزم په لېننېزم فاشېستي اېډیا کې مدغمه شوه او د اکتوبر انقلاب یې د یوه واقعیت په توگه ومانه. په دې لار کې کار هم وشو او د مغزشویۍ پروژې تطبیق شوې. له دې دوو اصولو سره مخالفت د سوسیالېزم او کاریگرې رژیم سره مخالفت دی. البته د سوسیالېزم په لار کې ډېره دولتي بودیجه او د بېچاره کاریگرانو سرمایه د دې خودخواهۍ لپاره له کیوبا نیولې تر چین او شمالي کوریا پورې مصرفېدله، په افغانستان کې هم د دوی پر مرستې باندې سترگې ډکېږي او د هېواد په عمراني پروژو کې یې د امریکا غوندې پوره برخه واخیسته، د بگرام او شینډنډ هوایي پوځي میدانونه، د نغلو او درونټې بندونه، د سالنگ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندهار-تورغونډۍ شاه راه کې او نورو کې. البته امریکا د کابل-کندهار لویه لاره، د کابل او کندهار هوايي میدانونه، د کجکي بند او د هلمند او ارغنداب کرنیزو پروژو مرستې د یادولو دي.

شوریانو په مرکو کې ښې جملې کارولې، په ډیپلوماتیکو جملاتو کې یې هم خاص مهارت درلود، چې د هېواد (افغانستان) مشرانو وربانديې باور وکړ. لکه دا به یې ویل چې «**دوه دوست هېوادونه له دوو مختلفو رژیمونو سره بیا هم دوستان دي.**» په ۱۳۳۹ کال کې زه (لیکوال) په خپله په دوه متری کې د لومړي وزیر سردار محمدداود خان او خروشچوف مرکې ته د چهلستون د ماڼۍ په دهلېز کې ځیر وم، چې خروشچوف وویل: **زموږ دواړو دوستي داسې روښانه ده لکه د افغانستان آسمان او داسې ټینګه ده لکه د هندوکش غر!** اما د دې شا ته شوم هدفونه وو. د سردار داودخان به پرې باور شو.

کومې پوځي مرستې چې راولېږل شوې، پوځي ماهران د سلاکارانو په توګه هم ورسره وارد شول، چې یو لوی شمېر به د KGB او GRU مامورین پکې وو او د پوځي زده‌کړو لپاره افغان پوځیان هلته جذب، استخدام او وروزل شول، چې وروستۍ کودتاوې د همدې کسانو په مټ ترسره شوې او په پوځي برخه کې د شوروي پوځي جاسوسې اداريGRU او KGB فعاله ونډه درلوده؛ چې واسیتلي مېتروخین د KGB پخواني مامور چې لندن ته پناه یوړه په خپل کتاب (KGB در افغانستان) کې ډېر مهم اسناد افشا کړي دي دا کتاب ښاغلي احمدضیاء رهګذر ژباړلی دی.

وايي: سیاست کې نه دایمي دوست شته او نه دایمي دښمن. شورویانو له سردارمحمد داود خان، امین، کارمل او آن له ډاکتر نجیب الله سره هم خیانت وکړ، خو دوی به د شوروي په دوستي ویاړل. مګر د قطبي خرس په دوستۍ باور کول، اشتباه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

به بهر کې د شوروي سوسیالیستي رژیم مخالفین هم ډېر وو او له دې امپریالیستي برنامو څخه هېوادونه په تنګ شوي وو، چین، اسپانیا او یوګوسلاویا که څه هم کمونیستي نظام منلی و، مګر د شوروي په اهدافو پوه وو. په کور دننه د شوروي (روسیې) مظلوم او بېچاره ولس هم په کړاو کې ژوند کاوه. د بدلون او سمون په نیت په ۱۹۵۷ کې لومړي وزیر نیکیتا خروشچوف طرحه وړاندې کړه او ستالین یې پس له مرګه محکوم کړ. په شلمه عمومي کنګره کې یې د ستالین جنایات افشا کړل، درې ځله یې په خپله هم وژړل. که څه هم له غونډې څخه خبریالان ایستل شوي وو، بیا یې هم بهر ته درز وکړ، د ختیځې اروپا ډېر سیاسیون چې سوسیالیزم ته متعهد وو، وګرځېدل.

په ۱۹۶۴ کې لېوبند برژنیف پر خروشچوف برید وکړ. دا هم اوږده دوره وه، نور زاړه کمونیستان په یو بل پسې راغلل او ولاړل چې وروسته په ۱۹۸۵ کال کې له اندروپیوف نه وروسته میخایل ګورباچوف د شوروي (۷) ولسمشر واک ته ورسېد، د زړو دېکتاتورانو دوران پایته ورسېد، ده هم د بهرنیو چارو وزارت کې نوې څېره خپل نیژدې او هم فکره *شیوارد نادزې* له ځان سره کړ. د سمون او بدلون په فکر کې شو. ده هغه نامتو طرحه (پرسترویکا) د یوه کتاب په ډول راوایسته. د کمونیستي محافظه کارانو له خوا له مخالفت سره مخ شو. سخت‌دریځو جدي موقف ونیو. د ۱۹۹۱کال د اګېسټ په میاشت کې پرې کودتا وشوه او دی د کودتاچیانو له خوا د ده د رخصتۍ په ځای کې تر نظارت لاندې شو. څه ټانکونه کوڅو او سړکونو ته راووتل. *بوریس یلسین* پخوانی کمونیست چې هم له کمونیزم او سوسیالیزم ګرځېدلی او څه مهال وړاندې یې *پولیت بیرو* ته هم استعفا ورکړې وه، رامخته شو. د هغو کسانو تر شا ودرېد چې د ټانکونو مخه یې په تختو او لرګیو ډب کړې وه او ځیني کسان پر سړک د ټانک مخ ته پرېوتل. د کودتاچیانو له فشار سره هم ګورباچوف استعفا ته حاضر نشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يلسين د ټانګ سر ته پورته شو او بيانيه يې ورکړه او پر پوځ يې غږ وکړ، چې «له خپل ډسپلين سره په قشله کې پاتې شئ!» پوځيانو ومنله او کودتا ناکامه شوه. دا انقلاب و او د ولس پاڅون څرګنده کړه چې د اکتوبر انقلاب غلط و. افغاني لېنينستان خپه وو او پر ګورباچوف يې نفرين وايه.

د ۱۹۹۱ د ډېسمبر په ۲۵مه ۱۵ جمهوريتونو خپلواکي لاسته راوړه له روسيې څخه خپلواک شول، د روسيې نوم بيا ژوندی شو، د سره شوروي سور بيرغ راکوز شو، پر ځای يې د روسيې ملي بيرغ (سپين، آبي، سور) په رپېدو شو.

د لوی لېنن جسد د کرېملېن له ماڼۍ وايستل شو، تر بحث لاندې و، چې څه به وکړي، د ستالين قبر خو له پخوا لرې شوی و. د لېنن مجسمې ونړېدې. لېننګراد بېرته پېترس‌بورګ شو. په ختيځ آلمان کې کوم ښار چې د «مارکس» په نامه و، هغه هم بېرته شو، مارکسېزم او لېنينېزم تاريخ ته وسپارل شول او له دې طاعونه نړۍ په امان شوه. د مځکې د سر جنت واقعيت ونه‌موند، سره جګړه ختمه شوه، د «وارسا» پکټ منحل شو، د برلين دېوال ونړېد، د ولسونو ارمانونه د ډموکراسۍ په لار کې پوره شول، د شوروي کړاونه ۶۹ کاله وروسته ختم شول.

يلسين منتخب ولسمشر شو او په نړۍ کې يې د مارتين لوترکېنګ غوندې يو ستر بدلون راوست. ګورباچوف د نوبل په جايزه تقدير شو. د تزار نيکولای کورنۍ چې د اکتوبر په انقلاب کې وژل شوې وه، په دولتي مراسمو خاورو ته وسپارل شوه.

لکه سردار محمد داود خان او کورنۍ يې چې په ډېره بې‌رحمۍ د غويي د کودتاچيانو له خوا شهيدان شوي وو، څو کاله وروست همدا ډول د ولسمشر حامدکرزي له خوا له خاورو نه راوايستل شوه او په اسلامي او دولتي مراسمو سره يې د دارالامان په غونډۍ کې په عزت خاورو ته وسپارله.

کارل مارکس يهودی عقده‌من چې لوړې زده‌کړې يې هم نه وې کړې، په ۱۹۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال کې د شوروي د مرکزي کمېټې له خوا افتخاري دکتورا ورکړل شوه. له آلمانه تبنتېدلی و او په برتانيه کې يې ژوند کاوه. نور هېر شو، تيوري يې غلطه او باطله راووتله، چې نه عملي وه او نه علمي. مګر افغان مارکسېستان اوس لا هم د مارکس پر (...؟) شخوند وهي. البته نړۍ هم د افغان ولس مقاومت او د مجاهد قرباني او مېړانه د دې مافيايي رژيم په ختمولو کې اغېزناکه بولي. ځينې وايي چې د غويي انقلاب اشتباه و، مګر اصلي اشتباه د اکتوبر انقلاب و.

د دې کتاب په ډېرو ځايونو کې *د شوروي جمهوريتونو اتحاد* پر ځای د *روسيې* نوم په شعوري ډول کارول شوی دی. ځکه چې «اتحاد شوروي» نوم حقيقت نه درلود، هر څه چې وو، روسيه وه. دا نور قومونه يوازې په نامه او محکوم وو. کله چې وخت راغی، هر يوه خپله لار ونيوله، نه شوروي پاتې شو او نه اتحاد.

نور نه د اکتوبر تجليل کېږي او نه د چنګاښ او غويي، يوازې د مړو تجليل کېږي، کله د نجيب کله د مارتوف په نامه سره څو ځپل شوي لېنينېستان سره راټول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## KGB

**«ښه کمونیست ښه چیکیست دی!»** لېنن

KGB په نړۍ کې د جاسوسۍ یوه غښتلې اداره ده چې فعالیتونه یې نړیوال شهرت لري، رژیمونه راولاړوي او رژیمونه پرځوي. زموږ د هېواد په وروستیو بدلونو کې یې مهم نقش درلود.

د دې ادارې موازي اداره GRU هم دا ډول فعاله اداره ده، چې په پوځي برخه کې دنده لري. کله کله د دوی دا ادارې له یوې بلې سره په سیالۍ کې دي. د افغانستان په کودتاو کې GRU هم فعاله وه او په کودتاو کې یې لوی لاس درلود. د ظاهر طنین د کتاب (افغانستان در قرن ۲۰) په حواله، صبورالله سیاسنگ په «د پسرلي سباوون او د گولیو باران» کتاب کې د افغان پېژندونکي امریکایي ستېپک هربېسن له قوله راوړي دي چې د ۱۹۷۳ او ۱۹۷۸ کودتاوو کې KGB او GRU لوی لاس درلود او دا مطلب ستېپک هېربېسن په خپل کتاب «پر افغانستان د شوروي د یرغل د پردې شا ته حقایق» کې راوړی دی، چې GRU لا پخوا یو پټ انقلابي سازمان جوړ کړی و.

«په افغانستان کې طوفان» د جنرال الېکساندر لیاخوفسکي کتاب د عزیزآریانفر ژباړه کې د جنرال قادر له خولې هم د یوه پټ پوځي سازمان د جوړېدو بیان راغلی دی. (د پسرلي سباوون او د گولیو باران) کتاب هم چې د بېنوا وېبپاڼې کتابتون په ۲۲ گڼه کې راغلی دی، دې شوم فعالیت ته گوته نیسي.

دوی په  هر هېواد او هر نظام کې د راپورونو راټولو لپاره مهمه اداره لري. له دویمې نړیوالې جگړې نه راپه‌دېخوا د دې ادارې اهمیت ډېر شوی دی. په دېکتاتوري هېوادونو کې د دولت لاس او پښه وي. دا اداره د نظام د ټینگښت لپاره کار کوي او د دولت او نظام دښمنان په گوته کوي، د دېکتاتورانو د شخصي مخالفینو په له منځه وړلو کې هم پوره نقش لري. کړنې یې په خاص مهارت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

امکاناتو سره مرموزې او محرمې وي. واک یې ډېر وي، مادي او نور امکانات یې هم په لاس کې وي. په هېوادونو کې چې د قانون حاکمیت پکې کمزوری وي، دا اداره هم د شخصي تسلط لپاره کارول کېږي. د دندې ساحه یې پراخه وي، د دې ادارې د کنټرول او تفتیش لپاره بله اداره نه وي او نه چا ته جوابګویه وي.
دې ته د کمزوري وجدان لرونکي جذبېږي چې د پردي هېواد په ګټه او د خپل هېواد په زیان کار کوي. د GRU او KGB ځواک او قوي تشکیل د استخدام شوي پرسونل (جاسوسانو) او د هغو کسانو په دولتي او اجتماعي موقف پورې اړه لري. مثلاً که یو جنرال یا یو وزیر استخدام شوی وي، له یوه کاتب او یا یوه بریدمن سره توپیر لري. KGB هڅه کوي چې د خپلو استخدام شویو کسانو لپاره کار وکړي او زمینه ورته برابره کړي، چې لوړ او مهم مقام ته ورسېږي.
د مامورینو ټاکنه یې هم خاص دقیق شرایط لري. د شوروي د نظام ټول جنایات او بشر ضد اعمال د دوی مهارت، تکتیک او اعمال دي، د شوروي مظلوم ولس مستقیم یا غیرمستقیم د KGB تر رواني فشار لاندې دی؛ تعقیب، نیول، شکنجه، وژل، له کاره ایستل، تبعیدول د KGB کار دی. هرې خوا ته اوږده لاسونه لري او د لوړ اعتبار اداره ده. ستالین خپل ټول جنایات د همدې ادارې له لارې عملي کړل. په بهر کې احوال راټولول، د مهمو کسانو پېژندل او د هغو سیاسي، اجتماعي او اقتصادي وضع تشخیصول او ثابتول، سبوتاژونه او غلط راپورونه خپرول [(داود خان د کې جي بي په لومو کې) په دې هکله یو کتاب خپور شوی دی چې د سردارمحمد داود خان د واکمنۍ په وخت کې له ځینو پېښو څخه پرده پورته کوي.]، ترورول، بالآخره خپل پلوي او ګوډاګي رژیمونه منځته راوړل، کودتاوې تنظیمول، مخالف رژیمونه تخریبول او د هغو په کورنیو چارو کې لاس وهل، جاسوسان استخدامول او روزل. په نړۍ کې د تر ټولو بدنامه او بشري ضد اعمالو پېژندل شوې اداره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاسوسي کول د ملي خیانت معادله ده. معمولاً هغه کسان جاسوسي ته تن ورکوي چې دا خصوصیات ولري:

۱. کمزوری وجدان،
۲. د ټیټو اخلاقو خاوندان،
۳. له حکومت یا دولته ناراضه،
٤. د څوکۍ یا پیسو وږی،
۵. محرومه طبقه یا عقده‌من قشر،
٦. د ایډیولوژۍ او یا د پردي هېواد د ایډیولوژۍ پلویان. (ما له ډېرو خلقیانو په ویاړ اورېدلي دي چې کمونېست یم مګر KGB نه یم. دا طبقه د عقیدې پر بنا جاسوسۍ ته حاضرېږي او راپور نه ورکوي.) په لومړي سر کې ورته سخته وي، بیا ورته عادي شي.
۷. په جال کې راوستل یا تهدیدول،
۸. مهم ولسي یا اجتماعي کسان چې د جاسوسۍ ادارې له خوا تشخیص شي، د هغو د شخصي اخلاقو د کمزورتیا مستندسازي کوي، چې د هغو په افشا کولو یې تهدیدوي، نو هغه کسان د افشا په صورت کې د مقام له لاسه ورکولو، یا شهرت ته د زیان رسېدلو له ډاره جاسوسۍ ته حاضرېږي.

کوم کسان چې د مارکسېزم او لېنېنزم د افکارو تر اغېزې لاندې دي او د دې ایډیولوژۍ پیروان دي. جاسوسي ته په اسانه ډول چمتو وو. ځینې د مقام په خاطر. مېتروخین یو لېست افشا کړی دی، ځینې پېژندل شوي او ځینې لانه دي پېژندل شوي، چې د کتاب په پای کې رانقل شوی دی.

لېنن کبیر (د خلقیانو په اصطلاح) ویلي وو چې: سم لېنېنست سم «چیکا» دی.

په هغو هېوادونو کې چې قانوني حاکمیت پیاوړی وي، لکه دولتي او نورې ادارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پارلمان په کنټرول کې وي او د دې ادارې د کنټرول او سمون لپاره هم پارلماني کمېسیون لري، البته څه نسبتاً خاص او محرم.

د رضا شاه په وخت کې (ساواک) اداره په ایران کې د سلطنت د بقا لپاره سترګې، غوږ او هم لاس وه. د دې ادارې واک په اضطراري حالتونو او یا د جګړې په وخت کې ډېر وي. اسرائیل له دې کبله چې د (Plo) فلسطین له جنیګیالیو سره په جګړه کې دي، جاسوسه اداره (موساد) یې هم پراخ واک لري.

په امپریالېستي هېوادونو کې هم دا اداره فعاله او واکمنه وي. د امپریالېستي هېوادونو د اهدافو لپاره دا ادارې فعاله وي، لکه KGB یا CIA، د اسرائیلو څارګره اداره *موساد*، ساواک. د پاکستان ISI او د هند RAW اداره له دې کبله چې د کشمیر د مسألې سره لاس و ګرېوان دی، د افغان جهاد په هغه وخت کې اړین و، چې ISI اداره پیاوړې وي.

په ډموکراتو هېوادونو کې د دې ادارې دنده څرګنده او ثابته وي. معمولاً د قانون او دولت د دښمنانو مخنیوی کوي او د پردیو جاسوسي عملیاتو د شنډولو دنده لري، مګر په پوځي او خودسره نظامونو کې یې د فعالیت ساحه زیاته وي او د دولت او ولس پر ټولو اړخونو، ژوند او شخصي کاروبار یې هم سیوری غوړولی وي، لکه KGB. هدف یې څرګند دی، د لېنینېزم پراختیا او په دې ډول تر دې مفکورې لاندې خپل امپریالېستي او استعماري اهداف مخته وړل. دا پروژې معمولاً اوږدمهاله وي. لومړی دوستي پېش کړي، مرستې کوي، ورپسې جذب او استخدام، بیا روزنه او د راپورونو راټولول، تر دې وروسته پروپاګند او تبلیغات خپرول، سبوتاژ، ترورونه، د خپلو اېجنټانو په ګټه فعالیت کول، هغه حمایه کول او واک ته رسول، بالآخره په کور دننه لاسوهنه لاس پورې کوي. خپل اعتمادیان لوړ مقام ته رسوي، لکه په موږ کې یې هم یو خورد ضابط وزارت او سفارت ته لوړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د CIAکار د خبرونو راټولول او له امریکا بهر د جاسوسي فعالیت لرل دي، او په کور دننه بیا FBI فعاله ده چې د قانون او دولت ساتنه یې پر غاړه ده. د شوروي په کور دننه او بهر کې د KGB دنده ده. په تشکیل کې یې رسمي او غیر رسمي ماموران (ایجنټان) په لوړه پیمانه استخدام شوي.

KGB ان دولت ته د سیاسي استقامت لارښوونه کوي. د وخت د افغانو دولتونو هیڅ هم له شوروي څخه پټ نه وو، سیاسي تګلاره بې له هغه څرګنده وه او په غیرمنسلکو هیوادونو کې یې غړیتوب درلود چې د شوروي د تائید وړ و. په پوځي، اقتصادي او اداري برخو کې هرڅه مشاور ګفته په لاس کې وو، پوځیانو هلته مسلکي روزنه لیدلې وه. چې دا هم د KGB محصول و، ځینې پېژندل شوي د وخت لوړپوړي مامورینو له خوا د شوروي په ګټه جاسوسان تحمل کېدل. یعنې بې‌خبره یې بلل او یا یې نه غوښتل له شوروي سره په دې پلمه مناسبات خراب کړي.

کله چې واسیلي مېتروخین د KGB د آرشیف پخوانی مسؤول له شپږو بوجیو پټو اسنادو سره په ۱۹۹۳ کال لندن ته وتښتېد، هغه اسناد یې په څو کتابونو کې خپاره کړل، چې په نړۍ کې د ډېرو خلکو د تعجب وړ دي او خوښېږي یې، د هغو کتابونو په لړ کې یو «ک، ج، ب در افغانستان» دی، چې د KGB له ځینو کړنو څخه یې پرده پورته کړې ده، د شوروي شوم نیت او اعمال راښیي. په ۲۹۷-۳۰۳ مخونو کې یې په استخباراتي برخه کې د دې ادارې او په پوځي برخه کې د GRU جاسوسي ادارې د «۱۱۰» تنو استخدام شویو جاسوسانو نومونه خپاره کړي دي، او اصلي څېرې یې برملا کړې دي، چې دا رمزي او ایجنټي نومونه دي، چې په جاسوسي ادارو کې کارول کېږي. ځینې یې مشهور او پېژندل شوي او ځینې یې تر اوسه پټ او ناپېژندلي پاتې دي. څرنګه چې مېتروخین په KGB کې مؤظف و نو د GRU جاسوسانو ته یې لاس نه رسېده، ځکه د یو شمېر نومونه پټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتي دي.

پېژندل شوي کسان له پټو جاسوسي او رمزي اېجېنټ نومونو سره دا دي:

۱. *نور* وروسته *دیدوف* (نورمحمد تره‌کی) په ۱۹۵۱ کې استخدام شوی (ک، ج، ب در افغانستان، ۳۳مخ).

۲. *مرید* بیا *مارتوف* (ببرک کارمل) په ۱۹۵۷ کې استخدام شوی (همدا کتاب، ۳۴مخ).

۳. *شېر* (محمود بریالی) (همدا کتاب، ۲۹۸مخ).

٤. *پېروز* (جنرال رفیع) (همدا کتاب، ۲۹۷مخ).

۵. *کاظم* (حفیظ الله امین) (همدا کتاب، ۲۹۷مخ).

٦. *عثمان* (جنرال عبدالقادر) (همدا کتاب، ۲۹۷مخ).

۷. *فتح* (جنرال صمد اظهر) (همدا کتاب، ۲۹۷مخ).

۸. *پیرس* (شاه محمد دوست) (همدا کتاب، ۲۹۷مخ).

۹. *اکبر* (فیض محمد) (همدا کتاب، ۲۹۹مخ).

۱۰. *ریچارډ* (دستگیر پنجشېری) (همدا کتاب، ۲۹۹مخ).

۱۱. جنرال قادر د خپل کتاب «خاطرات سیاسي» په ۴۰۰مخ کې *غلام مجدد* (سلېمان لایق) د روسانو اصلي مهره بولي.

۱۲. د عبدالوکیل په هکله ببرک او نجیب دواړو په دې حقیقت گومان درلود چې KGB استخدام کړی دی (ک،ج،ب در افغانستان، ۲۳۹مخ).

۱۳. مامد (سیدمحمد گلابزوی) (ک،ج،ب در افغانستان، ۴۸مخ).

زه به هم د دې کسانو په هکله هغه د KGB له نومونو کار اخلم، کوم چې KGB ورکړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما خپل د سترگو حال: کله چې به زندانیانو د پوښتنې لپاره د دوی په کوټو کې د لیدو لپاره گرځېدم، په یوه کوټه کې به لس تر دوولسو تنو پورې ځای پر ځای شوي وو، له معمول سره سم به مې له هر یوه څخه د جرم او د قید تپوس کاوه، هغه کاکه او عیاري مجرم به خپل جرم په لوړ اواز قطاع الطریق او هغه بل به خپل جرم قتل ووایه.

مگر دوه تنه وو چې خپل جرم به یې نه وایه، سترگې به یې ټیټې واچولې، ملگرو به یې ووېل چې: د ده جرم سیاسي دی، یعنې جاسوسي ده. او هغه د بل ملگري چې به یې جواب نه و ویلی: د هغه کورنی جرم دی، یعنې په فحشا تورن شوی دی. مطلب چې جاسوسي په جرمونو کې تر ټولو ټیټ جرم دی.

ډاکتر نجیب او اسدالله سروري په داسې مهم پوست کې وو چې که د روسانو سړي نه وي، ناممکنه ده. دواړه په ټولنه کې منفور دي چې نجیب په «گاو» مشهور و او سروري د قصاب په نامه مشهور و، چې دواړه پر ډېرو وژنو تورن دي.

زه به هم په راتلونکو لیکو کې د دې انقلابیانو د KGB ورکړل شوي اېجېنټ نومونه کاروم.

د پام وړ ده چې ځینې کسان لکه محمدخان جلالر، نعمت الله پژواک او شاه محمد دوست په هر رژیم (شاهي، جمهوري او خلقي)کې مطرح وو او له بل ځایه یې دستور اخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## افغاني انقلابونه

له نیمي پېړۍ را په دې خوا په افغانستان کې تشنج، انقلابونو، کودتاو د نړۍ د مطبوعاتو سرخطونه جوړ کړي، کورني سیاسیون او لیکوال چې د ځینو کسانو کتابونه زما لاس ته راغلي او یا ما لوستي، پېژندل شوي کسان دي. مګر دا چې شکر موږ مسلمانان یو، دروغ، د یوې او بلې خوا پلوي، انحراف، د ځان درنه او د بل سپکه راوړي دي.

اما کوم کتابونه چې نورو او یا روسي سلاکارانو او جنرالانو په بشپړ ډول بې پرې او د واقعیتونو پر بنسټ لیکلي دي او د دوی د سترګو لیدلی حال یې پکې خپور کړی دی، د باور وړ دي. که څه هم افغان ولس هر روسي ته د دښمن په سترګه ګوري، خو بیا هم په دې کتابونو کې غټ توپیر لیدل کېږي، لکه زموږ د انقلابونو اتلان، چې دا انقلابونه په ځان پورې تړي، یو د *سپېده دم قوماندان* او بل د *انقلاب رهبر* شي.

دا انقلابونه د ملي پاڅونونو په شان نه وو، بلکې دا وارداتي انقلابونه وو، چې د جاسوسي فعالیتونو نتیجې وې. استخباراتي ځانګو نیالګي کېنول او تخمونه یې وپاشل، چې په کلونو کلونو یې په دې لار کې د خپلو اوږدمهالو موخو لپاره کار کړی و.

استخباراتي اسناد محرم او پټ وي، لاس ته راوړل یې ګران او کله ناممکن وي، کله کله تصادف خپل کار وکړي او یا یو ویښ وجدان د آرامتیا لپاره یوې ماجراجویۍ ته لاس واچوي، چې په دې ډله کې یو ښاغلی مېتروخین دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کودتاو تر شا هدفونه

افغانستان د جغرافيايي موقعيت له مخې او د ليوبند برېژنېف دکتورين د پراختيا له پلان سره د شوروي جمهوريتونو د اتحاد د نفوذ په حريم کې پروت و، د افغانستان هر بدلون ته يې پام و، قراين او حالات داسې څرګندوي:

۱ - کله چې شهيد محمدموسی شفيق غوښتل دا موجوده بلاتکليفه حالت له ګاونډيانو سره يو طرفه او د يوه باور فضا رامنځته کړي، لومړی يې له لوېديځ ګاونډي سره د هلمند د سيند موضوع فيصله کړه، ورپسې يې له پاکستان سره د بلوڅو او پښتنو او بالآخره يې د ډيورنډ فرضي کرښې ته ملي روحيه په پام کې ونيوه. د چنګاښ ۲۶مه پرې راورسېده، واک سردار داود په لاس کې ونيو، د کودتا ورسره ملګري چې ډېر يې په شوروي کې روزل شوي وو، او په دې توګه هرڅه ختم شول.

۲ - کله چې سردارمحمد داودخان نور د شوروي له لاسوهنو او د دوی له روزل شوي اسلم وطنجار، قادر او نورو څخه تر پوزې راغی، د خپل بهرني سياست د بدلون نيت يې وکړ؛ مصر، يوګوسلاويا، ايران، ليبيا او پاکستان ته ولاړ، د غوبي د اوومې اتلانو وار پرې د مخه کړ، هر څه په ټپه ودرېدل.

۳ - حفيظ الله امين هم نور پر شوروي ملګرو باور نشو کولای. غوښتل يې خپلواکه لار ونيسي، او د هېواد خپلواکي وساتي. هڅه يې وه، له پاکستان سره د مهاجرينو ستونزه حل کړي. په پټه يې امريکا ته لاس ور اوږد کړ. څوک لا دا هم وايي چې حکمتيار ته يې مراجعه کړې وه. روسيه هم پرې بدګومانه شوې وه، چې نه چې د مارشال ټيټو لار ونيسي؛ چې د مرغومي شپږمه پرې راورسېدله. دا طرحه هم په نطفه کې خنثی شوه. دا انقلابونه ټول وارداتي وو او ولسي او مردمي جنبه يې نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گوند

«**با دشمنان طبقهٔ کارگر آشتي ناپذير باشيد!**» د گوند مرام او هدف

انتخاب شوي کسان لومړی KGB ته استخدام، بيا گوند ته راهنمايي او بيا سر ته پورته کړل شي.

زمينه برابره شوه چې د **۱۳۴۳** کال په اساسي قانون کې ډموکراسي ومنل شوه، د مطبوعاتو آزادي، آزادۍ ټاکنې، د قواو تفکيک او د گوندونو پيش‌بيني پکې راوړل شوه.

له اساسي قانون څخه په گټې اخيستلو سره د افغانستان کمونستانو چې تر هغه وخته پورې يې پټ او نيمه‌پټ فعاليت درلود، جلب او جذب ته يې دوام ورکړ او د «کور، کالي، ډوډۍ» شعار يې راپورته کړ او دا د گوند تعهد و:

«هر کسی‌که به عضويت ح.د.خ.ا. پذيرفته می‌شود، بايد تيوری مارکسيستی، لينينيستی را فراگيرد.

نسبت به دشمنان طبقه کارگر آشتی ناپذير باشد.

وروسته يې مرگ پر فيوډالېزم او مرگ پر امپرياليزم پر «کور، کالي، ډوډۍ» ورزيات شول. له پروليتاريا، دکتاتورۍ او ملي او ديني او نورو بشري او اخلاقي ارزښتونو سره د جنگ اعلان او شوروي ته د وفادارۍ اعلان هم پکې ليکلی و.

لېنن ويل چې **په هر هېواد کې د کمونېستي نظام يوه څانگه ده او تنه يې د شوروي جمهوريتونو اتحاد دی، نو که څانگه له تنې غوڅه شي، اورمرو به وچه شي!** همدا وجه وه چې د يوگوسلاويا، البانيا او چين سره دښمني درلوده.

گوند ته جذب او روزنه خو پخوا پيل شوې وه او KGB هم له پخوا راهيسې فعاليت درلود. د گوند تشکيل ته چمتووالي درلود.

اصلي سرداران روسان وو. کمونېزم او مارکسېست مفکوره بسنده نه وه، پر لېنن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایمان ضرور و او د خپلې ایډیا محور باید د اکتوبر انقلاب وای. رفیق ببرک او رفیق نجیب به هم په خپلو بیانیو کې د اکتوبر انقلاب او لېنن نومونه د خوند او درندوالي او ارزښت په توګه راوړل. دا بیانیې به روسي سلاکارانو لیکلې او یوازې ویل یې پر دوی وو.
مقرری او ځای پر ځای کول هم د KGB په لاس وو. د سپټمبر له ۱۱مې وروسته دا رول امریکا په لاس کې ونیو. ناپېژندل شوي به د پراشوټ په توګه هم راباندې راشېوه شول، چې ډېر یې د NGO کسان وو، چې دوی ته د اعتماد وړ وو.
په لومړیو کې د ګوند غړیو په خپل منځ کې هم له غیرضروري پېژندګلوۍ څخه ډډه کوله، لیدنه او کتنه یې هم د یوې جاسوسې ادارې په توګه وه. ګوند مطلق د یوې جاسوسې شبکې په بڼه و، چې تر خپله وسه به یې ځان پټ ساته، که به یې ایډیولوژیک فعالیت کاوه، مطلب به یې په یوه بې‌طرفه ډول د خپل نظر په توګه بیاناوه.
که څه هم د ګوندونو قانون لا نه و پاس شوی، د دې ګوند لومړۍ کنګره د نورمحمد تره‌کي د شېرشاه مېنې په کور کې د **۱۳۴۳**کال مرغومي په ۱۱مه د ۳۰ تنو له خوا وشوه د ګوند بنسټ کېښودل شو او لومړۍ ګنګره ونومول شوه، دوی بېرون خلقیان بلل کېدل خو په اصل کې لېننېستان وو.
فعالیت تر اندازې پټ ساتل کېده، ځانونه به یې دموکرات معرفي کول، وروسته د پرولیتاریا تر نامه لاندې دېکتاتوران شول.
د ګوند فعالیت د KGB تر نظر لاندې و او فعالیتونه یې د جاسوسۍ پر اصولو روان وو. لېنن ویلي وو، **سم ګوندي هغه دی چې سم چیکېست وي**. د (مېتروخین) د کتاب په حواله تره‌کی، امین، ببرک، نجیب، قادر، محمود بریالی لا پخوا KGB استخدام کړي وو. په لومړۍ کنګره کې دغو کسانو غړیتوب درلود:
عبدالقیوم قیوم، عطامحمد شېرزي، غلام محی الدین زرملوال، محمدظاهر افق،

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمداکرم کارگر، سلیمان لایق، سیدنورالله کلالي، عبدالحکیم هلالي، عبدالهادي کریم، ملا عیسی کارگر، محمدحسن بارق شفیعي، نوراحمد نور، نورمحمد تره کي، ببرک کارمل، محمدطاهر بدخشي، دستګیر پنجشېري، شهیدالله شهر، سلطان علي کشتمند، صالح محمد زېري، دکتور شاه ولي، عبدالکریم میثاق، دکتور محمدظاهر، عبدالوهاب صافي، آدم خان ځاځي، انجینر خالیار، سیدعبدالحکیم شرعي جوزجاني، عبدالله ځاځي، داکتر اناهیتا، میراکبر خیبر (د عبدالوکیل کتاب، از پادشاهي مطلقه الی سقوط جمهوریت دموکراتیک افغانستان، ۴۰مخ).

نورمحمد تره کی د ګوند مشر او ببرک کارمل مرستیال وټاکل شو. آدم خان ځاځی په خپله له ګونده ووت. کله چې حفیظ الله امین د ګوند غړیتوب تر لاسه کړ، طاهر بدخشی او محمدظاهر افق د ده د خشن چلند له کبله له ګونده ووتل، مګر کمونیست پاتې شول. ظاهر افق هاخوا دېخوا وګرځېد او د انتقادیانو په نامه یې یوه ډله جوړه کړه او ظاهر بدخشي عقده واخیسته (ستمی) شو، کریم زرغون هم له ګونده ووت.

په ګوند کې ژر انشعاب راغی، او د خلق او پرچم په نامه سره بېل شول. په حقیقت کې مرام او هدف یو و. دا انشعاب ممکن تکتیکي و، ولې چې په ۱۳۵٦ کې بیا یووالی تامین شو. په هغه وخت کې د ګوند د اصلي غړیو شمېر تر ۳۰۰ تنو نه اوښت (ک، ج،ب در افغانستان، ۳۴مخ).

یوه ډله د خلق په نامه چې مشر یې نورمحمد تره کی و، او بله ډله چې مشرتابه یې د ببرک کارمل په لاس کې وه، ګوندي فعالیت دوام درلود. د ببرک ډلې د پرچم په نامه ورځپاڼه د میراکبر خبیر په مدیریت چاپوله، نو ځکه پر دې ډله د پرچم نوم پوخ شو. خلقیانو خپل نوم وساته، د بارق شفیعي تر مدیریت لاندې یې د (خلق) ورځپاڼه تر پینځو ګڼو وروسته منع شوه، ګرچې ظاهر افق د بلې ورځپاڼې وړاندیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ چې حکومت ونه مانه. ګوند کرار کرار پیاوړی کېده او شهرت یې وموند، بازار ته راووتل، دلته او هلته غونډې کېدې، د کب دربیمه د مې لومړۍ ورځ (د نړیوالو کاریګرانو ورځ) او د وړي نهمه (د پښتونستان ورځ) په مظاهرو او لاریونونو سره استقبالېده او خپل نظم او ډسپلین به یې په ننداره کېښودل، له پولیسو سره به یې کله کله ټکرونه راتلل او په سپین سترګۍ به ورسره لاس او ګرېوان وو او د حکومت له خوا به زغمل کېدل.

یوازینۍ مقابله د اسلامي ډلې (جوانان مسلمان) وه چې جدي مقابلې ته ورته ولاړ وو. د KGB خپل ګوند و، خپل نور جاسوسان لکه دستګیر پنجشېری چې اېجېنټ نوم یې (ریچارډ) او محمود بریالي اېجېنټ نوم (شېر) په ګوند کې فعالیت کاوه.

د ګوند مصارف د KGB له خوا تادیه کېدل (مېتروخین، KGB در افغانستان). د داکټر یوسف د رای اعتماد په مقابل کې محصلینو مظاهرې وکړې او د عقرب په ۳ مه درې تنه له پولیسو سره په نښته کې ووژل شول چې ډاکټر یوسف استعفا ته اړ شو.

تر ډاکټر یوسف وروسته محمدهاشم میوندوال لومړی وزیر شو چې یو کال وروسته د یوې امریکایۍ ورځپاڼې د (ارمپاتس) د یوه مضمون د لیکوال چې په افغانستان کې د CIA جاسوسان په لوړو کرسیو کې دي، د خپرېدو په خاطر د یوه غوغا جوړه شوه، چې دا هم د KGB یوه توطیه وه، میوندوال د ناروغۍ په پلمه استعفا وکړه. له ډموکراسۍ څخه په ګټه داسې شورماشور ته به خلقیانو لمن وهله.

نوراحمد اعتمادي چې لومړی وزیر شو، تر یوې اندازې یې تفاهم درلود، په تېره له پرچم سره، خو بیا هم رواني ناروغي ورته پیدا شوه او استعفا یې وکړه.

ډاکترمحمدظاهر خان مخ ته راغی، ګذاره یې وکړه، نه دی خوښ و او نه ولس، نو یې د کورنیو ستونزو او د ولسي جرګې د کشمکش له امله استعفی ته ترجیع

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړه. تر ده وروسته د ده د بهرنيو چارو وزير محمدموسی شفيق لومړی وزير شو. نور ټولو ته دا څرګنده شوه چې د دې ټولو نا‌آراميو سبب چپيان او د خلق ګوند دی. پينځه لومړي وزيران په يو بل پسې په لنډ وخت کې بدل شول. شفيق پُرتحرک او په اصطلاح عملګرا.

د شوروي د جاسوسی دستګاوې، په سياسي برخه کې KGB او په پوځي برخه کې د استخباراتو پوځي څانګه GRU، فعالې شوې. ګوند ته مستقيم هدايتونه رسېدل چې څه بايد وکړي او څه نه.

جنرال الکساندر مايروف په خپل کتاب کې دا هم راوړي دي چې په لومړيو کې هدايت دا و چې ګوند خپل ټول فعاليت د قانون په چوکاټ کې برابر کړي، چې په اسلامي ټولنه کې حساسيت پيدا نشي.

د ډموکراسی د لسيزې له ډاکټر ظاهرخانه بغير نور درې واړه لومړي وزيران لکه ميوندوال، اعتمادي او شفيق که څه هم چې د غوايي له کودتا سره مخالف ثابت نه وو، شهيدان شول، چې د سر څوک پاتې نشي.

خلقيانو، افغاني ټولنه په څلورو کټګوريو وېشلې وه، انقلابيان (ګونديان)، خوش‌بينان، بېطرفان او مخالفان.

بېطرفان بايد جذب شي او يا په همدې حالت هم سم دي، چې وسائل شي، چې ضرر نه لري، پر خوشبينانو کار وشي، مخالفان دښمنان دي، انقلابي برخورد ورسره وشي او وځپل شي.

ګوند او شوري په دې پوهېدل چې لکه د ډموکراتيکو هېوادو په شان د اکثريت او ټاکنو له لارې واک ته نشي رسېدلای، د تره‌کي خبره د لنډې لارې په لټه کې شول چې د ترور، کودتا او غصب له لارې واک ته ورسېږي.

تره‌کي صاحب به دا طرحې په ځان پورې تړلې، په داسې حال کې چې دا د KGB ازمايل شوې نسخه وه، چې دا عمل يې د اروپا د لوېديځ بلاک په ټولو هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې تجربه کړی و. د افغاني شورويانو د انقلابونو په راوړلو کې البته يوازې د (پينځم ستون) رول مهم و چې تر گونديانو KGB ته ډېرې نژدې و، کله چې رازمحمد پکتين په مسکو کې سفير و، د روسي (دوريانکوف) په مړينې خواشينی و او هغه يې بابا وباله او د هغه فاتحه يې واخيستله (جنرال قادر کتاب ۳۴۲مخ).
پکتين د اسلم وطنجار فاتحه هم په آلمان کې واخيستله او د قرآن کريم قرائت به کېده، په داسې حال کې چې دوی په هغه عقيده نه لرله.
د گوند دواړو ډلو ځينې کسان په لومړيو آزادو ټاکنو کې ولسي جرگې ته کانديدان ودرول، چې د هغو له جملې نه نوراحمد نور، ببرک کارمل، ډاکتر اناهيتا او فيضان، چې له ننگرهاره و، رايې وگټلې. سلېمان لايق، بارق شفيعي، يعقوب کمک ناکام شول.
په ۱۴مه دوره کې يوازې حفيظ الله امين د خلقيانو او ببرک د پرچميانو له خوا ولسي جرگې ته لار وموندله. تره‌کی صاحب هم د ناوې د ولسوالۍ کانديد و. چې د کمپاين لپاره د پنځوس زره افغانيو مرسته ورسره وکړه (KGB در افغانستان، ۳۸مخ)، خو چا رايه ور نه کړه، ځکه چې په بې‌لمانځۍ مشهور و.
د هېواد د سنتي ټولنې د مځکې د سر پر جنت باور نه و، کوم کسان چې له خوست، شينوارو او هلمند نه يې د روسيې ځينې ښارونه لکه کيف، لېننگراد او يا نور ليدلي وو، د مځکې د سر د جنت تر انگېزې لاندې راغلل، په تېره سرو او سپينو روسي نجونو او بې‌بندوباره آزادۍ ورجذب کړل، چې په ژوند به يې له خپلې مور او ترور پرته نور ځوک نه وو ليدلي، ځينو هلته ودونه هم وکړل. روسۍ نجونو افغان ځوانانو ته لېوالې وې چې په دې وسيله بهر ته ووتلای شي.
له شوروي نه د راغليو محصلينو له جملې نه چا ناکامي ليدلې نه وه، نمرې په ښاخۍ وې، د اکثرو روسي ژبه هم زده نه وه، د کمونېزم په ايډيولوژۍ لړلي راواستول شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګوند، که څه هم د غړيو شمېر يې کم و، ابرځواک شا ته ولاړ و.
تشکيلات په بشپړ ډول د شوروي د سوسياليست ګوند غونډې وو، او د هغو پر موډل جوړ شوي وو، لکه پوليت بيرو، کميته مرکزي، مشرتابه پلاوی او نور. له «هورا» سره سم يې د «کور، کالي، ډوډۍ» چيغې وهلې او له ملي او ديني ارزښتونو سره يې دښمني او هغو ته سپکاوی کاوه. تش په نامه کاريګري نظام او د پروليتاريا دېکتاتوري منل، تر ټولو ستره او مهمه برخه د شوروي پر رهبرۍ باندې ايمان راوړل وو، وکيل د خپل کتاب په ۳۵۲مخ کې وايي چې د ګوند مصارف هم د KGB له خوا حواله کېده، راوړي دي، چې ببرک بدګومانه و، او دا يې اعتراض و چې تره‌کی له دې مصارفو نه ناوړه ګټه پورته کوي، يوازې البته کمونېست کېدل، بسنده نه وو، بلکې عبدالوکيل په خپل همدې کتاب کې راوړي دي چې کارمل په دې خاطر له نورمحمد تره‌کي سره يو ځای ګوند جوړ کړ چې هغه هم سويټېست و.
KGB ژورې ريښې وغځولې او په ګوند کې يې اوږده لاسونه لرل، لکه چې ډاکتر محمدحسن شرق د (کرباس پوشان برهنه پا) کتاب کې راوړي دي چې ګورباچوف په داسې ديپلوماتيکو جملو ورته وړانديز کوي:
«ځينې افغانان شته چې د شوروي او د افغانانو د دوستۍ پلوي دي چې که ته (شرق) وغواړې د دولت سر ته راشې، مرسته به ورسره وکړي، يا د کودتا او د ګوند په موافقه. معلومېږي چې شرق نيژدې او هم باوري دوست دی. (د دوستي له پلويانو څخه هغه ايجېنټان مطلب دي. شورويانو نور د خپلو ګوډاګيانو موجوديت نه پېتاوه. ډاکتر شرق هم له شورويانو سره خپله دوستي له سردار داود خان څخه هم نه پټوله (از سلطنت مطلقه الی...) کتاب.
وايي کله چې د مصر د اسوان بند د شوروي په مرسته جوړ او په افتتاح کې يې يو لوی محفل نيولی و، په دې محفل کې د عراق مشر صدام حسين د شوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي وزير خروشچوف ته لاس ور اوږد کړ، هغه لاس ور نه کړ او دا يې وويل چې «زه هغه لاس په لاس کې نه نيسم چې د شوروي د دوستانو په وينه لړلی وي.» دا هغه وخت و چې صدام څو تنه کمونستان اعدام کړي وو، په هېواد کې يې د شوروي نفوذ نور څه پټه خبره نه وه. زغم يې کېده، د ګونديانو د سپين سترګيو جسارت دې حد ته ورسېد چې پر لېنن يې (درود) ووايه. KGB او GRU دا کسان پېژندلي، استخدام کړي او روزلي دي، چې وروسته د انقلابونو اتلان شول، لکه:

محمداسلم وطنجار، قادر، سيدمحمد ګلابزوی، ضياء مجيد، شهنواز تنی، قادر آکا، آصف شور، حميد محتاط، امام الدين، ګل آغا، اسدالله سروري، نبي عظيمي، نظرمحمد، سيدداود تړون، نورالحق علومي، عبدالحق علومي، جعفر سرتېر، افضل لودين، ميراکبر خيبر، فيض محمد، پاچاګل وفادار، محمدرفيع پټ او خفيه فعاليت درلود چې د شوروي د پوځي استخباراتو GRU له خوا جذب او اداره کېدل.

د ګونديانو ترمنځ نه اصول وو او نه اخلاق. لکه لېوان مخامخ سره پرېوتل. د وفادار شاګرد پر خپل اموزګار ور ترپ وهل، اموزګار او د انقلاب لاربسود وواژه او د سنګر ملګري يې تبعيد کړل، نوم يې سفير کېښود. همدې تبعيد شويو سفيرانو د پرديو په مرسته د انقلاب پر قومندان بريد وکړ، هغه يې په ګوليو غار غار کړ. دې رفيق هم تر اخېره سمه ورځ ونه ليده، د خپل پخواني ګارد (نجيب) له خوا تر يوې سپينې کودتا لاندې راغی او هغه چې په خپله هم منشي شو، په وروستيو کې د (وطن ياکفن) شعار ترې هېر شو. تېښتې ته ودرېد.

همدې د سنګر رفيقانو يې مخه ډب کړه او د طالبانو توپ ته يې ودراوه. په دې ډول د انقلاب د قربانيانو شمېر اوچت شو. البته دا منو چې انقلاب قرباني غواړي. شهنواز تنی هم بېتفاوته نه شو، د سنګر تر ملګري يې د هېواد عنعنوي دښمن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجیع ورکړه او دښمن ته په سلامي شو او د پاکستان د ISI مېلمه.
ملګري د خپلو شخصي سليقو پر بنا او د خودخواهۍ له کبله په څو ډلو ووېشل شول؛ ځيني «ترهکيان»، ځيني «امينيان»، ځينې «کارمليان» او «زرغونيان» شول. د اپوزېسيون زغم پکې نه و. پر مخالفينو به يې د انقلاب ضد ټاپه ووهله او د انقلاب د قربانيانو پر لار به يې سيخ کړل.
ګونديان مغز شويي شوي وو، که څه هم د سوسيالېزم زانګو ړنګه شوه، لا بيا يې هم د لېنينېزم او سوسياليزم ډول غاړې ته اچولی و؛ رښتيا توانا نورمحمد ترهکي به ويل: «**د انقلاب ډول به ډزېږي، موږ به نه يو!**»
که څه هم د سياست په بازار کې مارکسېزم نور خريدارنه لري، د روسانو اويا کاله وروسته خپلې غطۍ ته پام شو. د مطبوعاتو آزادي، د ټاکنې ازادي او د ډموکراسۍ اصول يې په بشپړ ډول ومنل. مارکسېزم له کارل مارکس سره د تاريخ زبالهدان ته وسپارل شو. د لېننګراد نوم بدل شو.
کارل مارکس په خپله يو يهود آلمانی و، لوړې زدهکړې يې نه لرلې، وروسته په ۱۹۷۰ کال کې د شوروي د مرکزي کمېټې له خوا افتخاري دکتورا ورکړل شوه.
هغه نظام چې په فرېب او درواغو تغذيه کېده، دا حقيقت يې ګورباچوف درک کړ. افغان انقلابيانو د هغو امپرياليستو هېوادونو تر لمن سر لاندې کړ چې دوی به د مرګ چيغې پرې وهلې. د مشر ورور او د شوراګانو له هېواد نه په تلوار واوښتل.
نور په روسيه کې د اکتوبر د انقلاب او لېنن ياد څوک نه کوي. دې ملک ته د برچې په زور او له يوې ارتجاعي ايډيولوژۍ سره راغلي وو. ګورباچوف هم تر هغه لېنينېست و، چې په خپله واک ته ورسېد، بيا يې مخ واړاوه. اما په افغانستان کې د ټولو بدبختيو وسيله همدا ګوند و، چې ځيني لا تر اوسه سم شوي نه دي توبه يې نه ده ايستلې.
ځيني په لنډه ډول اشتباهګانې مني، مګر دا نه وايي چې کومه اشتباه؟ له ولس نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عذر نه غواړي.

۱ – د دوه نیم میلیونه بې ګناه وطنوالو وژنه؟

۲ – اته، نهه مېلیونه آواره؟

۳ – یو مېلیون معیوبین،

۴ - که د هېواد د خپلواکۍ تر سوال لاندې راوستل او د یرغل ملګري؟

استعمار په ډېر پوخوالي او مهارت سره ټاکل شوي کسان لومړی جاسوسۍ ته استخدام، بیا یې روزنه او ترېننګ کړي، بیا یې مفکوره او ایډیولوژي پرې ومني، په اخیر کې سیاسي او ګوندي ترې جوړ کړي. حمایه یې کړي، لوړې څوکۍ ته یې ورسوي او وورسته یې د هدفي هېواد رهبرۍ ته پورته کړي خو په حقیقت کې هغه مزدور وي او بیا وروسته چې نور کار ورنه کړي، تفاله یې کړي. دی د مشرتابه اکټ کوي مګر ولس یې ګوډاګی بولي. په څرګند ډول دا د مزدور او بادار ترمنځ مناسبات جوړوي. د ګوند تکتیک و چې په هره اداره کې یې د سیاسي دفتر یا سیاسي آمر یا سیاسي رئیس په نامه تشکیل درلود، چې په حقیقت کې یې د خاد او KGB استازیتوب کاوه.

**بخاطر منافع زحمت‌کشان و بر علیه استعمار و تمام اشکال سیستم اجتماعی و ملی مبارزه نمایید** (د کشتمند کتاب، رویدادهای تاریخي، ۱۶۳مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چنګاښ ۲۶مه

«**تصمیم د بري لومړی شرط دی!**» سردار محمد داودخان

د چنګاښ ۲۶مه د ۱۳۵۲ کال د شپې په یوه بجه فېشېنګونه پورته او وځلېدل، چې د کودتا د پیل د قوماندې په معنا وو.

تېلیفونونه له فعالیته ولوېدل؛ د هر سرګروپ دنده وه چې خپل هدف ته ځان ورسوي، د اردو د انضباط د ټولي فعالیت ډېر و. پوځي لوړپوړي چارواکي د دفاع وزیر خان محمد خان، د قوای‌مرکز د ارکان رئیس جنرال سردار عبدالولي، د اوومې فرق قوماندان جنرال عبدالحکیم کټوازی، د بالاحصار د کومندو قوماندان جګړن رحمت الله صافی، سردار احمدشاه، مارشال شاه‌ولي خان او محمد موسی شفیق لومړی وزیر ونیول شول او په قولچکان کې د قدیر نورستاني په کور کې تر نظارت لاندې شول. پاچا په هغو شپو کې د رخصتیو د تېرولو لپاره په روم کې و، چې تر اخېره هلته پاتې شو. ټک او ټوک ونه شو چا مقاومت یا مخالفت ونه‌کړ او دا عمل سپینه کودتا وبلل شوه.

ډګروال رحمت الله صافي، چې وروسته ځان ته ستر جنرال وایي، د خپل کتاب «افغانستان څنګه تباه شو؟» په ۲۲ مخ کې راوړي چې په همدې شپه او په همدې محفل کې د ملي دفاع وزیر ستر جنرال خان محمد کاغذ راواخیست، سردار ته یې په هغه شپه خپله تسلیمي او بیعت وړاندې کړ.

سبا سردار محمدداود خان د جنرال عبدالکریم مستغني او ډاکتر محمدحسن شرق په ملګری «کابل راډیو» ته لاړ، د پاچاهي نظام د ختم او د جمهوري رژیم اعلان یې وکړ.

ژر ژر فرمانونه صادر شول، د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون لغو او ملي شورا منحل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکزي کمېټه (چې دا نوم تر هغه وخته ولس ته نا آشنا و) اعلان شوه. د کودتا مشر رهبر وبلل شو او کودتا ته د انقلاب نوم ورکړل شو. کودتاچیانو یو بل ته (د انقلاب ملګری) خطاب کاوه. د بهرنیو له خوا په احتیاط استقبال شوه. شورویانو دا رژیم ژر په رسمیت وپېژاند او د همکارۍ لوز یې هم وکړ. په کور دننه تر همدې دمه کوم عکس العمل څرګند نه‌شو. خلقیانو کودتا تایید کړه، د پرچمیانو رول پکې بارز و. د سردار د وړې د میاشتې (خطاب به مردم) بیانیه د سلیمان لایق، سلطان علي کشتمند له خوا د ډاکتر حسن شرق په سپارش ترتیب شوې وه. څرګندېږي چې په دې انقلاب کې د کمونېستانو (کورنیو او بهرنیو) رول څرګند و. د مرکزي کمېټې او کابینې له معرفۍ سره نګراني راپورته او پټې پټې تبصرې پیل شوې. د (خطاب به مردم) بیانیه کې هم (از پادشاهي مطلقه الی سقوط جمهوري دموکراتیک افغانستان، ۱۶۰مخ په حواله) په څرګند ډول کمونېستي ادبیات کارول شوي وو. د سردار کاري ډله دا کسان وو:

الف – مرکزي کمېټه، غړي:

ډاکتر حسن شرق، غلام حیدر رسولي، فیض محمد، عبدالقدیر نورستاني، غوث الدین فایق، ضیا مجید، پاچاګل وفادار، عبدالا، مولاداد، سرور نورستانی، محمدیوسف، عبدالحمید محتاط او د کمېټې په سر کې په خپله سردار. دا ټول ټیټ‌رتبه پوځیان د بریدمل او تورن په رتبه وو، چې دوی به ورته سرګروپ وایه. سردار په خپله هم پوځي سابقه درلوده.

ب – کابینه:

د مرکزي کمېټې غړو په حکومت کې هم یو پوست او مقام درلود، لکه: ډاکتر حسن شرق د لومړي وزارت مرسیتال؛ بریدمن فیض محمد د کورنیو چارو وزیر؛ لومړی بریدمن غوث الدین فایق د فواید عامې وزیر؛ لومړی بریدمن عبدالحمید

(c) ketabton.com: The Digital Library

محتاط د مخابراتو وزیر؛ لومړی بریدمن پاچاګل وفادار د قبایلو وزیر؛ جیلاني باختري د زراعت وزیر؛ ډاکتر عبدالمجید لوی څارنوال او د عدلیې وزیر؛ ډاکتر نعمت الله پژواک د پوهنې وزیر؛ نظرمحمد سکندر د روغتیا وزیر؛ عبدالقیوم د معدن وزیر؛ ډاکتر عبدالرحیم نوین د مطبوعاتو وزیر؛ عبدالا د مالیې وزیر؛ په خپله سردار د دفاع وزیر، د بهرنیو چارو وزیر، لومړی وزیر او د دولت مشر؛ قدیر نورستانی د پولیسو عمومي قوماندان؛ جنرال مستغني لوی درستیز؛ غلام حیدر رسولي د قوای مرکز قوماندان؛ ډګروال قادر د هوایي مدافعې قوماندان؛ قدیر لومړی څارن د ترافیکو د واقعاتو د بررسۍ آمر او رسولي د مکلفیت متقاعد ډګروال چې د قوای مرکز په قوماندانۍ قناعت وکړ، وروسته یې اشتها راوپارېده چې تر وزارت پورې ورسېد.

سرور نورستانی د څلورم زریزې زره‌دارې قوې قوماندان، محمدیوسف د ۱۵ زریزې قوې قوماندان، مولاداد د اردو د اداري مرکز رئیس، ضیا مجید د ارګ قوماندان، نور هم کودتاچیان یا انقلابیان ځای پر ځای شول. ټول کودتاچیان په دوو دوو ترفیعګانو تقدیر شول.

ډېرو کودتاچیانو په شوروي کې زده‌کړې کړې وې او د GRU له خوا جذب شوي وو. دې کودتا وروسته نورو کودتاوو ته لار هواره کړه.

د ځینو پلرونه هم له بخشش څخه بې‌برخې پاتې نه‌شول، د ببرک پلار جنرال محمدحسین د زوی له برکته رفع تقاعد شو او د پکتیا د قل‌اردو قوماندان شو، جنرال محمداعظم لغمانی، د فواید عامې پخوانی وزیر هم د خپل زوی له برکته رفع تقاعد او د کندهار د قل‌اردو قوماندان شو او د بصیر رنجبر او کبیر رنجبر پلار عبدالکریم عمرخېل (د عبدالقدوس غوربندي د کتاب په حواله) (چې دې رنجبرانو په ژوند کې هېڅ کوم رنجبر نه و لیدلی) د پروان والي شو.

دا بې تجربه، خورد رتبه او ناپوه بریدمنان د وزارت په سر کې ټاکل کېدل، د ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ د سیاسي او اداري اصولو مخالف عمل دی اما د سردار مجبوریت بل و، چې همدا بریدمنان و چې دی یې واک ته ورساوه.
د خپلواکۍ د استرداد ورځې (د زمري ۲۸مه) ځای د چنګاښ د انقلاب په نامه (د چنګاښ ۲۶مې) ته ورکړل شو، چې دا ورځ بیا د غویي د انقلابیانو له خوا د غویي اوومې ته ورکړل شوه او ان بیرغ هم بدل او هم سور انقلابي رنګ غوره شو. په داسې حال کې چې دا دواړې ورځې انقلابي نه وې، بلکې پوځي غصب و، د زمري ۲۸مې بېرته خپل ځای ونیو. اوس سیاسیون او تاریخپوهان د اکتوبر انقلاب هم انقلاب نه بولي، یوازې د فرانسې (انقلاب کبیر، ۱۷۸۹ کال) او د امام حضرت خمیني اسلامي انقلاب په ۱۹۷۸ کال کې انقلاب بولي. مګر په اخېر کې نه د چنګاښ ۲۶مه او نه د غوایي اوومه پاتې شوه.
کابینه او مرکزي کمېټه د قدیر نورستاني، حیدر رسولي، او عبدالا نه بغیر نور د سردار نه وو، دستوري د ده پروګرام ته له بلې خوا ورننه ایستل شوي وو. د انقلاب ډېر ملګري ده نه پېژندل. سردار ورپسې نه ګرځېد، چې څوک په کومه پخوانۍ او په کومه انګېزه د ده ملګري کوي او د چا زامن دي. پخوانیو مجربو جنرالانو د سردار ملګري ونه کړه؛ ټولو ماجراجویو بریدمنانو دې عمل ته غاړه کېښوده. کله چې د ۱۳۵٦ په اساسي قانون کې یوازې د سردار ملي غورځنګ د سیاسي فعالیت حق درلود او نور ګوندونه منع شول د KGB له خوا خلقي ګوندیانو ته هدایت و چې ملي غورځنګ ته خپل کسان ورننباسي (ک.ج.ب در افغانستان، کتاب).
د سردار محمد داود خان په وطندوستۍ، سپېڅلتیا او ملي احساس کې هېڅ شک نشته، نور عوامل هم شته، لکه د ده خودخواهي، کورنۍ سیالي، د سردار عبدالولي توهینونه او سپکاوی، هم یوه انګېزه وه، چې د هېواد د بدمرغۍ پیل و او تر اوسه پکې سوځو، په کودتا لاس پورې کړ.
د ۱۳۴۳ کال د اساسي قانون ۲۴مه ماده چې د پاچا کورنۍ پکې تشخیص او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تثبیت شوې وه، چې د پاچا د کورنۍ د سیاسي فعالیت مخه پکې ډب شوې وه، د سردار داود خان لپاره دا یوه توطیه بلل کېده.
پینځه حکومتونه چټک چټک بې له بریالیتوبه یو په بل پسې بدلېدل. د پارلمان په مقابل کې حکومتونه کمزوري وو، یو شمېر دلالانو، قاچاقبرانو او رشوتخورو په ولسي جرگه کې ځای نیولی و. د انقلاب یا بدلون لپاره وچکالي، فقر او بېکاري هم یوه انگېزه وه، له بلې خوا د هلمند پر اوبو له اېران سره د لومړي وزیر موسی شفیق قرارداد هم تر ټولو لویه غوغا راپورته کړې وه. شفیق په خپل نوبت پر ابتکار لاس پورې کړ، د یوه قرارداد په ترڅ کې یې د هلمند د اوبو موضوع له اېران سره حل کړه.
نور یې د پښتونستان او ډیورنډ کرښې ته پام واړاوه. شوروي حساسیت درلود، نه یې غوښتل چې افغانستان آرام او سوکاله شي، تلوار یې وکړ؛ د چنگاښ ۲۶مه راورسېده، چې له پورتنیو مسایلو سره بې ارتباطه نه وه. شفیق د سردار په پینځو کلونو کې دوه نیم کاله بندي وو او پروژې یې ختمې شوې.
عیني او ذهني شرایط برابر وو، له اوږدې دوستۍ نه اوس باید بل گام پورته شي. پاچاهي نظام په جمهوري واړوي او تودو اوبو ته ورخېرمه شي. KGB نورې موخې هم درلودې، چې له سردار څخه د «یو وار مصرف» کار واخلي. سردار به مړ شي، یا به کومه بله د مرگ توطیه ورته جوړه کړي، ځکه بوډا دی او پاتې د مرگ توطیه ده، چې ورته جوړه شي. سردار هم بې برنامې نه و، غوښتل یې دا هلکان په دوو دوو رتبو خوشحاله کړي او وروسته به یې له مخې لرې کړي، خو حقیقت بل ډول و.
دا ستراتېژي وه، چې سردار ته باید سرخوږی جوړ شي او تجرید یې کړي.
لومړی مسأله د محمدهاشم میوندوال وه، د سردار له کودتا نه لا دوې میاشتې نه وې تېرې، چې دا موضوع راپورته شوه، د ډاکتر حسن شرق په خبره، چې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې: «زمورږ تر ستوني لا اوبه نه وې تېرې چې ميوندوال په کودتا لاس پورې کړ.» دا يوه څرګنده توطيه وه.

په دې ډول سپينه کودتا په سره کودتا واوښته. په راديو کې د کودتا په تور د ملي، علمي او سياسي شخصيت پخواني لومړي وزير محمدهاشم ميوندوال خبر د عارف رېکشا (يو دوه ويشت کلن پېښوري تجار) په ملګرۍ د کودتا خبر تېر شو. چې ۴۴ تنه معزز او د هېواد خدمتګاره جنرالان او قومي مشران، د ملي شورا غړي په دې تور ورسره تورن شول.

توطيه روښانه وه او (خود کوزه، خود کوزه‌گر، خود گِلِ کوزه): راپور ورکوونکی کمونېست، د تحقيق هيأت کمونېست او قضايي هيأت هم همدوی.

پېژندل شوي خلک وو، د ملک طوطي زوی ببرک شينواري يو کاغذ د راپور په ډول د کليوالۍ د اړيکو په اعتبار د وکيل سيف الرحمن د کور په کوم درز کې کېښود، چې په دې کاغذ کې د تورنو کودتاچيانو نومونه ليکل شوي وو. چې هېڅ روغ عقل ته د منلو نه ده. نو نيول او زنداني کول پيل شول، شکنجې، عذاب او بې‌عزتۍ ورسره.

محمدهاشم ميوندوال د صمد اظهر (چې د *KGB* *در افغانستان* د اسنادو له مخې يې ايجنټ نوم *فتح خان* و) تر شکنجو لاندې ساه ورکړه. د *غلط‌گويان جنايت‌کار* د کتاب په ۱٦٧ مخ کې د فتح خان په واسطه د شهيد ميوندوال د شکنجې او بيا د *حيدر اختر* په لاس د شهادت او بشري جناياتو تفصيل راغلی دی.

تورن داسې شکنجه شول چې مرګ ته يې ترجېح ورکوله؛ اکثرو يې يو پر بل د غيرحق کودتا د قصد اقرار او يو پر بل شهادتونه ورکول. له صمد اظهر سره نور پرچمي پېژندل شوي ملګري نبي د پوليسو د اکاډمۍ قوماندان، جنايي آمر فاروق يعقوبي، نصرالله امرخېل، عبدالله همکار او باقي (بوچوک) د ذاتي آمر او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډون درلود.

KGB همدا نسخه د عبدالملک عبدالرحیمزي په برخه کې هم کارولې وه. د دې کسانو له ډلې شپږ تنه، ډګروال ماما زرغون شاه، تورن جنرال خان محمدخان، د پښتو اوسېدونکی عارف شینواری، مولوي سیف الرحمن په اعدام محکوم شول. هیأت قضات هم له همدې قماش کسانو څخه وو. سرور نورستانی، نبي عظیمي او نور همدا ډول بې مسلکه او قضایي او عدلي تجربې څخه بې‌خبره، له عدل او انصافه لرې، یوازې د ملک طوطي د زوی د دستوري او پلان شوي راپور پر بنا د شکنجې جبر و اکراه د اقرارونو په اساس نظامي محکمې خپله خاینانه پرېکړه صادره کړه.

پاتې متهمین له ابد حبسه نیولي تر دوولس کلونو پورې په بند محکوم شول. سردارمحمد داود د دفاع د وزیر او د دولت د مشر په توګه د پوځي محکمې پرېکړه «ملاحظه شد» کړه. دا قضیه «د جنګي جنایتکارانو اتهام‌نامه» کتاب کې په تفصیل سره راغلې ده. محکمه یو مرحله‌یي او غیابي وه، د اعدام حکم د تورن نبي عظیمي له خوا د پل‌خرخي په پولیګون کې تنفیذ شو (تاریخ مسخ نمی‌شود) کتاب دا پېښه په تفصیل سره راوړې ده.

د شهید محمدهاشم میوندوال د توطیې د تحقیق د هیأت درې غړي په خپله هم د انقلاب ضد په جرم مجازات شول. نصرالله عمرخېل په پلچرخي زندان کې ووژل شو، دی چې د اظهر د خور سړی و، وایي چې په وژنه کې یې د فتح‌خان لاس و. وایي له دې کبله د قدیر نورستاني مدیر قلم مخصوص و. فاروق یعقوبي هم د ده د مرستیال یارمحمد له خوا د انقلاب د مخالفت په تور او غلام نبي د اکاډمۍ قوماندان د خپلو انقلابیانو له خوا دومره شکنجه شو چې په دواړو سترګو ړوند شو. د شهید میوندوال د توطیې د تور ملګري کسان تر ډېره ژوندي وو. ما (لیکوال) له ځینو سره کاته کړي، هغه وخت تېر دی مګر بیا هم یوه دا پېښه تایید نه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د KGB دا پلان و چې سردار تجرید او اخته وساتي، سردار د لومړي وزارت په وخت کې هم د KGB په غلطو راپوروڼو استعمال شو.
چې د (داود خان د کې جي بي په لومو کې» کتاب کې د هغه وخت ځینې توطیې لکه د عبدالملک عبدالرحیمزي د کودتا توطیه، د بدخشان پر څو تنو مشرانو غیر حق د امریکا د جاسوسی تور او د امریکایانو په وژلو د شبرغان د ډېرو قومي مشرانو تورنېدل چې ډېر زجرونه او شکنجې یې ولیدې.
د سردار په دې دوره کې هم پېښې یو په بل پسې راپورته شوې، لکه د ملي دفاع د توپچي رئیس میراحمدشاه د کودتا پلان، د مولانا فیضاني د دهشت د عملیاتو پلان، په سپینه ورځ د پلان وزیر خرم قتل، د آریانا د پیلوټ انعام الله ګران قتل، د منهاج الدین ګهیځ تُرور، د زمان خان د کلا په زېرخانو کې د لوی شمېر مړیو کشف، د جنرال محمدرسول خان (په رسول جان مشهور) پخواني د ضبط او احوالاتو رئیس سیاسي او تخریبي فعالیت او داسې نور چې د یوې پېښې ثبوت یې هم نه درلود. سردار راپوروڼو ته ډېر اهمیت ورکاوه. داسې واقعات په بل حکومت کې نه دي راغلي، دی ډېر ژر استعمالېده. سردار بالآخره ناوخته پوه شو چې محاصره دی. انقلابیانو په دې نامه چې انقلاب یې کړی او دی یې واک ته رسولی دی، تر خپلې برستنې پښې وغځولې.
په دې وخت کې اسلامي خوځښتونه هم په حرکت شول، د (جوانان مسلمان) ډلې هم په بریدونو او عملیاتو لاس پورې کړ. او دا د سردار لپاره یو لوی شوک و، پوه شو چې کلي په زور نه کیږي.
له خپلو انقلابیانو څخه تر پوزې راغی، هر یوه لویه برخه غوښته او خپل حد یې نه پېژانده. هر یو د لستوڼي مار ګرځېدلی و. دا انقلابي ملګري د ده نه دي. په دې هم پوهېده چې ډاکترحسن شرق له کومه ځایه او کوم اخوره تغذیه کیږي، دې شرق په خپله، چې کله په هند کې سفیر و، عبدالوکیل خارجه وزیر ته ویلي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سردار له شورویانو سره د ده پر اړیکو خبر و. سردار دا موضوع چندان جدي ونه ګڼله. بالآخره سردار د انقلاب سمون ته اړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«**وارداتي ایډیولوژي دلته ځای نه لري!**» سردار محمد داودخان

سراسري نارضایت، بېروني فشار او په کور دننه ډول ډول سرخوږي، خرابې اقتصادي وضعې او د انقلابي ملګرو خودسرۍ، سردار ته دا فکر وروست چې د حکومت پر چارواکو يو تجديدنظر وکړي او بدلون پکې راولي. د انقلاب ملګرو هم قناعت نه درلود، دوې دوې رتبې يې بس ونه‌بللې. سردار د سمون لار غوره کړه. د دې سمون په بهير کې يې لومړی عبدالحميد محتاط لرې کړ.

پاچاګل وفادار يې په ليبيا کې سفير کړ. فيض محمد يې د کورنيو چارو له وزارته لرې کړ، ډاکتر حسن شرق يې چاپان ته ولېږه، د کرنې وزير جيلاني باختري يې برطرف کړ. ضيا مجيد او قادر يې هم بېکاره کړل. ډاکتر نظرمحمد سکندر د روغتيا وزير به ويل چې **نه خلقي يم نه پرچمي، اما مارکسېست يم!** دی يې هم لرې کړ. د سردار دا هڅه وه چې له دې تهمته چې سردار *کمونېست* او «سور شهزاده» دی، ځان پاک کړي.

په هرات کې يې په يوه لويه غونډه کې وويل چې **وارداتي ايډيولوژي نه منم!** دا کمونېستانو ته يو زېګنال و. مقابل لوري (کمونېستانو) حالت جدي وګاڼه.

دواړې ډلې (خلق او پرچم) سره يو شوې. په ۱۳۵٦ کې بيا نورمحمد تره‌کی د ګوند مشر او ببرک د مرستيال په توګه وټاکل شو، وکيل د خپل کتاب (از پادشاهي مطلقه....) په ۲۵۳مخ کې ويلي چې دا يووالی يې د شوروي په هدايت راوړی دی.

ملي شخصيتونه هم له حکومت سره همکارۍ ته آماده نه وو، بې‌کفايته چارواکي لکه قدير نورستانی د کورنيو چارو وزير، غلام حيدر رسولي (چې د سګرېټي په ځکولو معتاد و په کوهستان کې يې د يوه پير لاس‌نيوی کړی و) د دفاع وزير، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسمشر مرستیال عبدل الا او یا د بهرنیو چارو باصلاحیته مرستیال سید وحیدالله عبدالله، چې د دوولسم ټولګي فارغ نه هم شکایتونه وو، امنیت ورځ تر بلې تر بد بدتریده.

اسلامي ډلې (سازمان جوانان مسلمان) لکه استاد نیازي، استاد رباني، وفي‌الله سمیعي، عبدالهادي هدایت، انجینیر ګلبدین حکمتیار، احمدشاه مسعود، مولوي حبیب الرحمن او انجینیر حبیب الرحمن ته حالت د زغم نه و؛ پر کنړ، خوست، لغمان او پنجشېر بریدونه وشول.

خلقیان په کمین کې وو، عیني او ذهني شرایط یو بدلون (انقلاب) ته مساعد بلل کېدل. KGB د بل ګام په تکل کې وه. سردار هم ځینې نور پرچمیان چې د دولت په ملکي برخه کې وو، لرې کړل او پوځي کسان یې په غیرفعالو ځانګو کې وټاکل.

په ۱۳۵٦ کال کې د بدلون او سمون لپاره لویه جرګه راوبلل شوه، اساسي قانون یې پاس کړ، او د «۴۰»مې مادې په حکم د یوه ګوند پېش‌بیني او پخپله هم د دولت رئیس نه بلکې د ولسمشر په توګه د هغې جرګې له خوا د شپږو کلونو لپاره وټاکل شو.

د ده مرکزي کمېټه منحل شوه او په دې قانون کې د یوه ګوند پېش‌بیني شوې وه، چې د نورو ګوندونو د فعالیت د مخنیوي په معنا وه. کمونېستانو دا د ځان لپاره یو پلان او توطیه وبلله.

د چنګاښ د انقلاب خبرې نورې له موده ولوېدې. ځکه چې یو قانوني دولت او حکومت منځته راغی او خلک هم له جمهوریت سره بلد شوي وو.

کمونېستان دواړې ډلې له سرداره وګرځېدې او د جمهوریت په تخریب یې لاس پورې کړ.

سردار هم لکه محمدموسی شفیق پوه شو چې له ګاونډیانو سره سمې اړیکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړيني دي. ايران ته لاړ، د اوبو قرارداد يې تائيد کړ او ذوالفقار بوټو پاکستان ته مېلمه کړ.
د ۱۳۵٦ کال په ثور کې شوروي ته د سردار په وروستي سفر کې برېژنېف دا خبره وکړه چې «زموږ سرحداتو ته نيژدې امريکايي جاسوسانو ته په افغانستان کې د مرستې تر نامه لاندې اجازه ورنه کړئ.» (سقوط افغانستان، د صمد غوث کتاب په حواله.) روسانو په دې ډول اوبه خړولې او د برېژنېف دا خبرې له ډيپلوماتيک ادبه لرې وې، ولسمشر سردار محمد داود خان ته د زغم نه وې. جواب يې ورکړ چې افغان به غريب پاتې وي، مګر خپلواک. د جدي افغاني عکس العمل په توګه د کور په خوا راوخوځېد او په بهرنيو سفرونو يې لاس پورې کړ. يوګوسلاويا ته، چې د شوروي مخالف سياست يې لوباوو، ولاړ. وايي چې مارشال ټيټو د وخت ولسمشر د شوروي په مقابل کې د احتياط سلا ورکړې وه. ليبيا، سعودي او مصر ته په داسې وخت کې ولاړ چې ولسمشر انورالسادات ليدو ته چمتوالی نه درلود، د سردار دا حرکتونه د رفيق برېژنېف خوښ نه شول.
له سردار سره په دې ټولو سفرونو کې پخواني پېژندل شوي جاسوسان د تجارت وزير محمدخان جلالر او عبدالحق صمدي ملګري وو.
په مقابل کې يې د خلقيانو له خوا بل ګام اوچت شو چې ميراکبر خيبر په ۱۳۵۷ کال کې د وري په ۲۸مه خپل کور ته نيژدې په مکروريانو کې ترور شو.
جنازه يې په لوړو مراسمو سره د تره کي او کارمل او نورو ګوندي ملګرو له خوا د تهديد، تحقير او تهمت په بيانيو خاورو ته وسپارل شوه او د ترور تور يې پر سردار او حکومت پورې کړ.
په مقابل کې سردار د ګوندمشر نورمحمد تره کی او مرستيال يې ببرک او څو تنه نور د کابل نظارت خانې ته بنديان ولېږل. د غويي په اومه د ورځې په لس بجو ارګ تر مځکني او هوايي بريد لاندې راغی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لنډ ډول: د خلقيانو او سردار ترمنځ لکه د شطرنج لوبه وشوه. انقلابيانو (کمونيستانو) سردار انحصار کړ او نفَس يې پوزې ته راوستلی و.
سردار: انقلابيان له ځانه لرې کړل.
انقلابيانو: (خلق او پرچم) اتحاد وکړ.
سردار: په نوي اساسي قانون کې د خلق او پرچم گوند ممنوع کړ.
په دې وخت کې ميراکبر خيبر ترور شو. خلقيانو يې تور پر سردار او حکومت پورې کړ.
سردار: کمونيستي مشران زندان ته واچول.
کمونيستانو: د غويي په انقلاب او پوځي پاځون لاس پورې کړ،
**(سردار کشت او مات)، رژيم نسکور شو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د انقلاب لومړی قرباني

د انقلاب قرباني د لوګر د محمداغې میراکبر خیبر و چې پوځي تعلیمات یې په حربي پوهنتون کې پایته رسولي وو، چې د یوه سوء نیت په تور د شهادتنامې له ترلاسه کولو سره سم د بریکوټ زندان ته ولېږل شو - په هغه وخت کې تحقیق و محاکمه دود نه وو - څو کاله په زندان کې پاتې شو. د زندان په مهال یې مېړمن او واړه ماشوم تري‌تم شول او له پوځه برطرفه او د پولیسو په اکاډمۍ کې استاد شو، ګوندي فعالیت ته یې دوام ورکړ، شاګردان یې لکه صمد اظهر، باقي پوچک، فاروق یعقوبي، نبي د پولیسو د اکاډمۍ قوماندان او څو کسه نور جذب کړل. دی د ۱۳۵۷ کال د وري په ۲۸مه ترور شو.

د ګوندي باور پر بنا سلیمان لایق خیبر خپل پلار ته وروپېژانده. د ده پلار خلیفه عبدالغني د حضرتانو خلیفه و چې د ډېر اخلاص له مخې یې د خپل زوی نوم «غلام مجدد» کېښود. په مورړ کې د غلام محمد، غلام علي، غلام رسول او نور همداسې ډېر نومونه شته، مګر «غلام مجدد» نه لرو. وروسته غلام مجدد خپل نوم په (سلیمان لایق) واړاوه.

خلیفه صاحب یوه لور (مهر نګاه) روحاني شخص حضرت صبغت الله مجددي ته او بله لور یې بې‌عقیدې او یوه مارکسېست میراکبر خیبر ته نکاح کړه.

په دې ډول خلیفه دوې هندوانې په یوه لاس کې ونیوې. خلیفه د خیبر دا کمزورې عقیده جدي ونه نیوله، کوم وخت خیبر د خپل باجه (مجددي) رپوټ د ضبط احوالاتو ریاست ته د حضرت صاحب په باره کې داسې ورکړ چې حضرت مجددي قصد لري چې خروشچوف د بګرام له میدانه تر کابله د تګ په لاره کې د خپلو مریدانو په واسطه سنګ‌باران کړي. حضرت صاحب پینځه کاله او څو میاشتې په دې تور د دهمزنګ بند وګاله (ما لیکوال ته حضرت صاحب دا بیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ او په دې توطیه کې د غلام مجدد لاس هم شریک بولي).
غلام مجدد هم د دې لوبو مهم لوبغاړی دی. ځای دی چې د ده پر ژوند، چې دوه اړخه لري، یو څه ورزیات کړم:
لومړی: غلام مجدد د کمونېست گوند (د.خ.د.گ) د موسسانو له ډلې دی، چې په هېواد کې یې د بدمرغۍ تخم وپاشه. د کاریگرانو د حقوقو (تش په نامه) دفاع او انترناسیونالېستي ایډیا یې ومنله.
یرغل یې تایید کړ او ارزښتونو ته یې شا کړه.د یرغل د بقا او دوام لپاره یې خپلې هڅې ونه سپمولې.
دویم، ادبي اړخ: ځینې وایي چې شعر له علم او اخلاقو سره اړه نه لري. دا یو هنر دی او یو طبیعي خدای ورکړی استعداد، لکه څوک سم رباب وهي، څوک ښکلې نڅا کوي. لکه د هنر له مخې د گلزمان استاد سندرې یا د هنگامې ښه آواز او د بخت زمینې زړه پاروونکې نڅا. غلام مجدد هم سم شاعر دی او سم هنر لري ښې جملې کتارولای شي، لکه د غویي د انقلاب په اړه وایي:

**هره تیاره پای لري، پر خلکو ولسونو باندې**

**توره تیاره تېره شوه ستا خوارو بچو باندې**

دا سم شعر دی اما دا چې څومره له واقعیت سره اړخ لگوي. د ده مهارت په دې کې و چې کمونېستي ایډیا ته یې ملي رنگ ورکولای شو.
غلام مجدد د خیبر د خپلوۍ سره د غویي د انقلاب په بریالیتوب کې هم هڅه ونه کړه، چې دا ترور بررسي شي.
خیبر ته په گوند کې د محبوبیت په خاطر ببرک کارمل د حریف او سیال په نظر کتل، چې د گوند (پرچم) په پولیت بیرو کې هم ونه نیول شو(از پادشاهي مطلقه...، ۲۹۰مخ) او له ده څخه پوځي دنده واخیستل شوه، نوراحمد نور او عبدالوکیل ته ورکړل شوه (از پادشاهي مطلقه...، ۱۷۵مخ) همدا یې هم لیکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، چې د میراکبر هم خوله نه درېده. د تاند په فېسبوک پاڼه کې استاد شهسوار سنګروال هم د ۱۳۹۹ غويي میاشت کې لیکلي چې ببرک د نوراحمد نور او بارق شفیعي په واسطه د مرګ تهدید ورلېږلی و (تاند وېبپاڼه) او عبدالقدوس غوربندي هم د خیبر د مرګ اشاره د ببرک خوا ته کوي.
پلوشې د خیبر لور د خپلې مور د میراث د حق غوښتنه کوله، مګر اکاډمېسن غلام مجدد پښې په یوه موزه کې کړې او حق ته حاضر نهشو. د دې کتاب د تمامېدو په بهیر کې د ۲۰۲۰ ز کال د جولای په ۳۰مه مې واورېدل چې سلېمان لایق د ۹۰ کلنۍ په عمر وفات شو، چې د ډېرو کسانو د مثبتو او منفي تبصرو سبب وګرځېد. ځینو تاریخي شیطان وباله او ځینو ملي شاعر، ځینو خلقي شاعر.
شعر یې ایډیولوژیکي رنګ درلود، بشري او ملي احساس پکې کم و، لکه ده د تاریخ نه زده‌کړه ونه کړه، تر پایه بېعقیدې پاتې شو، د ده د کلام نمونې ته فکر پکار دی:

زوړ انګرېز به بیا راپاڅي انتقام    زموږ پر ضد به له پنجاب سره پره شي ته
چا ویل د پنجابي د کساد هوډ    دنجیب په قربانۍ باندې پوره شي بـــــــــــــــــه

که پام وشي سور او تور استعمار تفاوت نه لري، تور استعمار چې یادوي باید د سور استعمار یې هم یاد کړی وای.
ټول ګوندي ملګري وو، په اصطلاح د سنګر یاران، نجیب یادوي چې طالبانو ځوړند کړ، امین هم ملګری و، خو نه یې یادوي، ولې چې روسانو مړ کړ.
د ده جنازه له آلمان (آلمان هغه لوېدیځ هېواد و چې ملګرو به امپریالېزم باله) څخه راوړل شوه. د ده درنده جنازه له هغو په زرګونو نوموړکو شهیدانو سره جفا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، چې د کمونېستي رژيم په لاس شوي دي. لايق خپلې رخصتۍ د شوروي په توره بحيره کې تېرولې. جنرال قادر دی د روسيې اصلي مهره بولي (خاطرات سياسي، قادر، ۴۰۰مخ). لايق تر اخېره د يوناما په نامه امريکايي ډالري معاش ترلاسه کاوه.

دا ثابته ده، ساده تعريف دا دی، څوک چې د ملي يووالي يا د ملي ګټو خلاف وي، هغه دښمن يا ملي خاين دی. په ټولو شعرونو کې يې يو وخت د خپلواکۍ سپاهيان د اسلام د لارې رهروان ياد نه کړل.

ميراکبر خيبر د انقلاب (د غويي اوومې) لپاره يوه انګېزه او پلمه او د انقلاب لپاره غټه قرباني وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لمر د عدالت وخوت ستا پر لوړو غرو باندې**
**توره تياره تېره شوه ستا خوارو بچو باندې** (غلام مجدد)

د ۱۳۵۷ کال د غويي په اوومه د پنجشبې په ورځ لس بجې د کابينې غونډه دوام لري. د خلق ډلې د پوځي کمېټې مسؤول حفيظ‌الله امين چې لا تر دې دمه نه دی نيولی شوی، د انجينير ظريف په واسطه سيدمحمد گلابزوی (اېجېنټ نوم مامد) او محمد اسلم وطنجار د (۴ زرهِدار ځواک) جگړن او ډگروال عبدالقادر (چې په دې وخت کې بيا د هوايي رئيس ارکان ټاکل شوی و) ته د انقلاب قومانده ورکړه. قادر له قومانډې سره سم خپل د هوايي عمومي قوماندان جنرال محمد موسی او د هغه ياور جگړن عنايت الله ووژل او د اسدالله سروري په واسطه يې په هيليکوپتر کې د بگرام هوايي ميدان ته ځان ورساوه او د هوايي ځواک قومانده يې په لاس کې ونيوله.

ټانکونه د وطنجار په قومانده د کابل په لوري وخوځېدل، ارگ او د ملي دفاع وزارت، چې ارگ ته مخامخ دی، يې تر اور لاندې کړل. د غلط انقلاب په تور قدير نورستانی همدلته ټپي او بيا ووژل شو. د ملي دفاع وزير حيدر رسولي د لوی درستيز جنرال عبدالعزيز (سيا) په ملگری قرغې ته په ډېره وارخطايی، چې جيپ يې هم ټکر وکړ، د چمتلې دښتې له لارې، چې هلته د ناهيلی سره مخ شول، ولاړ. دارالامان قوای مرکز ته ځان ورساوه، قوای مرکز هم د ډگرمن خليل له خوا (سگ‌باز مشهوره) د مهتاب قلعې د توپچي غونډ تر اور لاندې شو.

وزير او لوی درستيز د قوای‌مرکز قوماندان تورن جنرال عبدالعلي وردگ په گډه قوماندانې پرېښوده او د ارگ د باغوان په کور کې پټ شول، چې د باغوان زوی انقلابيانو ته په لاس ورکړل، نو درې واړه پخوانې انقلابيان د انقلاب قربانيان شول، د نويو انقلابيانو په فکر پخوانی او د چنگاښ د شپږمې انقلاب د دوی په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې نه و.

نور چا مقاومت ونه کړ، نه د کندهار د قل‌اردو جنرال محمدعظیم خان لغمانی او نه د پکتیا د قل‌اردو جنرال سراج الدین خان، یوازې د ننگرهار قطعه د کابل مرستې ته راوخوځېده، چې د فرقې قوماندان جنرال عیسی او والي عبدالخالق رفیقي دواړه د انقلاب د مخالفت په جرم ووژل شول او قطعه شا ته ولاړه.

د جمهوري گارد له لږو امکاناتو سره د جگړن صاحب جان قوماندان په مېړانه (چې د هغه مېړانه د ده مخالفین هم یادوي) مقاومت ته دوام ورکړ. په ارگ کې د لستونو مارانو ځای نیولی و، بلکې د استخباراتو آمر عبدالحق علومي او جگړن آقامحمد کندهاري د مخابرې آمر، عزیز حساس، جمعه هراتي بریدمن او اسدالله پیام د پینځم ستون په توگه خپله دنده اجرا کوله. کله چې د ډگروال عبدالقادر په قومانده هوایي بریدونه د ورځې په ناوخته کې پیل شول، د گارد روحیه کمزورې کېده، چې سردار د هغه همېشني ملي احساس په بنا د تسلیمېدو هدایت ورکړ، چې تلفات ونشي او جنگي وسایط تخریب نشي.

کله چې د سردار زوی عمر داود غوښتل ووځي، د اطفایې د بلوک بریدمن ببرک نومي پرې فیر وکړ چې شهید شو.

انقلابیان د توفیق‌احمد بریدمن تر قوماندې لاندې د کورنیو چارو وزارت ته د تره‌کي او نورو بندیانو د خوشي کېدو په خاطر ورغلل.

د وزارت مرستیال سپین‌ږیري آقای دشتي او تورن جنرال محمدطاهر (چې په طاهر کور مشهور و) بې له مقاومته ځای پر ځای ضربه کړل. ادرس یې واخیست او د کابل د نظارت په لور روان شول. لېننېستان نورمحمد تره‌کی، ببرک کارمل او نور یې راوایستل. پوځی شورا ته یې د کابل مرکزي راډیو ته یوړل.

بارق شفیعي، سلېمان لایق، کریم میثاق او نوراحمد نور (چې تنبتېدلی او پټ وو) هم ورسره یوځای شول، چې دا شورا وروسته *انقلابي شورا* وگڼل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توفيق احمد چې وروسته تر تورن جنرالۍ ورسېد، جګړن صاحب جان خان چې د چنګاښ په انقلاب کې يې ګډون درلود، د مست غويي د انقلاب ضد په ګناه هم د توفيق احمد له خوا شهيد شو.
بريدمن امام الدين د څلورو نورو مسلح ملګرو په ملګرئ د جګړن آقامحمد کندهاري له خوا تر ګلخانې پورې راهنمايي شو او له سردار محمد داود خان څخه يې د ملاقات اجاره واخيسته. امام الدين د نظامي شورا پيغام (چې بايد تسليم شي، واک پوځي شورا ته منتقل شوی دی) وروړ.
سردار کمونېستانو ته تسليمېدل د خپل کرکټر خلاف وبلل، په خپلې تفنګچې يې ډز وکړ چې امام‌الدين ټپي شو او بالمقابل اور بل شو. په دې خاطر ووژل شو چې د ده انقلاب سم نه و. هلته واړه او زاړه، نر او ښځې، د ولسمشر مرستيال عبدالا او د سردار ورور سردار محمد نعيم خان ټول ۱۸ تنه د انقلاب د مخالفت په ګناه په شهادت ورسېدل، چې د ده انقلاب نور سم نه و. انالله و انا اليه راجعون!
د کابل راډيو د نظامي شورا په مقر کې د شورا د غړيو تصميم نيول شوی نه و، او له جملې يې کارمل د سردار وژل نه غواړي، بحث دوام لري، ديدوف، کاظم او ريچارد په ټينګار سره د سردار وژل غواړي، چې امام الدين شورا ته ورننوځي. ځان ورپېژني چې د ګوند غړی دی او خپل ټپي لاس ورښکاره کوي او په خپل لاس د ولسمشر سردار محمد داودخان د وژلو ګزارش ورکوي. د سردار د وژلو خبر غلام مجدد (سليمان لايق) ترتيبوي، وطنجار او قادر سټوډيو ته د خبر او اعلان لپاره راهنمايي شوي، دوی يوه په پښتو او بل په دري خبر ووايه.
ورپسې د غلام مجدد شعر د ناشناس په غږ زمزمه شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

توره تیاره تېره شوه ستا خوارو بچو باندې
لمر د عدالت وخوت ستا پر جگو غرو باندې
هره تیار پای لري پر خلکو ولسو باندې
ښه شوله چې تېره شوه ستا خوارو بچو باندې

دا شعر د پېژندل شوي شناخته (ناشناس) په کمپوز او لکه د یوه اصلي ډم په شان په ډېر شوق په گردنک وهلو او کمر جنبانیدلو سره اجرا کړه، تا به ویل چې دا اوس به میدان ته شي. او کاندید اکاډېمېسن محمداعظم سیستاني په تاند وېبپاڼه کې د ۲۰۲۰ د ډېسمبر په نهمه په خپله مقاله کې هم دی راپېژندلی او د مخدوم رهین په تائید یې دی د ISI جاسوس وباله، البته ده به هرومرو د KGB تجربه هم درلوده.

دا ناخلفه ناشناس هغه څوک دی چې نه یوازې یې د لوی قوم او ویاړلي تاریخ سپکاوی وکړ بلکې د خپلې درنې کورنۍ لکه علامه حبیبي سپکاوی یې هم وکړ.

دا شعر د هنر د تعریف پر بنا د یوې رویا ترسیم دی، نه حقیقت. څکه د وینو بهېدل له هغې ورځې پیل شول تر اوسه جاري دي. کله سور رنگ وي، کله سپین، تور او زرغون رنگ لري او دا ورځ په جنترۍ کې د جشن او رسمي رخصتۍ ورځ ولیکل شوه. کودتا په انقلاب ونومول شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سردار داود خان چا وواژه؟

اوس دا پوښتنې راپورته کېږي او په دې هکله ډاکټر صبورالله سیاسنگ په یوه ابتکار لاس پورې کړی دی، د نخبه افغانانو او د نظر خاوندانو څرگندونې یې راټولې کړې او جمع‌بندي کړې دي، د یوه کتاب په ډول چې (سردار داودخان چا وواژه؟) نومېږي، چاپ کړې دي. د دې لپاره چې کتاب ډېر په زړه پورې دی، نو ښاغلي رحمت آریا په خوږه پښتو «د پسرلي سباوون او د گوليو باران» په نامه اړولی دی، چې بېنوا وېبپاڼې په ۲۲مه گڼه کې خپور کړی دی.

پوښتنه دا ده چې سردار داود خان رښتیا بریدمن امام‌الدین وواژه، کوم چې ده په لومړۍ مرحله کې د پوځي شورای پیغام ورته وړاندې او اعلان کړ، چې سردار لا تر هغه دمه مړ نه بلکې ژوندی و. او انقلابیان لا وروستۍ نتیجې ته نه دي رسېدلي، داسې څرگندېږي چې هغوی له دې عمله بې‌خبره و. دا معنا لري چې د شورا په غیاب کې د دوی په نامه سردار ته پیغام وړاندې شوی دی. بریدمن اوس له خپلې پخوانۍ خبرې گرځېدلی، وایي زما لاس ټپي و، زما ملگرو فیرونه وکړل.

دا هم نه وایي چې د شورا چا او څنگه په کوم ارتباط پر ده باور وکړ، چې دومره یوه مهمه دنده باید اجرا کړي.

بریدمن دا هم نه ښیي چې ملگري یې څوک وو، هغه چا ورسره مل او پیدا کړل، د کومې قطعې وو، بیا څه شول، څنگه له ده نه جلا شول، هغه هم باید تقدیر شوي وای. دی لا هم شکایت کوي چې ډرېور ورته نه پیدا کېده.

ښاغلي فرهاد لبیب په بشپړ منطق او استدلال د دې کتاب په نولسمه برخه کې دا موضوع راپورته کړې او ثبېږلې ده چې د امام الدین ادعا له حقیقته ډېره لرې ده.

KGB که پر افغانانو باور درلودای، د مرغومې په شپږمه په بد وخت کې هم چې سروري وژونکی، وطنجار او گلابزوی او عبدالوکیل ورسره وو، ولې یې بیا هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امين وژنه په خپل لاس وکړه. امين هم داودخان غوندې خپلواک کرکټر درلود.
امام الدين که څه هم د کوماندو په قطعه کې و، مگر مسلک يې مخابره و. فرهاد لبيب داسې نتيجه‌گيري کوي:

«انگيرنه دا ده چې د ولسمشر محمدداود اصلي وژونکی نه د افغانستان وسله‌وال ځواک غړی او نه هم د پوځ د ښوونيزو او روزنيزو بنسټونو غړی دی، بلکې دا کسان د پخواني شوروي د KGB مسلکي غړي اود GRU د پوځي څانگو تکړه او ښه روزل شوي غړي وو، چې د يوه سنجول شوي پلان له مخې له امام الدين سره يو ځای شوي دي او د عملياتو تر ترسره کولو وروسته بېرته خپلو پټنځايونو ته تللي دي.» امام الدين قاتل نه دی بلکې د قتل شريک مجرم دی. سردار که د امام الدين له خوا وژل شوی وای، بيا به يې هم دومره درد نه درلود. شهنواز تنی د امام الدين قوماندان و، هغه په دې هکله تر اوسه څه نه دي ويلي.
KGB به موضوع په خپل لاس کې نيولې وه، نه چې هلکان کومه غلطي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شهیدانو انتقال

د کودتا له ورځې وروسته له ارګ څخه د سردار او کورنۍ اتهلس مړه غړي راټول او د پلچرخي په پولیګون کې تر خاورو لاندې کړل. دا دنده د کورنیو چارورو د نوي وزیر نوراحمد نور او محمداسلم وطنجار وه، د راه بلد په توګه هم یو کس، چې د پلچرخي په قطعاتو کې یې دنده اجرا کړې ده، ورسره و. د شهیدانو د قبرونو ځای چا ته معلوم نه و، نه چا توان او جرئت درلود چې پوښتنه یې وکړي. هغه د غلام مجدد (شعر) چې وایي:

**هره تیاره پای لري خلکو ولسو باندې**

د غوایي مستي هم تېره شوه، مجاهدین ختم شول، طالبانو هم فرار وکړ، اسلامي جمهوریت حاکم شو. د بازخواست دروازې اقلاً پرانیستل شوې. د سردار کورنۍ عرض وکړ او په خپلو مړیو پسې یې هلې ځلې پیل کړې. د حامد کرزي په هدایت د مړیو لپاره یو هیأت وټاکل شو. موضوع رسانه‌یي شوه، له خلکو څخه په دې برخه کې د معلوماتو مرسته وغوښتل شوه، چې جنرال پاچامیر د هغه ځای د وخت مسؤول شخص له پکتیا څخه مراجعه وکړه. د شهیدانو د ښخېدو ځایونو، چې د ده په یاد وو، له هیأت سره مرسته وکړه او د ۲۰۰۸ د جولای په دویمه نېټه یې له آزادي راډیو سره هم مرکه وکړه. د مړیو په ښخېدو کې د ده مرستیال شاه‌ولي خان هم و. د مړیو پېژندنه وشوه. ان د سردار داودخان په غاړه هغه طلایي پوښ شوی قرآن کریم هم وپېژندل شو. په دولتي او اسلامي مراسمو سره چې په ارګ کې اجراء شول، د دارالامان په غونډیو کې په عزت خاورو ته وسپارل شول.

جنرال پاچامیر د آزادي راډیو خبریالې حمیدې مومند په ځواب کې وایي چې:

د نورو له جملې نه یې محمدموسی شفیق پخوانی لومړی وزیر او لوی څارنوال او د عدلیې وزیر وفي الله سمیعي او د بهرنیو چارو وزیر سیدوحیدالله عبدالله

(c) ketabton.com: The Digital Library

وپېژندل، چې هغه يې ژوندي راوستل، هلته ځای پر ځای يې په پولګيون کې په ډزو شهيدان کړل چې جمله اته تنه وو. دا کسان يې څو ورځې ژوندي ساتلي، د غوايي له انقلابه درې ورځې وروسته يې شهيدان کړل. نوراحمد نور شهيد شفيق د هلمند د اوبو په قرارداد هلته د مرګ په صحنه کې ملامت کړ چې هغه ورته ووېل چې دا قرارداد د ببرک، اناهيتا او حفيظ الله امين له خوا هم په ولسي جرګه کې پاس شو. د وژلو په وخت کې به د الله اکبر چيغې پورته شوې.
جنرال صاحب لا دا هم زياتوي چې وطنجار او نور به په دوی پورې خندل. (د پسرلي سباوون او د ګوليو باران، ۴برخه).
دا تش په نامه انقلابيان چې مسخ شوي انسانان(؟) دي، دلته د اسلم وطنجار په هکله ليکم:
وطنجار د پکتيا په زرمت کې زيږېدلی، په ۱۳۴۷ کال کې د حربي پوهنتون له زرهدار پوهنځي څخه فارغ شوی، چې د فراغت په ورځ يې په قرآن‌مجيد او د هېواد علَم مبارک د دفاع لوړه وکړه، چې وفادار پاتې نه‌شو او د چنګاښ په کودتا کې جذب شو.
د چنګاښ له کودتا يو کال وروسته ټولو ملکي او پوځي مامورينو له جمهوريت سره د وفادارۍ ليک د قرآن په لوړه لاس ليک او تعهد يې وکړ. دې ته هم وفادار پاتې نه شول. د غويي انقلاب خوا ته ورغړېدل. وطنجار د امين قومانده ومنله او په انقلاب ورګډ شو. امين ته وفادار پاتې نه‌شو. د شوروي په سفارت ننوت، د تابوت په واسطه شوروي ته ولېږدول شو، د مرغومي د شپږمې يرغل ملګری راغی. د ببرک رهبري يې ومنله، وزارت ته ورسېد، وروسته يې د نجيب پلو ونيو.
نجيب چې د ګلم‌جم له خوا له تېښتې راوګرځول شو، لار ترې ورکه وه، اخير د ملګرو ملتونو دفتر ته ننوت. ده د دفاع وزير په توګه لاس ورنه‌کړ او خپل يو ولسمشر خپل يو ګوندي ملګری يې ونه‌ساته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې رژیم نسکور او مجاهدین واک ته ورسېدل، خپل اصل ته یې رجوع وکړه، شوروي ته ورواوښت. د KGB نور پکار نه و، یوه سوځول شوې مهره و. لوېدیځ خوا ته یې - چې دوی به امپریالېست باله – مخه کړه، شوروي سرحدي پولیسو له سرحده د تېرېدو اجاز ورنکړه، خو ده پیسې نه درلودې او یا زړه نه درلود. د روسیې د سرحدي پوځیانو له خوا څو ځلې په څپېړې وهلو سره شا ته وتمبول شو. چې د ۲۰۰۰ کال د نومبر په میاشت کې یې په غربت او ذلت کې ساه ورکړه او جنازه او قبر یې د ده د نورو ملګریو لکه تره‌کي، امین او کارمل غوندې چا ونه‌لیدل. البته دا هم د انقلاب یو قرباني و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انقلابي اداره

**«تاريخ شاته نه ځي!»** لېنېنستان

انقلابي شورا د دولت په چوکاټ کې نوی اورګان شو چې په سر کې يې نورمحمد تره‌کی (اېجنټ نوم *نور* او *مدېدوف*) د انقلابي شورا مشر، د (ا.خ.د.ګ) عمومي منشي او لومړی وزير وټاکل شو، ببرک کارمل (اېجنېنټ نوم *مريد* بيا *مارتوف*) د تره‌کي په ټولو دندو کې مرستيال، حفيظ الله امين (اېجنټ نوم کاظم) د بهرنيو چارو وزير او د لومړي وزير مرستيال، ډګروال قادر (اېجنټ نوم عثمان) د دفاع وزير، نوراحمد نور د کورنيو چارو وزير، صمد اظهر (اېجنټ نوم فتح خان) د پوليسو د امنيت عمومي آمر، اسدالله سروري د (اګسا) د استخباراتو د ادارې مشر او جګړن وطنجار د مخابراتو وزير، جنرال رفيع (اېجنټ نوم پېروز) د فوايد عامې وزير، سلطان علي کشتمند د پلان وزير، دستګير پنجشېری (ريچارد) د پوهنې وزير وټاکل شو.

شورويان له خپل پلان سره سم خپل هدف ته يو ګام نور هم ورنږدې شول، په افغانستان کې اوس پوره او سوچه کمونېست نظام واکمن شو.

افغانستان ته د نړۍ پام راوګرځېد، د KGB په مقابل کې CIA، ساواک، ISI او RAW (راو) هم فعالې شوې؛ نيول، وژل، شکنجې زور وموند. د هېچا سر و مال او ناموس خوندي نه وو. خلک د ټاټوبي پرېښودو ته اړ شول، په کډو پيل وشو. تصفيې هم شدت ومومند.

د تصفيې تر عنوان لاندې ديني عالمان، قومي مشران، پوه کسان، د هېواد خدمتګاران، ملي تجاران، دهقانان او زمينداران، کاريګران، د ښوونځی شاګردان، محصلان او استادان د تصفيې په نامه ونيول شول. شکنجه او بې له محاکمې اعدام او ووژل شول. چا چې کولای شول، هغو د مهاجرت لار ونيوله.

په عمومي ډول د ګوند او يا شمالي ستر ګاونډي بې‌رنګه، بې‌خونده او مسخ شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنه په کار وه؛ هر چا ته یې یوه پلمه درلوده، د دوی انټرناسیونالېزم د افغان‌ستیزۍ په معنا و او د مټریالېزم فلسفه منل په څرګند ډول د کفر او اسلام ترمنځ جګړه او د اسلام دښمني وه.

انقلابیان پوهېدل چې دوی څوک نه مني. هره ناروا او جفا له انقلاب ضد جرم سره وتړل شوه. دیدوف دا کډوال «کوچیان» وبلل او کله به یې دا «لوی شمېر فیوډالان» وبلل. یو لوی شمېر لنډغر او اوباش واک ته ورسېدل. بې له اسنادو او ثبوتونو څخه اعدامونه دود شول.

انقلابیان په دې پوه وو چې څوک به دوی ونه‌مني؛ همدا وو چې دیدوف ولس ته د جګړې اعلان وکړ. مخالفین یې «واجب القتل او مباح الدم» وبلل.

هرې خوا ته د انقلاب ضد عناصرو، امپریالېزم او فیوډالېزم د مبارزې خبرې اورېدل کېدې. ډېر انقلابي ملګري وو چې نه د انقلاب په اهدافو پوه وو او نه ورته امپریالېزم سم څرګند و. انقلابي ملګري د هېواد له دود او دستور، ویاړونو، تاریخ، روایاتو او کیسو څخه بېګانه وو. آیاتو، احادیثو او ملي ارزښتونو ته یې هم سپک کتل. په عوض کې یې د مارکس او لېنن خبرو ځای ونیو او د کانې لیکه شوې. د تکبیر او بسم الله مبارکې کلمې په ځای «هورا» دود شوه، دوی په تکبر او مستۍ کې ډوب وو.

معارف، اقتصاد، کرنې او روغتیا ته پام نه و. «کور، کلی، ډوډۍ» هم نور هېر شول، تصفیې او پاکسازۍ او د انقلاب ضد عناصرو نیولو ته یې ډېر پام و. نیول، شکنجه، جنسي تېري او وژنې په بې‌رحمه توګه دود شوې. د نورالامین (تره‌کي او امین) له خوا پر ولس باندې جګړه تحمیل شوه.

واک د خلقیانو په لاس کې و، پرچمیان څنډې ته ټېل وهل شول، په **۲۲۹**مخ کې د قادر د سیاسي خاطراتو د کتاب په حواله د اوومې فرقې شپږ تنه پرچمیان د امین له خوا ووژل شول. همدارنګه د **۲۶۰**مخ په حواله په کندهار کې اووه تنه پرچمیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړل شوي دي، او د همدې مخ په حواله غزني ته د دوولسو ورلېږل شويو افسرانو وژل کېدل راوړي دي.

کاريګري نظام او پروليتاريا، دېکتاتوري اعلان شوه. د شوروي د دولت په موډل برابر نظام رامنځته شو لکه د مرکزي کمېټه، پوليت بيرو، ولايتي شورا، رئيسه هيأت، منشي، اصلي غړي، علل البدل غړي، آزمايشي او پرورشي غړي، اصلاحات نومونه اورېدل کېدل. د مطبوعاتو او قضا خپلواکي له منځه ولاړه، پارلمان لغو شو، هر څه د ګوند (انقلابيانو) لاس ته ولوېدل.

د انقلاب او ضد انقلاب خبرې کېدې، مګر ژر له يوې او بلې خوا د مقاومت او پاڅون خبرې راپورته شوې. د انقلاب د لومړيو قربانيو د چنګاښ د انقلاب غټ انقلابي او د کورنيو چارو پخوانی وزير فيض‌محمد و، چې د يوه هيأت په مشرۍ پکتيا ته د مقاومت (ضد انقلابيانو) د آرامېدو دنده ورکړل شوه. مګر د ځدراڼ قوم مجاهدينو له هيأت سره په ۱۹۸۰کال کې په يوه غونډه کې د انقلاب د مخالفينو له خوا په هغه اوله جرګه کې د انقلاب قرباني شو. انقلابيانو هم ونه‌کړای شول چې د جګړې له ميدانه خپل مړي راواخلي. لعل‌محمد علومي د هوايي قواوو خورد ضابط د چنګاښ د انقلاب ملګری، چې د غويي په انقلاب کې د کابل ولايت د څارندوی قوماندانۍ وروسته، د لوګر د ضد انقلابيانو په جګړه کې د انقلاب قرباني او پر قبر يې سره ټوټه د انقلاب د جنډې په نامه ودرول شوه. ژړا او غوغا وه چې مېرمنو يې اشرارو (د انقلاب ضد عناصرو) ته بد ويل.

انقلابي شعارونه او شعرونه به ډېر اورېدل کېدل، لکه:

تاريخ شا ته نه ځي! سر ورکوو خو سنګر نه ورکوو! (د دفاع اوسني وزير اسدالله خالد د همدې شعار په ياد داسې شعار ورکړ «سر وهو او سنګر نيسو». (نه هغو سر ورکړ او نه دوی سر وواهه.) او داسې نور. د دوی په اصطلاح پرتمينې غونډې او پرتمين لاريونونه کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انقلابیان نوي پرې ورګډ شوي وو، په مسایلو کې ډېر جدي او برخورد یې ډېر خشن و، له همدې کبله طاهر بدخشی له ګونده ووت، د «ستم» ګوند یې جوړ کړ د فدراسیون او تجزیې لار یې ونیوه. جنرال قادر (عثمان) د خپل کتاب «خاطرات سیاسي» په **۳۹۱**مخ کې راوړي: کله چې کنړ د مجاهدینو له خوا ونیول شو او د قوای‌مرکز قوماندان جنرال ودود یې په بېرته نیولو کې ناکام او په شا ولاړ، دا د جګړې د فرار په توګه تعبیر شو، جنرال ودود د ملي دفاع وزیر قادر له خوا تهدید او ځانوژنې ته اړ شو.

په درې سره حکومت (دیدوف، کاظم او مارتوف) یو ائتلافي حکومت و، یووالی ورځ تر بلې کمرنګه کېده، ببرک او پرچم قرار قرار څنډې ته کېدل.

د تره‌کي فرمانونه تر نهو فرمانونو ورسېدل، د شپې له خوا بندیز دوام درلود، وژل هماغسې روان وو، تصفیه او پاک‌کاري چالانه وه.

د انقلاب رهبر (دیدوف) به ویل چې «**ما لار جوړه کړه اوس هر څومره چې کولای شئ منډې پرې وهئ!**» کله به یې ویل چې «**د خلکو زور د خدای زور دی!**» کوم نومونه چې پرې نښلول شوي وو، د ده به هم باور پرې وشو، چا به رهبر توانا باله چا آموزګار.

چا چې د انقلاب قومانده ورکړې وه او د ګوند پوځي برخه یې هم په لاس کې وه، ملګری امین و چې ورځ تر بلې یې ځان ته واک راکشاوه، اعلان به یې وکړ چې «یوازې یو میلیون خلقیان بس دي!».

د ملګري امین تصفیه سراسري وه، یوازې د انقلاب ضد عناصر نه، بلکې ګوندیان هم تر تېغ لاندې وو. (KGB در افغانستان) په ۱۸۱ مخ کې یوازې د شپږ سوه پرچمیانو وژنه د انقلاب د مخالفت په تور راغلې ده، وایي: انقلاب خپل بچیان خوري!

اسدالله، امین د (کام) مشر هم په خپل وخت کې د نهو تنو پرچمیانو په وژلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتراف وکړ. همدا دي چې انقلاب قرباني غواړي. (KGB در افغانستان، ۱۷۸مخ).

په نوي انقلابي رژيم کې اسدالله سروري د جاسوسۍ (اګسا) د ادارې مشر، سيد داود تړون (جګړن) د پوليسو عمومي قوماندان، عبدالکريم ميثاق د ماليې وزير، صالح زيری د کرنې وزير، غلام مجدد د راډيو او ټلويزيون وزير، جګړن سيد عبدالله د څرخي پله قوماندان شو. (څرخي پله زندان د ټولو جناياتو د اجرا او تطبيق لومړی ځای و.) پاچاګل وفادار په ډهلي، رازمحمدپکتين په مسکو او نظرمحمد په بن کې سفيران وټاکل شول.

دا هم ليکل غواړم چې ريچارډ د پاچاهۍ په دوره کې ولسي جرګې ته کانديد و. په خپل کمپاين کې يې د اساسي قانون خلاف مبارزه کوله. زنداني او محاکمه شو، چې محمدرحيم خان (غلام بچه) ته ننواتې ورغی او پښو ته يې ولوېد، هغه يې د عفوې زمينه برابره کړه. لکه چې مخکې اشاره وشوه.

کله دلته کله هلته پاڅونونو سر راپورته کړ، د انقلابيانو عکس العمل به نور هم شديد کېده. مثلاً په کنړ کې ډګرمن عبدالروف صافی پاڅېد، د کنړ والي او خلقي افسران يې ووژل چې دا هم بايد د انقلاب په قربانيو کې وشمېرل شي. د زابل په درواز کې تورن مظفرالدين خپله لېوا قبضه کړه. د کب په ۲۴مه د هرات پاڅون، د بالاحصار خوځښت، د چنداول پاڅون او داسې نور. پر انقلابيانو تياره راوستل شوه.

انقلابيان آرام کېنه‌ناستل، له انقلابه دوې مياشتې تېرې نه وې چې ملګري امين د ۱۹۷۸ کال د جون په ۱۷مه د انقلاب پر ملګرو بريد وکړ. ببرک مارتوف چې د نورمحمد ديدوف په ټولو صلاحيتونو او دندو کې مرستيال و، له شپږو نورو انقلابي ملګرو محمود شېر (KGB نوم)، عبدالوکيل، نوراحمد نور، ډاکتر نجيب، ډاکترې اناهيتا راتب‌زاد او مجيد سربلند سره چې له انقلاب سره د خيانت ګومان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورباندې کېده، د سفيرانو په نامه له مخې لرې کړل. دا يو انقلابي تصميم و. طبيعي ده چې په انقلاب کې به لوړې او ژورې راځي.
ډاکتر برنا، نجم‌الدين کاوياني هم زنداني شول، داسې کړنې د ګوند د يووالي د ماتېدو په معنا وې، دا د ببرک نيژدې کسان وو، بريالی (شېر) يې ورور، عبدالوکيل يې د ماما زوی و، اناهيتا يې معشوقه او نوراحمد نور د پرچم د پوځي کمېټې مشر و. دا مسلک همدا ډول ځناورخويه و، هر يوه په خپل منځ کې هم يو پر بل رحم نه درلود. کشتمند د خپل کتاب «رويدادهاىِ سياسي» په ۱۹٦مخ کې راوړي دي چې د ببرک له لرې کېدو وروسته دا مشهورې څېرې زندان ته واچول شول، لکه:
پېروز، فتح خان، سرور منګل، محمدعثمان راسخ، نورالحق علومي، نظام الدين تهذيب، حبيب منګل، حشمت کيهاني، محمدحکيم سروري، آصف الم، غفور رزمجو، وکيل پيکارجو، مهرچند ورما، محمدهاشم فخري، محمداسمعيل محسور، دکتور حيدر مسعود، ډاکتر خليل ابوي، محمدعارف، فيض الله ذکي، رحمت الله اخګر، خليل الله زمری، صخره اسد، محمدنبي کوشا، صديق افسر، باقي افسر، محمدنبي چوپان افسر، ذبيح الله زيارمل، عبدالرشيد وزيري، جلال رزمنده، مسرور جمال، محمدسرور يورش، محمدبشير يورش، غلام سخي اتمر، لعل پاچا ژوندون، احمدمريد، وحيدالله کشتمند، توريالی کارمل، محمدظاهر طنين، مينا عبادي، فريد مزدک، داود سرلوړی، افضل لودين، منوګی منګل، بصير رنجبر، دکتور مجاوراحمد زيار، محمدعزيز کوشان، او په مېرمنو کې ثريا پرليکا، ظاهره دادمل، صالحه اڅکزی، فاضله دلزاده، کريمه کشتمند، دوکتورس شهلا نجيمي، عالمه سمين. نورې مېرمنې له کاره برطرفه شوې. البته د دوی په اصطلاح انقلاب کله خپل بچيان هم خوري! ملګري امين لکه شاه دو شمشېره خپل او پردي، ګوندي او غير ګوندي په دواړو لاسونو وهل.
په ولس کې څوک پاتې نه‌شول، يا مړه يا زندانيان، يا فرار شول، نوبت د پرچميانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغی د همدې کال د اګست په ۷مه له انقلابه لا دوې میاشتې نه وې تېرې چې د بل انقلابي برید اعلان مو واورېد، چې پرچمیان تر بل انقلابي برید لاندې راغلل، د دفاع وزیر قادر (عثمان)، لوی درستیز شاهپور احمدزی، د جمهوریت روغتون طبیب علي اکبر، د پلان وزیر سلطان علي کشتمند، د فواید عامې وزیر پېروز، د انقلاب په ضد د کودتا په تور ونیول شول.

تحقیق د «اګسا» مشر اسدالله سروري چې هغه وخت یې «پیلوټ» تخلص کاوه، په لاس کې واخیست. د تحقیق په جریان کې له دې متهمانو سره انقلابي برخورد کېده، له هر ډول شکنجې څخه دریغ نه کېده. کشتمند دا شکنجې غیراخلاقي بللې. ان جنسي تېری کېده.

په پای کې انقلابي محکمې پر ټولو د انقلابي اعدام غیابي پرېکړه وکړه، چې دا د رژیم په ټولو دورو کې دود و. حکم تنفیذ شو، مګر پر کشتمند، قادر (عثمان) او محمدرفیع (پېروز) باندې د شوروي د دوستانو په واسطه له اعدامه ابدي حبس ته تخفیف شول. کشتمند د خپلې قضیې څارنوال پتوال بولي. جنرال قادر په خپل کتاب «سیاسي خاطرات» کې راوړي، کوم وخت زندان ته زما د لیدو لپاره اسدالله سروري راننوت، دی وایي «زما په خوله کې نصوار وو، چې پر مخ مې ورتوف کړل او په خښته مې وویشت» د غویي په اوومه دوی د انقلاب ملګري وو، د حامدکرزي له هوایي ډګره سروري و چې ډګروال قادر یې د بګرام هوایي ډګر ته د عملیاتو لپاره یووړ. اما نن حالت بل و. جنرال عثمان چې کله د پلچرخي له زندانه د «ببرک شاهي» وخت کې ژوندی راووت، یو ځای کیسه کوله: چې امین ته یې وویل، هغه ورځ دې په یاد ده چې له تره‌کي صاحب سره یو ځای زما کور ته راغلې، مګر نن بل ډول یې. ده ورته وویل که تا د انقلاب موافقه نه وای کړې، بل به پیدا شوی وای.

وزیر صاحب عثمان تاب رانه وړ، په کودتا کې یې اقرار وکړ او کشتمند یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریک وښود. د جنرال قادر او کشتمند د کودتا په تور شاهپور احمدزی، ډاکتر علي اکبر، ډاکتر کریم زرغون، طاهر بدخشی او نور د ۱۳۵۸ کال د لیندۍ میاشت کې اعدام شول. «کشتمند، رویدادهای تاریخي، ۵۷۲مخ). کشتمند له جنرال قادر څخه ګیله کوي چې ولې دې پر ځان او پر ما بهتان ووایه. د ده جواب «مرا زیاد شکنجه کردند، دیگر راه نداشم.» بدخشی د کشتمند د خور جمیلې خاوند و، چې اعدام شو.

له اوو تنو پرچمي انقلابي سفیرانو سره یې هم د کودتا تړاو ورکړ. د هغو جلب صادر شو، هغه پوهېدل چې دا جلب په څه معنا دی، دوی له سفارتخانو څخه وتښتېدل. د سفارتونو دارایۍ یې چور کړې. ملګري امین، چې د بهرنیو چارو وزیر و، دا سفیران ترک تابعیت کړل.

پر عبدالوکیل چې کومې خوارۍ او سرګردانۍ راغلې، په خپل کتاب کې راوړي دي او په پاکستان کې د شوروي سفیر ته د شېر زارۍ او ژړاوې محترم پوهاند ډاکتر محمدحسن کاکړ په خپل کتاب «د افغان – شوروي جګړې» کې راوړې دي. نورو به هم دا ستونزې تحمل کړې وي، تر ټولو نوراحمد نور سم و چې د امریکا له سفارته یې د غنمو دوه لکه ډالر جیب ته کړل. له انقلابي ملګرو سره یې شریک نه کړل. کله کله به ببرک د ده د خودسرۍ د مخنیوي په خاطر ترې حساب غوښت. ستارخان حکمران د ده پلار هم له پخوا همدا ډول چوتار و.

انقلابیان له اخلاقو نه خلاص، د شهوت تر اغېزې لاندې وو، د یوه او بل په مقابل کې یې د هېڅ ډول وحشت پروا نه کوله، لکه لېوان مخامخ سره ویده کېدل. په ظاهر به یې یو بل ته ملګری وایه، مګر پر یو بل یې انقلابي ګوزارونه کول. همدا ډول عام ولس به خلقیان «مردار هډي» بلل.

عبدالوکیل د خپل کتاب «از پادشاهي مطلقه...» په ۳۵۹مخ او نورو څو ځایونو کې د پرچمي مخفي سازمان بیان راوړی دی، مګر د امین په مقابل کې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې د فعالیت امکان له چا سره نه و. او نه چا دا جرئت درلود او نه چا دا فعالیت محسوس کړی، دا یوه مبالغه ده. د ملګري امین له ډاره دوه انقلابیان «غلام مجدد او بارق شفیعي» په خپله رضا او اګاهانه داوطلبانه ډول پلچرخي زندان ته ننوتل. تصفیې دوام درلود.

جنرال نبي عظیمي د خپل کتاب «اردو و سیاست» په ۱۶۸مخ کې د څلور سوه تنو پرچمیانو زندان ته لېږل او د دوه سوه او پنځوسو وژل هم راوړي دي، چې د انقلاب په قربانیانو کې شمېرل کېږي. رښتیا انقلاب په وینو راځي او په وینو به ساتل کېږي.

عبدالوکیل د خپل کتاب «از پادشاهي مطلعه تا سقوط جمهوریت دموکراتیک» په ۳۱۸مخ کې د ریشخور د فرقې د شپږ تنه پرچمیانو وژل او د جنرال قادر «خاطرات سیاسي» د ۳۱۸مخ په حواله له کندهار اووه تنه افسران رالېږل شوي او اعدام شول. چې یو یې پېژندوال انور و. او په ۳۳۲مخ کې محمدهاشم د کوماندو د ۴۴۴ قطعې قوماندان محمدهاشم او په ۳۳۵ مخ کې د سلطان ځدراڼ او په ۳۵۹ مخ کې ډګرمن هدایت الله د دفاع د اوپراسیون رییس وژل رانقل کړي دي.

د چنګاښ د انقلاب دوه غړي ډګروال محمدیوسف د ۱۵ زرهدار فرقې قوماندان او مولاداد فراهي د مرکزي ادارې رئیس د پرچمي او د انقلاب ضد په تور ووژل شول (د وکیل کتاب، ۳۱۹مخ)

محمود شېر ساسلوف ته د امین له لاسه شکایت وکړ چې صدیق کمونستان وژل کېږي (KGB، ۶۳مخ).

د دیدوف او ملګري کاظم دا غوخ دریځ په دې باور و چې شا ته یې یوه لویه استخباراتي اداره KGB ولاړه ده. له KGB سره دا اړیکې دومره مهمې وې چې چا نه پېژندلې، ان ویاړ یې هم ورباندې کاوه. ملګري په سادېزم مبتلا وو، په شکنجه کې یې هېڅ بشري احساس، مقررات او الهي اوامر په نظر کې نه نیول او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیرانساني اعمال به یې «انقلابي برخورد» بلل. د انقلاب ضد تور ډېر جدي او خطرناک و. چا چې کولای شول د سر او ناموس د خوندي کېدو په خاطر د ټاټوبي پرېښودلو ته یې اقدام وکړ. تر مال تېر وو او له خپل داروmداره لاس په سر شول. له هېواده یې د مهاجرت لار ونیوله، د بیا راتګ هیله له چا سره نه وه. په تاریخ کې چې روس کوم ځای پښه اېښې وه بیا یې د چا پورته کول نه دي په یاد. مګر د افغان ولس هوډ بل و. مقاومت جدي و. د ولس نظامي او جنګي ډله چې «مجاهدین» بلل کېده، کوم چې انقلابیانو به «اشرار» بلله، ورځ تر بلې د عقیدې او ناموس د دفاع په خاطر پیاوړې کېده.
د نورالامین په واکمنۍ کې د لوی څارنوال مرستیال یعقوب کمک او د هرات د فرقې قوماندان ډګرمن ګل آغا وار راورسېد، دواړه برطرف شول.
ډېر د انقلاب ضد مخالفین تر محکمې او محاکمې وړاندې اعدام شول او پرېکړه وروسته پرې راووتله، له ډېرو سره نو هغه معامله وشوه کومه چې د ګلم‌جم انقلابي مارشال له حاجي ایشجي سره وکړه.
د زرو پرچمي محصلانو (نویو ځوانانو) د انقلاب د مخالفت په تور زنداني کول او یا ځینې ووژل شول. د ثور د انقلاب یو شفاهي او یا تحریري راپور بس و، تحقیق او محاکمې ته ضرورت نه لیدل کېده او نه چا رسیدګي ورته کولای شوه. دا په دې معنا چې ګوندیانو (پرچمیانو) هم د انقلاب قربانۍ ورکړې.
جنرال نبي عظیمي هم په خپل کتاب «اردو و سیاست» کې د ډېرو پرچمیانو وژل راوړي دي. د انقلاب له مخالفینو سره برخورد او کړنه ساده وه او د تحقیق زحمت پکار نه و. شخصي مخالفت ته به هم د سیاسي او د انقلاب ضد تور رنګ ورکړل شو. اطلاع او راپور کافي و. پوښتنه نه وه. سند او اسنادو ته اړه نه لیدل کېده.
د هر تورن د جبرو اکراه او شکنجې اقرار به هم د محاکمې او قاضي لپاره کافي وو؛ شکنجې، وهل، برقي شوکونه، بې آبي او په مقعد کې لرګي ورننه ایستل، داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وو چې هېڅوک به پیدا نشي چې اقرار ونه کړي.

د جرم د اثبات لپاره د هغو اصولو او قواعدو چې قانوني حکم دی، لکه تحریري اسناد، صوتي اسناد، تصویري اسناد، کوم چې په دې اوسني مدرن کرېمېنالېستیک کې دود دي، رعایت نه کېده. انقلابي ملګرو اړین نه بلل. شواهد او قراین، قسم او نه کول انقلابي ملګرو نه پېژندل. د ملګرو له خوا په دې انقلاب کې هم لکه د میوندوال په تحقیق او قضیه کې همدا رویه وه. د KGB سلاکارانو په هره قضیه کې له تحقیقه شروع تر محاکمې پورې جریان تعقیباوه او ورسره به وو.

لېننېستانو به هر غیرانساني عمل انقلابي برخورد باله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نورمحمد تره‌کی / Nur - Dedov

**«مخالفین واجب القتل و مباح الدم دي!»** دیدوف

د غزني د ناوې ولسوالۍ د نظرمحمد زوی چې تعلیمات یې معلوم نه دي، په بمبی کې یې د پښتون شرکت په نمایندګۍ کې کار کاوه. د ویښ‌زلمیانو سیاسي ډلې عادي غړی و، چې وروسته یې د هغې ډلې مؤسس ځان باله. په بمبی کې یې انګریزي زده کړه. د هند د خپلواکۍ د مبارزینو ننداره یې په دلچسپۍ سره کتله.
په ۱۹۵۱ کې KGB استخدام کړ، چې میاشتینی معاش یې ۱۸۰ روبله و. اېجنټ نوم یې «نور» و اوروسته د «دیدوف» نوم ورکړل شو.
د ولسي جرګې دیارلسمې دورې ته کاندید شو، چې د کمپاین لپاره یې KGB پنځوس زره افغانۍ هم ورکړې. (KGB در افغانستان، ۳۸مخ).
د ولسوالۍ خلکو په دې خاطر رایه ورنه‌کړه چې په لمانځه کې سست و. په بې‌دینۍ مشهور و. ده هم د دین په هکله له ولسمشر سردار محمد داودخان څخه چې کوم وخت یې ورسره ملاقات درلود، د عقیدې پوښتنه کړې وه. سردار ورته په ډاګه کړې وه چې مسلمان یم، پر خدای جل جلاله عقیده لرم. د غونډې د ختمېدو لپاره یې فوري لاس وراوږد کړ.
د ګوند مصارف د KGB له خوا راتلل. چې د ببرک هم پرې اعتراض و، چې ناوړه ګټه د ځان لپاره هم ترې پورته کوي. رهبرِ توانا په داسې معاملو کې پاک نه معلومېده.
سور، غوښن، شنې سترګې او په تندي کې یې شین خال درلود. تر ۱۹۷۸ پورې یې یوه اوږده دوره (۲۷) کاله بریالی خدمت وکړ. چې د دولت په سر کې یې ځای ونیو، دا د KGB لوی بریالیتوب دی.
تره‌کي د کمونېزم د ترویج او د شورویانو د خوشحالۍ لپاره خپروني (تبلیغ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولې. په همدې لړۍ کې یې دوه درې کتابونه لیکي چې مشهور یې «نوی ژوند» د خپل پلار «نظر زاده» په نامه او «د بنگ مسافري» دي. د شوروي فرهنگي کمېټې ده او د ده مېرمنې ته د یوې میاشتې لپاره دعوت او یوه جایزه هم ورکړه. کله چې ده د «خلق» اخبار چلاوه، له شورویانو به یې غوښتل چې په لیکنه کې ورسره مرسته وکړي، مقالې او مضمونونه ورته راولېږي. دا د «بنگ مسافري» کتاب هم ممکن د شورویانو له خوا لیکل شوی وي.

کله چې ولسي جرگې ته چا رایې ورنه‌کړې په کابل کې د امریکا سفارت ته یې د ترجمانۍ لپاره درخواست ورکړ، چې د کابل پولیسو اجازه ورنه‌کړه.

په یو بل کتاب کې یې په ډېره ماست مالي د شورویانو د خوشحالۍ لپاره د ستالین د فعالیتو او سوسیالېزم ته د هغه د خدمتونو په هکله لیکنې کړې وې، چې د شورویانو خوښ نه‌شو او چاپ نه‌شو؛ دی بې‌خبره پرې ورگډ و.

ملگری دیدوف د «ا.خ.د.گ» په لومړۍ کنگره او له انشعابه وروسته بیا هم د گوند مشر شو. ده د KGB له مامور سره په کابل کې په کوڅو او پس کوڅو او پارکونو او موټر کې لیدل او کتل کول. راپور به یې ورکاوه او هدایت به یې اخیسته (KGB در افغانستان، کتاب).

د میراکبر خیبر په جنازه کې د تُندې بیانیې، چې له توهین او تهمتونو ډکه وه، په خاطر له څو نورو کمونېستانو سره ونیول شو.

د غویي د انقلاب په پیل کې دی او نور بندیان راخوشي شول، چې د انقلاب له بري سره سم درې ورځې وروسته زموږ نورمحمد تره‌کی او د KGB دیدوف د گوند عمومي منشي، د هیأت رییسه په سر کې او لومړی وزیر شو.

پوځي حکومت اعلان شو، فرمانونه یو په بل پسې جاري شول. نیول، شکنجه، وژل، د تصفیې په نامه روان وو. ایران او پاکستان ته د کډو اوښتل او مهاجرت پیل شو، اوښتل هم ساده نه وو، له خطر سره تړلي وو؛ مهاجرت یې هم د انقلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالفت باله. غوښتل يې ټول پاتې شي چې ووژل شي.

ملگري په مېلو او چړچو دي او نور زيارايستونکي هېر شول. د تره‌کي سر او صورت سم شول، ډېر القاب ورپورې وتپل شول، کله د انقلاب رهبر و، کله آموزگار، کله د شرق ستورى. امين خپل ځان وفادار شاگرد اعلان کړ، اما صميميت پکې نه و. ځينو ملگريو (گلابزوى، سروري، وطنجار او مزدوريار) د دې مناسباتو خرابۍ ته لمنه وهله.

کله چې د ناپېيلو هېوادونو د کنفرانس وخت راغى او ملگرى ديدوف دې کنفرانس ته ولاړ، په هيأت کې يې د امين باوريان د تره‌کي ياور جگړن سيد داود تړون او ډاکتر شاه‌ولي د هيأت د غړو په توگه ورسره نيولي وو او د ارگ نور افسران چې وروسته هم څرگند شول د امين باوريان وو، په ارگ کې ځاى پر ځاى شوي وو. د تره‌کي په دې حالت سر نه خلاصېده، چې په محاصره کې دى.

تره‌کى صاحب له هوانا څخه د راستنېدو په لار کې په مسکو کې تم شو او هلته يې د برېژنېف او اندروپوف او څو نورو مشرانو سره ليده او کاته وکړل. هغو ولمساوه، چې امين لرې او پر ځاى يې ببرک کارمل له ځان سره ونيسي.

شورويانو په دې ډول اوبه خړې کړې او د انقلاب جنايات يې يوازې په امين پورې وتړل. ځکه چې انقلاب په خطر کې و، مقاومت ورځ تر بلې جدي کېږي. نو د انقلاب د نجات په خاطر په دې ډول د ولس قهر او طغيان څه آرام کړي.

دا گزارشات به د تړون او ډاکتر شاه‌ولي له خوا په منظم ډول ملگري امين ته رسول کېدل. د انقلاب رهبر په اصطلاح «گپ رو» و، دا روسي هدايت يې ومانه. شوروي ملگري او ملگرى ديدوف پر دې پوه وو چې څوک امين په اسانۍ نشي لرې کولاى. اسدالله سروري، سيدمحمد گلابزوى، محمداسلم وطنجار او شېرجان مزديار دنده واخيسته چې امين به ديدوف د هوايي ډگر د پذيرايۍ په مراسمو کې د انقلاب د مخالفت په تور ترور کړي، دا توطيه پر امين ونه چلېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فضا نوره هم ترمنځ سړه شوه، دیدوف د امین له خوا اړ شو چې دا څلور سره انقلابي وزیران لرې کړي او د انقلاب په قربانۍ کې یې وشمېري. دوی پوه وو چې ملګری کاظم به څه معامله ورسره وکړي، نو د روسیې سفارت ته ننوتل چې د سفارت له خوا دا څلور وزیران په تابوتونو په ډېر عذاب او بې‌عزتۍ تاشکند ته ولېږل شول. البته په انقلابونو کې بې‌عزتي هم کله ناکله باید ومنل شي.

د دواړو انقلابي رهبرانو ترمنځ فضا سمه خړه پړه شوې ده. یو پر بل بې‌باوري نوره هم ډېره شوه. امین چې څه غوښتل، تره‌کي ځان اړ باله چې اجرا او لاسلیک یې کړي. د رد توان په رهبر توانا کې نه و.

په دې خړه پړه فضا کې د خبرو لپاره ملګری امین ارګ ته وغوښتل شو.

امین په کابل کې د شوروي د سفیر «پوزانوف» په تضمین ور روان شو. د ګلخانې د ماڼۍ د دویم پوړ په زینو کې د دیدوف د باډیګاردانو ببرک او قاسم تر فیرونو لاندې راغی، ورسره ملګری سید داود تړون ولګېد. د *نور بي بي تره‌کې* له خولې ډاکتر عظیم چې په دې وخت کې چای راوړه، هم ولګېد (ویروس A، ۲۶۶مخ).

امین په ټپي لاس منډې وهلې مګر له مرګه بچ شو، ملګري دیدوف تر کړکۍ ولید، نو په ډېر افسوس یې وویل چې «اوس نو هرڅه تمام شول!».

د امین زیرک (باډیګارد) ټپي شو. پېښه عمومي شوې نه وه. د اګسا مرستیال نواب د امین له خوا دنده اخیستې وه، چې د اکسا مشر اسدالله سروري د نیولو په نیت دفتر ته ورځي، د سروري ساتونکی قاسم فیر ورباندې کوي، نواب ځای پر ځای لوېږي او ورسره ساتونکی سلطان پر قاسم وار کوي (ویروس A، ۲۳۹مخ). د ساتونکو له جملې د سورګل هم تر اوسه د مرګ او ژوند پته نشته.

ملګري امین ارګ محاصره، تلېفون قطع او تګ راتګ بند کړ. توانا رهبر نور ناتوانه شو، له حرمسرایه راوستل شو، کوټې باغچه کې زنداني او ګوندي غونډه دایره شوه. د ملګري تره‌کي د ګوندي مشرتابه او غړیتوب نه استعفا ومنل شوه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوند انقلابیانو بې له اعتراضه په پټو سترګو ومنله او په اکثریت قاطع ملګری امین د ګوند سرمنشي، د دولت مشرتابه او لومړي وزیر په توګه منظور او ومنل شو.
د امین لور غوښتې هم تر رسمي خبر وړاندې په ښوونځي کې د تره‌کي عکس راکوز او ټوټه کړ، چې تر دې دمه پېښه عمومي شوې نه وه.
رهبر انقلاب د خپل وفادار شاګرد پر فعالیتونو چې په اردو کې یې استخدام او جذب کاوه، د انقلاب قومانده یې په لاس واخیسته، د ټولو خطرونو په منلو سره یې دی له زندانه راوایست، سترګې یې پټې کړې او په بې‌وفایۍ سره په توطیه لاس پورې کړ، چې ملګری امین یې مشروع دفاع ته اړ کړ.
په عمومي ډول ملګری تره‌کی صاحب ساده مزاجه (بوده) په شان و. د دوی ترمنځ کله چې اړیکې خرابې شوې، ملګري امین به دیدوف «نشه‌يي بوډا باله». په دې نه پوهېده، چې نه پوهېږي.
په دې تشنجي حالت کې روسانو هڅه کوله چې دوی دواړه حوصله‌مندۍ ته راوبولي. لکه چې ملګري امین په کابل کې د KGB آمر اېوانوف ته وویل چې **د انقلاب د دفاع په خاطر دندې پرېښودلو، سفارت منلو او آن ځان وژنې ته هم چمتو یم!** (ویروس A، **۲۳۹**مخ).
د **۱۹۷۹** کال د اکتوبر په ۱۸مه جانداد د ګارد قوماندان، حدود د ارګ د مخابرې آمر، اقبال د ارګ د امنیت آمر، روزي خان د ګارد سیاسي آمر، شایسته خان د پلچرخي قوماندان، د لوی درستیز یعقوب له هدایت سره سم په کوټي باغچه کې د بالښت په واسطه د انقلاب ضد اعمالو په تور آرام آرام په عزت د اموزګار دیدوف صاحب ساه وایستله (د حدود تلوېزیوني مرکه).
البته دا د انقلاب لپاره ستره قرباني وه. د تره‌کي صاحب مرګ د وروپېښې ناروغۍ له کبله اعلان شو. جنازه یې ونشوه او چا یې قبر هم ونه لید. یوازې ورېرې یې (زرغونې) چې په پلچرخي کې زنداني وه، ډېر وژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ببرک او شپږو تنو وزیرانو د شهلو او کشتمند او د جنرال قادر محاکمه د تره‌کي صاحب مرګ د ملګري امين يوه لويه لاسته‌راوړنه وه.
عبدالقدوس غوربندي په خپل کتاب «د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند ته یوه کتنه» په ۱۴۷مخ کې د تره‌کي وژنه یوه تېروتنه بللې ده. یو ستر انقلابي بيا هم د انقلاب په لار کې قرباني شو، چې ګټه يې مجاهدينو ته هم ورسېده. د امين له سمو کارونو يو هم همدا و.
دا انقلابي برخورد و، په هر نيت چې و، دا نه د حکمتيار له وسه پوره وه او نه د سياف. که ديدوف حق په جانب وي او ناحقه وژل شوی وي، نو شهيد دی او که ده د ګوند د اصولو خلاف په توطيو لاس وهلی وي، نو ملګري امين ته «غازي» ويل کېدای شي.
د ديدوف په وژنه نه چا اعتراض وکړ او نه د چا سترګې سرې شوې. مګر ملګری برېژنېف ډېر خفه شو. حدود په تلوېزيوني مرکه کې لا دا هم زياته کړه چې د دې لپاره چې عذاب پرې تېر نشي، لاسونه مو د شا له خوا ټينګ وروتړل. د تره‌کي مېرمن «نور بي بي» هم پلچرخي ته ولېږله چې اوس په لندن کې پناهنده ده. ديدوف ۲۸ کاله د KGB د مامور په توګه خدمت کړی و. په ځينو جاسوسي ادارو کې داسې مامورين هم تقاعد او بيمه لري، چې نور بي بي به تقاعد اخلي که نه؟ دا بايد د خپل حق دعوا وکړي.
دا د انقلاب اصول وو چې هر منتقد مخالف دی، هر مخالف ته د دښمن په سترګه کتل کېدل. دښمن بايد حذف شي، ملګري د سنګر پر ملګری هم زړه‌سوی ونه کا. پر امين هم رحم ونه‌شو، او پر نجيب باندې هم د خپلو ملګرو له خوا رحم ونه‌شو. ديدوف صاحب به تل د لېنن رهبر کبير (؟) دا خبره يادوله چې: «د انقلاب پر مخالفينو باندې بايد رحم ونشي.» ملګري امين نور ګونديان له خپلسرۍ څخه راګرځول. دستيګر پنجشېری (ريچارډ)، صالح محمد زېری او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کريم ميثاق به يې کنجکيان بلل او څلور تښتېدلي وزيران (وطنجار، ګلابزوی، سروري او مزدوريار) به يې «څلور نفري باند» باله.
په انقلاب کې د سم انقلابي او خراب انقلابي موضوع مطرح وه. خراب انقلابي هغه و چې د انقلاب د رهبر په پټو سترګو اطاعت ونه کړي. په دې کې شخصي سليقو هم ستر نقش درلود؛ کله چې جنرال شهنواز تڼی د انقلاب د نجات په خاطر پر نجيب راپورته شو، مګر له ناکامۍ سره مخ شو، ISI ته تسليم شو. د طالبانو مرستندوی شو. وايي چې کله چې طالبانو کابل ونيو، د نجيب په مرګ کې د ده لاس و او لاربنوونه يې ورسره وه او پر نجيب يې زړه‌سوی ونه‌کړ. دا منل شوې دود دی چې: انقلاب قرباني غواړي.
**ديدوف به ويل: د انقلاب ډول به ډزېږي، موږ به نه يو!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



«**یو مېلیون په لېننېزم مجهز افغانان او ګوندیان بس دي**» امین

رفیق ببرک به ملګری امین میرغضب باله، ده به ځان ته «وفادار شاګرد» وایه. د ملګري امین په KGB کې ایجېنټ نوم «کاظم» و (KGB در افغانستان، ۵۰مخ).

د پغمان اوسېدونکی د حبیب الله د زندان د مامور زوی، چې د ۱۳۵۸ د وږي په ۲۵مه په غټ اکثریت د ګوند منشي او د دولت مشر شو. د ده پلویانو به د «سپېده دم قوماندان» باله. له امریکا څخه یې په تعلیم او تربیه کې ماستري درلوده او د ملي شورا په پینځه‌لسمه دوره کې په ولسي جرګه کې د پغمان ولسوالۍ استازی و.

په نوي کابینه کې یې ډاکتر شاه‌ولي په خپل ځای د بهرنیو چارو وزیر او د «اګسا» د استخباراتو د اداري نوم په «کام» بدل کړ. او خپل زوم او وراره «اسدالله امین» یې رییس کړ. فقیرمحمد فقیر د کورنیو چارو وزیر، انجینر ظریف د مخابراتو وزیر او صاحب جان صحرایي د سرحداتو وزیر، عبدالقدوس غوربندی د تجارت وزیر وټاکل شو.

شیخ السفرا د شوروي سفیر پوزانوف یې په دې تور چې د ده په ترور کې یې له دیدوف سره لاس درلود، له کابله وشاړه. د عدالت، قانونیت او مصؤونیت اعلان یې وکړ، وژنو د پخوا په شان دوام درلود.

د ۱۲ زره شهیدانو لېستونه د کورنیو چارو وزارت پر دېوالو ونښلول شول. د دې شهیدانو وژل یې د تره‌کي صاحب او اسدالله سروري د «اګسا» مشر کار وباله. او اسدالله سروري د محاکمې په جریان کې وژنې ملګري امین ته منسوبې کړې. خو هېوادوالو ته بې‌توپیره وو؛ عزیزان یې شهیدان شول، څه اسدالله سروري او که امین وژلي د ګوند له خوا دا جنایت وشو. د *میرویس وردګ* په کتاب «د خلق او پرچم ژوندي جنایات» کې د اسدلله سروري په لاسلیک د ډېرو زندانیانو د سرنوشت په هکله هدایت ورکړ شوي دي، چاپ شوي دي، چې «به دوزخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانش کنید!» او یا به لیکل شوي وو چې «به پاکستان روان اش کنید!» چې یوه معنا یې درلوده او دا یو شفر و.

ملګري کاظم د ملګرو عبدالکریم میثاق، دستګیر ریچارډ او ډاکتر زېري د نیولو هدایت سروري ته ورکړی و چې له طاهر بدخشي نه په خپله مبارزه کې د دوی درېیو تنو د ګډون اعتراف واخلي. چې د مجازات لپاره پلمه پیدا کړي (KGB په افغانستان کې، ۴۸مخ).

چې دوی هم په دې ډول د انقلاب په قربانیانو کې وشمېرل شي داسې اقرارونه ډېر آسانه وو، شکنجې هر ناممکن ممکنولای شو. دا مطلب د «افغان جنګي جنایات» کتاب د بېنوا کتابتون په ۲۳ګڼه کې دا هم راغلی دی.

د دیدوف له نیولو سره سم د ۸مې فرقې د توپچي غونډ قوماندان د ۴مې او ۱۵مې فرقې قوماندانان له دندې لرې کړل (اردو و سیاست، ۲۰۳مخ).

ببرک او قاسم د تره‌کي باډیګاردان چې پر امین باندې یې د فیرونو په ترخ کې د تره‌کي یاور سید داود تړون وواژه. امین او وزیري تېپیان شول. د دیدوف تر وژنې وړاندې دا دواړه خلع سلاح او په پولیګون کې د ښایسته‌خان له خوا ووژل شول (د افغان تراژیدي – د روسي تجاوز زېږنده، جنرال عبدالقادر اکا، ۸۱مخ).

ببرک د اطفایې بریدمن هغه څوک و کله چې د سردار زوی عمر غوښتل بېرون ووځي، همده وژونکی فیر پرې وکړ چې شهید شو (د پسرلي سباوون د ګولیو باران، ۱۸برخه).

ملګری امین په خپل سیاسي فکر او اداره کې د یوسف ستالین پیرو و. د ستالین عکس به د مېز پر سر ورته پروت و.

د لېنن د وخت د بهرنیو چارو وزیر (تروتسکي) چې په مکسیکو کې د ستالین له ډاره پناهنده شوی و، هلته د ده ورلېږلي د KGB مامور د تبر په واسطه ووژاه چې د ستالین له خوا هغه مامور په سره ستوري وستایل شو. ملګري امین خپل ملګری

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد د بالښت په واسطه ووژاه. د تره‌کي د ژوندي پاتې کېدو لپاره د ملګري برژنېف هیله هم ونه‌منل شوه (د افغان مېړانه او غمیزه، کتاب ۱۹۹مخ).
د کاظم د اغفال لپاره د شوروي رهبرانو تبریکۍ راورسېدې، د ښو اړیکو هیله هم پکې شوې وه. برژنېف پوه شو چې ملګری امین هغه کس نه دی چې د چا خبره ومني او نه یې د چا د مخالفت زغم درلود. ملګري امین د څلور وزیرانو له تښتېدو سره سم د هغوی ښځې او میندې په پلچرخي کې واچولې.
د ملګري کاظم د انقلاب د ارمانونو د تطبیق لپاره یوازې یو مېلیون په دوران‌سازه اېډیولوژي افغانان پکار و او بس. د کاظم په حکم کې «آقاګل» باعث، عزیز بسام، لعل پاچا، ډاکتر عوض د ګارد افسر، استاد ذکریا، استاد حبیب، پوهنیار عبدالسلام، غلام رسول ووژل.
د امین غوڅ دریځ او خپلواکه اداره د شورویانو خوښ نه وو. برژنېف به (پدرکش او مرتد باله.) دا نګراني موجوده وه چې مخ وګرځوي، نه چې د مارشال ټیټو او یا انور سادات لار ونیسي. امین د برژنېف له خوا د ۶۰۰ پرچمیانو په وژلو هم تورن کړ. له کاظم سره مخکې یوازې کارملیانو (پرچمیانو) او مجاهدینو دښمني درلوده، اوس د دیدوف پلویان د (تره‌کیانو) په نامه هم ورسره مخالف شول او شورویان هم په کمین کې شول.
د غوېي د انقلاب د نجات په خاطر او د نورمحمد دیدوف د وژنې د انتقام اخیستلو په خاطر او د کاظم د ګوشمالۍ لپاره تصمیم ونیول شو چې په دې پلمه پر خپل یوه دوست او غریب هېواد یرغل وکړي. په پولیت بیرو کې برېژنېف د نورمحمد دیدوف وژل پر خپل مخ یوه څپېړه وبلله او *یوري اندروپوف* هم اصرار درلود. د وخت شوروي، هغه وخت د قوت اوج ته رسېدلی و. اندروپوف به ویل چې **اوس شوروي رژیمونه راوړي او رژیم نسکوروي** (دا یې د شوروي لومړی پروګرام تلوېزیوني مرکه کې وویل). اما د افغان ولس له مېړانې لا سم خبر نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اصل کې دا څو ظاهري دلایل وو، په حقیقت کې نورې انګېزې هم وې:

۱. د روسانو عنعنوی ارمان تودو اوبو ته رسېدل،
۲. خلیج او منځني ختیځ ته ورنیژدې کېدل،
۳. د نفوذ سیمه پراخول،
٤. د برژنیف د پراختیا دوکتورین.
۵. د (برادر بزرگ) په توګه خپله اینټر ناسیونالیستي دندې مکلفیت پرځای کول.

(رفیق عبدالوکیل، از پادشاهي مطلقه الی...) کتاب په ۴۳۵- ۴۴۲ مخونو کې په توضیحاتو او استدلال کې له حقیقته په ښنګ تللی دی.

ملګري امین هم تشویش درلود. د خپل امنیت او جاه‌طلبۍ د اقناع په خاطر یې د خپل دفتر او اوسېدو لپاره په دارالامان کې د «تاج بېک» غونډۍ وټاکله، هغه یې جوړه او سمبال کړه او ورکډه شو؛ د شوروي سلاکارانو هم تشویق کړ چې د برید په وخت کې به تلفات کم وشي، نوي قصر ته د کډه کېدو په خاطر او د خپلې سلیقې د نمایش کولو لپاره یې د ۱۳۵۹ کال د مرغومي په شپږمه په مانۍ کې یوه مجلله مېلمستیا جوړه او کابینه یې رادعوت کړه.

مېلمستیا ده، خوشحالي ده، خبرې ته او بالا کېږي، کبابونه دي، شرابونه دي، پیکونه جنګېږي؛ غذا سروېس شوه. له معمول سره سم سوپ راوړل شو، چې خوندور و. ملګری کاظم ویاړي او د خپل آشپز «میخایل» لیاقت ډېر ستایي. خبر نه و چې هغه د KGB غړی او اصلاً د آذربایجان دی، د ملګري له ستاینې سره سم ټولو په غوړپولو پیل وکړ، کاظم صاحب تر ټولو ډېر غوړپ کړل. د ګوند هغه اصلي شعار (کور، کالي، ډوډۍ) د چا په یاد نه و.

په ملګریو کې، ملګري دستګیر ریچارډ (ایجینټ نوم) چې تازه له مسکوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راګرځېدلی و، د شوروي د ملګرو رواداري او د امين په هکله د هغو د ښه نيت خبرې هم له ځان سره راوړې وې، مګر سوپ يې ونه خوړ.

د خوندور سوپ له خوړلو سره سم ټول ګنګس شول، خو امين صاحب تر ټولو ډېر. هر يوه کور ته ځان ورساوه. د ډاکټر صالح مېرمن هاجره او د ډاکټر شاه‌ولي مېرمنې لا پاتې وې.

شورويان پوه شول چې په افغان انقلابيانو څه جوړه نه ده، خپله ميدان ته شول، چې انقلاب ته نجات ورکړي. د الفا او زينت او KGB قطعات درې ورځې وړاندې د شوروي په سفارت کابل کې ځای پر ځای شوي وو او درې ورځې وړاندې بګرام ته هم د انتوني الوتکې په مسلسل او منظم ډول سربازان راوړي او نور قطعات حيرتانو او کشلک ته نيژدې شوي دي.

امين ته ملګري ولايت خان د سردار داود خان روغتون او د شوروي سفارت ډاکتران راوغوښتل. امين ته د سيروم تزريق پيل شو.

شورويان پوه وو چې پرچمي ملګري په مناسباتو کې تر خلقيانو مخلص دي. خلقيان اطرافي او شډل پښتانه دي. پوليت بيرو په داسې حال کې د يرغل پرېکړه وکړه چې ځينې غړي حاضر نه وو. ملګري برېژنېف لا دا هم زياته کړه «چې امين مې ژوندی پکار نه دی».

دا تصميم شفاهي و، اسناد يې پرېښودل. پوځيانو د مرغومي شپږمه خپل پلان وټاکه، چې دا په لوېديځ کې د کرېسمېس رخصتۍ وې. د روسانو په نزد د کاظم ستره ګناه دا وه چې سم انقلابي نه و، خودسره او سرکښ معلومېده.

«د افغان مېړانه او غميزه» کتاب په ۱۳۲ مخ کې لياخوفسکي ليکي: امين تر کمونېستي شعار لاندې د ځان واکمنۍ او زورواکي رژيم د ټينګولو لپاره وژنې، ټکونې او شکنجې دود کړې وې. د همدې کتاب په ۱۳۳ مخ کې راغلي دي: کاظم نه يوازې پخواني علماء، قومي مشران او د پخواني رژيم کارمندان وژلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې خلقي او پرچمي يې هم وژل. ده هم له شوروي څخه څو ځله د سربازانو د رالېږلو هېله کړې وه (همدا کتاب، **۹۲**مخ). چې دا هیله ملګري تره‌کي هم تکراروله. ديدوف نورمحمد، مارتوف کارمل او نجيب، شورويانو ته په خاص ډول مخلصان وو.

ببرک ويل چې **نجيب انسان هغه دی چې په شوروي ايمان راوړي!** نجيب به د مرغومي له يرغله د ولس په استازيتوب منندويي څرګنده کړه. مګر امين دا ډول نه و، پر شورويانو يې باور نه درلود، څو ځله مېلمه شو، مګر ده د شوروي ليدنه ونه کړه.

د مرغومي شپږمه راورسېده. د لېنڼېستانو له کرکټر او ترببې سره سم دروغ، دوکه، د دې رژيم د تغذيې توکي جوړول. نه امين ګرم دی، نه ببرک، نه شوروي او نه نجيب؛ دا رژيم او دا ايډيولوژي همدا ډول ده.

KGB د امين ټکول شوي او فرار سفيران او درې هغه وزيران (وطنجار، سروري او ګلابزوی) چې په تابوتونو کې د امين له ډاره شوروي ته ترانزيت شوي وو، د (داشته آيد بکار) سره يو ځای او د يرغل ملګري کړل. مارتوف ملګری امين ميرغضب او CIA وباله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«**دا ورځ د غويي د انقلاب تکاملي دوره ده!**» ببرک

د شپې اووه نيمې بجې وي، چې د مخابراتو ستېشن ته ګل‌آغا انفجار ورکړ، ملګري امين ته سپروم چالان او ګنګس پروت دی، چې د ستونِ پنجم په ګډون يرغل پيل، مانۍ تر اور لاندې ونيول شوه. دا د مرغومي شپږمه وه، افغانان له نوي آزمون سره مخ شول.

د غويي اوومه د يوې سترې بدمرغۍ پيل او دا تر هغه بدتر. د نړۍ ابرځواک په ټول قوت او شدت په يوه واړه سوله خوښوونکي ګاونډي هېواد د ټولو بشري او نړيوالو نورمونو خلاف بېباکانه تېرى وکړ.

د ۱۳۵۸ کال د شپې په اوو بجو د KGB قطعاتو او کوماندو د الفا سربازانو او د زينت قطعې د دارالامان پرمانۍ، چېرته چې ملګری کاظم نوی ورکوچېدلی و، په شدت او غوځ بريد وکړ. افغانستان هغه لومړی هېواد و چې د لېنن او بلشويکانو رژيم يې په رسميت وپېژانده، ښه ګاونډی و او د دوست په سترګه يې ورته کتل، البته له قطبي خرسه د وفا هيله ساده‌ګي ده.

په بريد کې پينځم ستون (شپږ پخواني سفيران او څلور تبنتېدلي وزيران) ګډ وو. د امين د ګارد سربازان تار و مار شول. نور چا مقاومت ونه کړ.

انقلابي امين لا بيا هم دا بريد د شورويانو له خوا نه باله. د سوپ ګنګستوب لا پکې پاتې و.

عبدالوکيل د خپل کتاب په ۴۲۱ مخ کې د امين د کورنيو چارو د وزير فقيرمحمد فقير، د دفاع وزارت د سياسي آمر اقبال وزيري، د قواى مرکز د سياسي آمر حبيب الله راضي د نيولو جريان هم راوړی دی. لوی درستيز يعقوب د خپل سلاکار له خوا وويشتل شو، چې ډېر ربړېده. بل ځای مې لوستي دي چې يعقوب نيم ځانه و. انديشمند په خپل کتاب «احزاب دموکراتيک خلق افغانستان» په ۲۹۹ مخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم عبدالوکیل ته ګوته نیسي، چې د وکیل له خوا فیر او ختم شو. وکیل په خپل کتاب کې هم د یعقوب په هکله تفصیل ورکړی دی. داسې څرګندېږی چې ښه زړه یې ترې نه درلود. جنرال عثمان د دفاع وزیر هم د خپل کتاب په ۱۰۹ مخ کې راوړي دي چې وکیل خپله تفنګچه راوایستله اود لوی درستیز یعقوب ځنکندن او عذاب یې ورلنډ کړل. د ګارد قوماندان جانداد هم لګېدلی و. جانداد او یعقوب هم د انقلاب د لارې قربانیان شول.

افغان سربازانو، که څه هم نه پوهېدل چې د چا لپاره جنګېږي، کلک مقاومت وکړ. نیمایي د انقلاب د نجات په خاطر قرباني شول، یرغلګر د شوروي قطعات، د الفا او زینت قطعو هم نیمایي ووژل شول (جنرال لیاخوفسکي د کتاب په حواله). هر څه چې وو، موضوع د ملګري امین او رفیق ببرک د څوکۍ پر سر او خپلمنځي شخړه وه.

په «پټې توبې» کتاب کې، چې د شوروي د ستنو شویو سرتېرو مرکې پکې خپرې شوې دي، ټول شورویان وایي موږ په افغان ولس کې په خطا سره وژنې وکړې، موږ هم تلفات درلودل، معتاد او معیوب راوګرځېدو. هم دا مطلب تائیدوي. سوال دا دی چې چا ولېږلو او د څه لپاره؟

ملګری کاظم لا ژوندی و، مګر ګنګس. د سېروم ستن یې لا په بازو کې وه او یوازې په زېرپېراهني کې یې یوې او بلې خوا ته منډې وهلې. دا برید یې د اشرارو (مجاهدینو) باله. باور یې نه و چې برید د شوروي دوستانو له خوا و، دویم منزل ته شوروي سربازان ورپورته شول او دی یې د ورسره عکس سره پرتله کړ. اصلي هدف یې وموند چې دی دی.

انقلاب ته د نجات ورکولو په خاطر یې فیر وربانديې وکړ. دا هم د انقلاب لپاره یوه بله غټه قرباني وه.

«تهاجم ویروس A» دا هم زیاتوي چې (سروري) راغی، د ملګري امین جسد یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته سم کړ او په ورسره تفنګچو يې پر مړي فيرونه وکړل. چې د امين په ژوند کې دا ناممکن وو.

د ملګري برېژنېف وينا پر ځای شوه، چې «**امين مې ژوندی پکار نه دی.**»

د امين دوې لوڼې *غوټۍ* او *ګلالۍ* هم ټپيانې شوې. بل زوی يې *خوازک* چې ټپي شوی و، مامد (ګلابزوی) له ځان سره واخيست، چې تر اوسه يې مړی او ژوندی معلوم نه دی.

د صالح زېري او ډاکتر شاه‌ولي مېرمنې هم په همدې شپه دلته مېلمنې وې، چې د شاه‌ولي مېرمن ولګېده، هاجره د صالح زېري مېرمن د امين له کورنۍ سره پلچرخي ته ولېږل شوه. د امين مېرمنه «پتمنه» تر ۱۹۸۵ز پورې په زندان کې وه، وروسته هندوستان، بيا روسيې ته ولاړه او اوس په هامبورګ (آلمان) کې ژوند کوي، ځو کاله وړاندې کابل ته راغله چې پخواني ګوندي ملګري ترې پټ شول.

نړيوالو او د ملګرو ملتونو شورا يرغل وغانده او د مجاهدينو د حق د لارې مبارزه يې تاييد کړه. د شوروي سپوږمکيانو هېوادونو د مشر ورور يرغل تاييد او اړين وباله. د دې هېوادونو اداره هم په غيرمستقيم ډول د KGB په لاس کې وه.

د ګرجستان کمونېست ګوند منشي *شيوارد نادزې* (وروسته د بهرنيو چار وزير شو) دا يرغل تاييد کړ او زياته يې کړه چې «د شوروي مشران د زمانې نادودو ته خپل نيژدې دوستان يوازې نه پرېږدي.» (د افغان مېړانه او غميزه) کتاب په ۱۵۷ مخ کې راځي، کله چې د بهرنيو چارو وزير شو، تلوار يې و چې له افغانستانه پښې سپکې کړي.

د ملګري کاظم مړی هم لکه د ديدوف او سردار محمد داودخان، چا ونه‌ليد.

د مرغومي د شپږمې په عملياتو کې شورويانو هم د غويي د انقلاب د دفاع په خاطر ډېر تلفات وليدل. مګر د «الفا» د کوماندو له شپېتو تنو څخه يوازې شپږ تنه ژوندي پاتې شول. د ګروپ سر قوماندان *برايس سدوروف* هم ولګېد. «تهاجم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویروس A» کتاب راوړي دي چې د امین د گارد افغان سربازان هم بې له دې چې انگېزه ولري په مېړانه او زړورتیا له انقلابه د دفاع په خاطر وجنگېدل.
«د افغان مېړانه او غمیزه» کتاب په ۱٦۷ مخ کې چې د برېژنېف له خولې نقل قول شوی دی چې کاظم یوازې شپږ سوه تنه گوندیان وژلي دي. دا څرگند نه‌شوه، چې امین صاحب څه شی و، کمونېست او که کپیټالېست یا هندو او که مسلمان!
اما دا څرگنده ده چې بې‌زړه سوي وژونکی و، ځان یې خوښ و، چې په دې لار کې یې سر هم ورکړ.
په دې عمل شوروي په خپل کله‌خام عقل افغان ولس ته هم د چکوسلواکیا او هنگري فکر کړی و. په هغه کال د انگرېز نوې لومړۍ وزیرې *مادام تیچر* چې نوې ټاکل شوې وه، شورویانو ته وویل چې لومړی مو باید د افغان تاریخ لوستی وای او له موږ سره مو هم سلا کړې وای. شوروي هم ژر پښېمانه شو، د تلو په لټه کې شو. په همدې شپه ببرک کارمل هم د شپږ سوه تنو پرچمیانو د گډون لوز کړی، چې یوازې یو نفر راغی (د افغان مېړانه او غمیزه، ۲٦۰مخ).
ټک او ټوک لا دوام درلود، له تاشکنده د کابل رادیو په څپو کې له پېژندل شوې حنجرې څخه د امین د وژلو او د انقلاب د بل پړاو (دوره تکاملي انقلاب) اعلان وشو.
تره‌کی (دیدوف) یې شادروان او حفیظ الله امین (کاظم) میرغضب او د CIA جاسوس وباله.
دی د خپل ورسره افغان ملگرو تښتېدلیو وزیرانو او سفیرانو سره په ټانک کې له بگرامه کابل ته راوړل شو.
په سبا کابل ښاریان بامونو ته وختل د «الله اکبر» چیغې پورته تر عرشه ورسېدې او په ولایاتو کې یې هم پیروي وکړه. پر ولس د سرو غویانو غوبل راغی. د ویروس A مؤلفان د ببرک دا ادعا ردوي چې امین د CIA جاسوس و، دوی زیاتوي، که

(c) ketabton.com: The Digital Library

امین جاسوس وای نو به یې کورنۍ ته د ده تقاعد ورکړی وای (**۳۲۶**مخ). البته دا تقاعد د جاسوسۍ په ادارو کې معمول دی.

شوروي یرغل بریالی شو، روسانو خپل روزل شوی کاظم لرې کړ او بل روزل شوی کارمل نصب شو. ولس نور هم وقهرېده، نړیوالو یرغل وغانده، د ختیځ بلاک ظاهري سیاست بل ډول و، په پټه یې دا حرکت وغانده. ان د KGB مامورینو دا عمل وغانده. په داسې عمل او بري په خپله روسان هم شرمېدل(KGB در افغانستان، **۸۹**مخ).

نوره هم د جهاد جبهه پراخه شوه، په چریکي جګړو هم لاس پورې شو، لکه ډاکټر سید افغاني د دیني علماو په سر کې چې په خپله هم عقیده نه درلوده او د کمونېستي نظام په هکله یې د «ا.پ.ن» جایزه وړې وه، په خپل کور کې ترور شو (ویروس A، **۲۵۶**مخ).

رفیقیانو او ګوندي ملګرو هڅه کوله چې انقلاب ته خپل خدمت او صداقت څرګند کړي او بالآخره ښې ښې جملې او لغتونه کتار کړي، مثلاً *فرید مزدک* به ویل:

**نړۍ ته سوسیالېزم دومره ضروري او مهم دی، لکه مځکې ته چې لمر دی!**

جل جلال او مبالغه هم اندازه لري، اوس به یې چېرې په کوم امپریالېستي هېواد کې ډډه وهلې وي؟ مارکس او انګلیس به دې جملې ته حیران پاتې وي. دا لا څه کوې مارتوف به ویل: «**انسان نجیب کیست؟**

**انسان نجیب کسی است که به دوستی شوروی وفادار باشد!**»

د مرغومي له یرغل سره سم ببرک کارمل په سر کې د امین په عوض نصب شو. خو امین د انقلاب د ارمانونو د تحقق د لارې قرباني شو. دی خاص د ستالینېزم د مکتب پیرو و. بیا هم د ده له مرګ وروسته دې مکتب دوام وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**«ببرک یو سیاسي مداري دی!»** امین

یو لاړ، بل راغی. دا هم زموږ نه و.

په لومړیو کې د ده د جاسوسۍ رمزي نوم (مرید) او روسته په (مارتوف) بدل شو.

ښاغلی مرید په ۱۹۵۷ کې KGB ته استخدام شوی (KGB در افغانستان، ۳۴مخ).

عبدالقدوس غوربندي هم د خپل کتاب «د افغانستان د خلق دموکراتیک گوند تاریخ ته یوه کتنه» په ۷۷مخ کې راوړي دي چې ببرک به ویاړل چې یو بنستیز واک او ځنځیر ته یې لاس اچولی دی. په همدې اداره کې د ده ورور محمود بریالی هم د (شېر) په نامه اېجنټ و.

KGB ته د ببرک استخدام د KGB د پخواني مامور (کوزیکچین) په حواله (شهسورا سنگروال) (تاند وېبپاڼه، د ۲۰۱۸ کال د اپرېل ۱۵مه) هم راوړی دی.

وایي کله چې د KGB د بهرنۍ څانگې رییس کریچېکوف کارمل  ته په اصلي رمزي نوم «مارتوف» خطاب کاوه، دی به د نورو افغانانو په منځ کې پرې شرمېده. (ولادیمیر سنگیریوف او والیدي سامونین، بیماری ویروس A، ۳۰۱مخ).

دی روسي مشربه، روسي طبیعته او روسی مزدور و، نو ده به دا روسي جمله (سپاسیبه سپاسیبه) د احترام او اطاعت په ډول تکراروله او تکراروله.

مارتوف د یرغل په سبا د شوروي پر ټانک سپور له بگرامه کابل ته راوستل شو. اسدالله سروري، اناهیتا، نوراحمدنور، ډاکتر نجیب، محمود شېر، اسلم وطنجار او سیدمحمد مامد راوستل شول، چې ټولو پوځي درېشۍ اغوستې وې. تر ټولو دوکتورس اناهیتا دې پوځي یونیفورم نوره هم ښکلې کړه.

مارتوف د گوند عمومي منشي او هیأت رئیسه په توگه د یوه نجیب قوم د دولت په سر کې نصب شو.

روسانو کوم یرغل چې په ۱۹۵۷ کې په هنگري او چکسلواکیا په ۱۹۶۸ کې وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان ته يې همدا فکر کړی و. خبر نه وو چې افغانستان ماین دی، چې پښه دې پرې کېښوده پټاو شي.

ببرک کارمل د کمرې (کابل) د جنرال محمدحسین زوی چې د ولسي جرگې په دوو دورو کې د کابل استازی و، د خلق او پرچم په دوه څله یووالي او اتحاد کې به د نورمحمد دیدوف مرستیال و. د انشعاب په وخت کې د پرچم ډلې په سر کې و. د کمونېستي حکومت په وخت کې څو میاشتې وروسته په چکسلواکیا کې سفیر شو، چې د جنرال قادر د کودتا په تور برطرفه، او هلته یې بلا تکلیفه ژوند تېراوه. چې بیا مسکو ته وغوښتل شو او د مرغومي د شپږمې له یرغل سره یو ځای کابل ته راترانسپورت شو.

زور به یې واهه چې انقلابي جملې جوړې کړي او لغات کتار کړي. د ده په هکله په «د جنگي جنایتکارانو اتهام‌نامه» کې تفصیل راغلی دی. له یرغل سره هرڅه سلاکارانو (شورویانو) په لاس کې ونیول او خپلواکي تر پوښتنې لاندې راغله.

پر ستېج به یې داسې اکټ کاوه ته وا چې یو اتل دی، دا پوښتنه بې‌ځوابه پاتې وه چې ده روسان راوستل او که روسانو دی؟

د میراکبر خیبر د جنازې په مراسمو کې د ترخې او لمسوونکې وینا په خاطر له دیدوف نورمحمد او څو نورو سره یو ځای د کابل نظارت‌خانې ته ولېږل شو، د غوبي له کودتا وروسته د دیدوف په ټولو دندو کې مرستیال و. د نوي حکومت په جوړېدو یې لاس پورې کړ.

اسدالله سروري چې په انقلاب کې د رئیسه هیأت مرستیال شو، مگر د هغه انقلابي برخورد له امله چې له کشتمند سره یې د پلچرخي په زندان کې کړی و، په انقلاب کې یې مستقیمه برخه درلوده او د انقلاب د پایښت لپاره یې په زرو انسانان ووژل، بیا هم د انقلاب د لزوم‌دید په خاطر د څو کلونو لپاره له هېواده لرې په اولمباتور کې سفیر او له کابله لرې شو. کله چې کابل ته راغی، زنداني او محاکمه شو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ابتدایه محکمه کې په اعدام محکوم او بیا ۲۵ کاله زنداني پاتې شو، چې وروسته د ولسمشر اشرف غني احمدزي له خوا عفوه شو.
وکیل د مالیې وزیر، شاه محمد دوست (په KGB کې یې اېجېنټ نوم *پېرس* و [KGB در افغانستان، ۲۹۷مخ]) د بهرنیو چارو وزیر پرچمی، ډاکتر نجیب د اطلاعاتو د ادارې (خاد) په نامه چې دا اداره د تره‌کي په وخت کې د (اګسا)او د امین په وخت کې د (کام) په نامه یادېده، مشر شو.
د دې ادارې اجراآت او کړنې یو ډول وې. بدلون پکې نه راته. یوازې نوم یې بدل شو. محمدرفیع (پېروز) د ملی دفاع وزیر، سیدمحمد ګلابزوی (مامد) د کورنیو چارو وزیر، سلطان علي کشتمند د ببرک مرستیال. نور پرچمیان لکه غلام مجدد، بارق شفیعي، صمد اظهر (فتح خان) له زندانه راوایستل شول او عمومي عفو اعلان شوه. د نورالامین د واکمنۍ ټول زندانیان، کوم څوک چې ژوندي پاتې وو، خوشي شول، مګر ډېر ژر زندانونه بیا ډک شول. د انقلاب جنایات پر امین وروتپل شول، د ملي ماتم ورځ یې اعلان کړه او په خپله یې هم په مسجد کې د فاتحې په خاطر ګونډه ووهله. دیدوف نورمحمد *شادروان* وبلل شو او خاله *نور بي بي تره‌کۍ* هم له بنده خوشې شوه.
د همدې ادارې یو مشر اسدالله امین څوړند او بل پخوانی مشر سروري د ببرک مرستیال شو.
هرې ډلې (خلق یا پرچم) ځان حق په جانب باله او انقلاب ته صادق. مقابل لوری د انقلاب دښمن بلل کېده، ان که انګېزه به یې هم شخصي وه، د مرغومي په ٦مه په انقلابیانو کې حاکم او محکوم سره جلا شول (د عبدالوکیل کتاب، از پادشاهي مطلقه الی...) په ۴۳۱ مخ کې د ببرک د وخت په حکمرانۍ کې دا انقلابي ملګري اعدام شول، یا په بله اصطلاح د انقلاب قرباني شول:
**اعدامیان:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- صاحب جان صحرايي د سرحداتو وزير،
۲- عبدالله امين د شمال خوا تنظيميه رييس،
۳- اسدالله امين د (کام) مشر،
۴- انجينر محمدظريف د مخابراتو وزير،
۵- صديق عالميار د پلان وزير،
٦- جانداد د گارد قوماندان،
۷- اقبال د ارگ د امينت آمر،
۸- محمدعارف عالميار د ترانسپورت مشر،
۹- وزيرمحمد زيرک د امين ياور،
۱۰-عمر وردگ د (کام) د تحقيق آمر،
۱۱-سيدعبدالله د څرخي پله قوماندان،
۱۲-روزي د گارد سياسي آمر،
۱۳-شايسته خان د څرخي پله قوماندان.

جگړن گل‌اغا، جگړن عبدالستار له اويا تنو سربازانو سره کريم، حفيظ، امتياز حضرت، عبدالرحمن، انجير خالق او دوولس نور کادرونه اعدام شوي دي، د غوربندي کتاب ۱٦۱ او ۸۲ مخونه. البته دا د انقلاب قربانيان دي او دا يې وياړ هم دی. دلته گونديان له گونديانو څخه قرباني اخلي. دا اجراآت ټول بې محاکمې کيږي.

عبدالوکيل هم د خپل کتاب په ۱۳۲مخ کې د ۱۴۰ تنو د انقلاب ضد جرم په تور په بند محکوم شويو کسانو نومونه راوړي دي، او غوربندي هم د خپل کتاب په ۱۷۴مخ کې.

**بنديان:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-  ډاکتر شاه‌ولي د بهرنيو چارو وزير،
۲-  محمود سوما د لوړو زده‌کړو وزير،
۳-  عبدالرشيد جليلي د کرنې وزير،
٤-  عبدالحکيم جوزجانی د عدليې وزير،
۵-  منصور هاشمي د برېښنا وزير،
٦-  محمدسالم مسعود د تعليم او تربيې وزير،
۷-  عبدالقدوس غوربندی د تجارت وزير،
۸-  فقيرمحمد کورنيو چارو وزير،
۹-  اقبال وزيري د دفاع وزرات سياسي مشر،
۱۰-سلطان احمد بهين د کام سياسي رييس،
۱۱-احمدشاه ميوند د کام مرستيال،
۱۲-عبدالغياث حقمل د کندز د کام مدير،
۱۳-نورآقا روئين د کندز د کام د برخې مشر،
۱٤-سيدمنير د کام د برخې مدير،
۱۵-عزيزالله وګړی د فارياب د ولايتی کمېټې منشي،
۱٦-نظام الدين شريف د غزني د ولايتي کمېټې منشي،
۱۷-محمد دوست د قوای‌مرکز قوماندان،
۱۸-صادق عالميار د بالاحصار د کوماندو قوماندان،
۱۹-علي‌ګل پيوند د اطلاعاتو او کلتور معين،
۲۰-مجيب الرحمن د قوای مرکز سياسي آمر،
۲۱-بيا وروسته نور کسان هم د پام وړ وګرځېدل، چې د بګرام هم اتيا سلنه د انقلاب سربازان او افسران شهيدان شول. د مخالفت په تور مجازات شول، دا کړنې او تکونې انقلابي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده د گوند لوړپوړي چارواکي د گوند د ارتقا او بریالیتوب له لوړې او ژورې نورماله بلل او شکاکیت یې نه درلود، دوی په خپل وخت کې هم همدا رویه درلوده. ممکن د دې ډلې نه ځینې کسان وو چې جنایات یې شدید وو. مگر روسانو د نورو وژنو مخنیوی کاوه.

د بشر حقونو، قوانینو او عدالت په خلاف کړنو د پخوا په شان دوام درلود. د دعوا وکیل، څارنوال او قاضي په یوه لاس کې وو. د خود کوزه، کوزه‌گر او گِل کوزه و. نړیوال بشري حقونو یا سره صلیب او سرې میاشتې د هېڅ ډول مداخلې او شکایت مجال نه درلود. ببرک او نجیب، د سنگر ملگرو د سنگر پر رفیقانو هم زړه‌سوی نه درلود.

د دفاع وزارت د شفر رییس شهید شو او رئیس ارکان شهزاده هم شهید شو، چې دا د انقلاب د لارې قربانیان دي.

پرچمیان به په زور کې وو، نجیب په قتل و قتال لاس پورې کړ. په مجموع کې د خلقیانو ډله د مارتوف په وخت کې وځپل شوه (پوهاند کاکړ، د افغان شوروي جگړه، ۵۲۴مخ). هغه د دیدوف خبره «ما لار درته هواره کړه، هر څومره چې کولای شئ پرې ځغلئ!».

یرغلگرو ځواکونو خپل عملیات کول، ممنوعه سلاوې کارول یې ورځنی کار و؛ کلي تش شول، کډې بار شوې. د ولس ځپل قاطع هدف و.

له شورویانو څخه شکایت جرم و، د اکتوبر انقلاب او لېنن واجب الاحترام بلل کېدل. نه غلا وه، نه قتل، هر څوک په خپل ویر اخته وو او د فرار په فکر. زنا او شراب جرم نه وو.

تش زندانونه له سره ډک شول. ټولنه پر دوو طبقو ووېشل شوه: انقلابي او ضد انقلاب، روشنفکر او مرتجع.

زندانونه ډکېدل او تشېدل، د انقلاب مخالفین تر محاکمې وړاندې اعدامېدل. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکمې پرېکړې غیابي وې، متهم به لا پخوا وژل شوی و.
د خاد راپورچیانو به قصداً د خلکو له خولې خبرې ایستلې. اداره د شمالي لوی گاونډي د سلاکارانو په لاس کې وه. په تحقیق او اقرار اخیستلو کې د KGB د مامورانو گډون حتمي و (دا افشاگری ولادیمیر کوزوېچ د KGB مامورچې انگلیس ته پناهنده شوی وکړې.)
ټولې لویې او وړې ټاکنې د سلاکار په نامه د شورویانو په لاس کې وې، د امر مخالفت جرم و، جرم مجازات کېده، لکه:
د مرکزي کمېټې غړی ملگری عبدالکریم میثاق سره له دې چې د امین له سرسختو مخالفو و، بیا هم نهه کاله له دندې لرې وساتل شو (د وکیل کتاب، ۴۲۸مخ) او خلیل زمری د مرکزي کمېټې غړی هم د شوروي دوستانو په هدایت له گونده وایستل شو او لس کاله په زندان کې پاتې شو، ان د مرغومي د شپږمې له عمومي عفوې هم محروم شو (د وکیل کتاب، ۲۱۵مخ).
بیا هم دې ټولو فشارونو، شکنجو او وژنو کار ورنه کړ، شوروي ته هم د مړیو کاروان روان و (د پټو توبو کتاب)، مقاومت ورځ تر بلې پیاوړی کېده. نړیوالو هم د شوروي یرغل څو ځله وغانده. په شوروي کې زاړه خرسان (برېژنیف، چرنیکوف، اندروپوف) یو په بل پسې ولاړل.
نوبت د میخایل گورباچوف شو، ده د یرغل په وخت کې په پولیت بیرو کې علل البدل غړیتوب درلود. ده د «پروس ترویکا» تر نوم لاندې سمون ته مخه کړه، د افغانستان موضوع یې «خون چکان» ټپ وباله. د سربازانو د ایستلو تکل یې وکړ، چې مارتوف د دې کار مخالف و، جنرال مایروف وایي:
دی یې سم پېژانده، د خپل کتاب په ۹۷ مخ کې لیکي چې ببرک له اردو سر مینه نه لرله او باور یې وربانديې نه درلود، د اردو په بري هم خوښ نه و او تل به یې غوښتنه وه چې «پوځیان راولېږئ او پوځیان راولېږئ.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورباچوف په افغانستان کې د پوځیانو د موضوع یوې خوا ته کول او فیصله کول وغوښتل. پوځیانو ته یې وخت ورکړ، چې که مقاومت ماتولای نشي، نو په وتلو باندې باید فکر وشي. د یرغل لا یو کال نه و تېر شوی چې اندروپوف پر خپل ځای قایم مقام و، د وارسا د پکټ په یوه غونډه کې یې د ګډون کوونکو له جملې څخه د ختیځ آلمان استازي ترې وپوښتل چې آیا دی په خپله دا برید تاییدوي؟ د اندروپوف ځواب دا و چې اوس شوی عمل دی. دا معنا ورکوي چې د شوروي رهبري هم پښېمانه شوه، د حل د لارې جرئت یې نه و، مګر دا کار ګورباچوف وکړ.

یرغل یې یوه اشتباه وبلله، په داسې حال کې چې د اکتوبر انقلاب تر دې لا لویه اشتباه وه. د خلق د ګوند رهبري، تن پروري، بې‌کفایتي، تنبلتیا، دروغ او منافقت څرګند وو. په تېره د مارتوف تنبل شرابخوري د شپې او ورځې نشه نوره پټه خبره نه وه.

شوروي سلاکارانو به په خپل منځ کې ویل چې «یابو» بدل کړی.

کله چې مارتوف ته د پوځیانو د ایستلو خبر ورکړل شو، دا یې یوه خودکشي وبلـله (پشت پرده افغنستان، لیکوال سللیک هارېسټون، ۲۱۶مخ)

ګورباچوف دا هم ورته وویل چې افغاني سربازان او شوروي سربازان وژل کېږي چې ته (ببرک) په واک پاتې شې! ببرک ګورباچوف ته د پوځیانو د ایستلو په ځواب کې دا هم وویل چې که نن پوځیان وباسې، سبا به یو مېلیون نور راولېږې.

ده د نړۍ واقعیتونه درک کولای نه‌شول. د شوروي تحولاتو ته یې هم پام نه کاوه. ګورباچوف په نورو ځایونو کې هم دا خبره کړې وه، هغه تاوان وکړ چې ناوخته پیل یې وکړ. مارتوف د پوځیانو د پاتېدو لپاره نوراحمد نور او ډاکټر نجیب د واسطې په ډول ستر سلاکار جنرال الکساندر مایروف ته ولېږل. (رښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې څه تېرېدل، د الکساندر مایروف کتاب، ۱۸۹مخ، دډاکټر داوود جنبش ژباړه).

جنرال مایروف دوی دواړو ته د ناپلیون خبره یاده کړ چې وايي: «په توره جنګېدای شي، اما پرې کېناستلای نشي!».

د جنرال مایروف کتاب «په افغانستان کې ربښتیا څه تېرېدل» ۲۹۷مخ کې دا هم راغلي دي چې کله د هېواد اصلي وارثانو (مجاهدینو) له خوا د ده پر استوګنځي راکټباران وشو او دی له خپلې ښځې سره وارخطا خونه په خونه ګرځېده، د غمشریکۍ لپاره یې د کورنیو چارو وزیر مامد او وطنجار د دفاع وزیر او ډاکټر نجیب د خاد رئیس راغلل او په ډېر شرم او خجالت یې د احترام د ادا لپاره د عذر په خاطر د انقلاب مدافعان څلور قته خم ولاړ وو. تر ټولو پر نجیب ملامتیا ډېره وه.

د سرو لښکرو قوماندان هم د خپل کتاب په ۳۲ مخ کې د مارتوف ټاکنه د شوروي د مشرانو لویه خطا بللې ده. ببرک به تل د انقلابي شعارونو تر شا پټېده، چې ملامت به شو، دا جمله به یې تکراروله: دا اوس پوه شوم، بیا به نه تکرارېږي (د همدې کتاب ۳۱۹مخ). حالت دا و چې مارتوف نور کار نه ورکاوه، یوه سوځل شوې مهره وه. دی د اصلاح او بدلون مخالف و. دې کتاب دا هم راوړي دي چې مارتوف ټيټ او بې‌ظرفیته و (د همدې کتاب همدا مخ). دی یې شوروي ته وغوښت.

«د افغان غمیزه او مېړانه» کتاب ۳۷۹مخ کې راغلي دي چې مارتوف بې‌کفایته او پخ و. د ده چلند د انقلاب په ګټه نه و. خپلو نیژدې ملګرو یې هم باور ورباندې نه درلود. کله چې مارتوف په شوروي کې په لرې کېدو قناعت ونه کړ او د سولې مخالف و او د پوځیانو ایستل یې هم نه غوښتل، که روس مري او که افغان، ده ته بې تفاوته وو. خو دی باید په واک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د KGB مرستیال کریچکوف کابل ته په هغه دویمه ورځ پس راورسېد او د لرې کېدو د تصمیم خبر یې ورکړ. مرستیال وایي چې د هغه تور مخ نور هم تور شو او ویې ژړل. بالآخره تصمیم دا شو چې مارتوف لرې او ډاکتر نجیب یې پر ځای نصب شي (حقایق پشت پرده تهاجم افغانستان، ۲۱۱مخ).
نصب کېدل او برطرفه کېدل، څرګنده خبره ده، هر څه چې بادار وایي هغه به کېږي. مارتوف ته نوره موقع ورنه کړل شوه، چې د انقلاب «تکاملي دوره» تکمیل کړي. ځیناستی یې د انقلاب د سمون لپاره وټاکل شو. شوروي جنرال په مجموع کې دې نتیجې ته رسېدلي وو چې انقلابیان له انقلاب سره مینه نه لري. پوځیان مقام ساتي، ملکیان څوکۍ (جنرال بوریس ګروموف، سرې لښکرې، ۳۷۰مخ). همدا وو چې ګوندیانو هم وطن خراب کړ او هم ځان.
ببرک نور ګورباچوف د انقلابونو (د اکتوبر انقلاب، د غویي انقلاب) خائن وباله او مرستیال ته یې وویل چې میخایل غواړي انقلاب له سولې قربان کړي (د افغان مېړانه او غمېزه، ۱۱۶مخ). د دې لپاره چې د نجیب مزاحم نشي او انقلاب او سوله تخریب نه کړي. د KGB مرستیال کریچکوف وویل: کابل ستا لپاره خطر دی. ستا دښمنان تا وژني. ده په ژړا وویل چې «**زما دښمنان ما نه وژني ، زما دوستان ما وژني!**» د ده په ژوند کې همدا رښتیا خبره وه. چې قطبي خرس دوستي نه لري. بیا هم کریچکوف له ځان سره الوتکې ته پورته کړ. داسې چې بیا یې راتګ نه و، مطلب ټکټ یې یو طرفه و. د انقلاب لپاره د ده خدمت پایته ورسېد. چې کله به یې خندل او کله ژړل. دی په حقیقت کې سیاسي مرګ ته ودرېد. د مسکو په یوه اپارتمان کې یې د انزوا شپې سبا کولې. په وروستیو کې یې د ځان لپاره د حیرتان بندر خوښ کړ، چې اقلاً د روس شمال به یې وهي. د مرګ په انتظار یې په خپل وطن کې د غربت او ذلت شپې سبا کولې او هلته مړ شو. وروستۍ خبره یې دا وه چې «پر پردي باید باور ونشي.» چا یې جنازه ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه او نه یې خپله هدیره ولیدله. هغه یې هېر وو چې ویل به یې:
«**انسان نجیب کیست؟**
**هغه دی چې د شوروي په دوستۍ ایمان ولري!**»
د ده پر ځای بل انقلابي مخلص پیدا شو. هغه پوه و، څه چې بادار غواړي هغه کېږي. د مارتوف تجربه ورته څرګنده وه. ببرک په مسکو کې چې د ده د عقیدې کعبه وه، د ذلت شپې سبا کولې. مګر په اخیر کې پر نجیب باندې د ببرک د پلویانو فشار وکولای شول، چې کابل ته د راتګ اجازه ورکړي، چې له خپل راتګ سره بیا هم د حالت درک ورسره نه و. بیا یې هم د نجیب په تخریب لاس پورې کړ. د نجیب هڅه وه چې د سولې په پلمه انقلاب ته نجات ورکړي. د هېواد سر اعلی سرقوماندان او د انقلابي شورا مشر په دې خاطر چې نور د انقلاب په ګټه نه دی له واکه لرې کړ او د سنګر ملګرو د ده نندارە کوله.
ګورباچوف پوه شو چې نه د اکتوبر انقلاب سم دی، نه د غویي. او نه انقلابیان سم او نه هغه د مځکې سر جنت، بلکې یوه دوکه ده. هم په افغانستان کې او هم په خپل هېواد کې د سمون او بدلون په فکر کې شو. ګورباچوف نړۍ د کمونېزم له سرطاني دانې وژغورله. دا به تاریخ نه هېروي!
مارتوف اخیر په ۱۹۹۶کال کې په مسکو کې د سرطان په ناروغۍ مړ شو. په حیرتان (بلخ) کې تر خاورو لاندې شو. کله چې طالبانو د بلخ ولایت ونیو، د ده هډوکي یې راوایستل او په آمو دریاب کې یې وغورځول. دا هم د انقلاب د تحقق په لار کې یوه قرباني وه.
ډاکتر نجیب د ده ځایناستی شو او کابل ته یې د ده د راتګ مخنیوی کاوه. هغه شعر یې له یاده ایستلی و چې ویل به یې:

موی سپید را فلکش رایګان نداد
این رشته را به نقد جواني خریده است

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ایډیولوژي همدا ډول ده، د شهوت او شهرت او ځانغوښتنې تر انګېزې لاندې د اخلاقو هېڅ کرښه نه پېژني. د ملګري امین برید پر ببرک او شپږو تنو وزیرانو، برید پر جنرال قادر او کشتمند، بالآخره برید پر خپل آموزګار باندې. د کارمل له یرغل سره ملګري د امین په ضد، بیا د نجیب توطیه د ببرک په ضد او هغه سیاسي مرګ ته درول. د شهنواز تڼي اقدام د نجیب پر ضد بالآخره د سنګرو د رفیقانو له خوا د نجیب د تېښتې مخه ډب کول، دا ټولې هغه تجربې دي چې په بهیر کې یې همدا ایډیولوژي او همدا یو د بل تخریب او سبوتاژ کول وو. او دا انقلابي چارې دي.

ببرک به ویل: «**زما دښمنان ما نه وژني، زما دوستان ما وژني!**»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاد نجیب

«**نجیب یک روبای مکار است.**» کارمل

د «خاد» د اداري د مشرانو خاص د اعتماد وړ کسان به ټاکل کېدل.

دا اداره د تعقیب، جاسوسی او د اطلاعاتو د راټولولو او پولیسي نظام د حاکمیت لپاره وه. بالآخره نیول، شکنجې او وژنې، په خلص ډول د KGB یوه کاپي او په عمل کې د ستالینېزم د پیاده کولو اداره وه، ولس په عام ډول «قصابخانه» بلله، د بې‌گناه انسانانو د وژنو دنده یې پر غاړه وه. نظام هغه یو ډول او یوه پالیسي درلوده. د نظام د سر شخص د راتلو په صورت کې به د اداري نوم واوښت او مسؤول کس به چې لېننېزم ته ډېر وفاداره او د کرکټر په لحاظ هم مناسب و، نصب شو. نومونه یې «اگسا»، «کام» او «خاد» او په «واد» بدل شول. په سر کې د دې اداري لومړی مشر اسدالله سروري، بیا اسدالله امین، بیا نجیب او په آخر کې فاروق یعقوبي و. د دوی له جملې سروري پینځه‌ویشت کاله زندان وگاله او نور درې واړو په خپل منځ کې د سلیقوي اختلاف په خاطر په یو بل پسې د انقلاب قرباني شول، خو اوږده دوره د ډاکتر نجیب وه. مقاومت او مهاجرت د پخوا په شان دوام درلود، د حق او باطل جگړه وه.

ډاکتر په انقلاب کې څلور موقعیته تجربه کړل. سفارت او تېښته، خاد او ولسمشري.

د پکتیکا د اخترمحمد زوی مشهور په «نجیب گاو»، چې ببرک به «روبای مکار» باله. له طبه یې سیاست ته مخ کړ. د ده ورور صدیق راهي په خپل کتاب «نجیب رابشناسید» کې لیکلي: د کوهدامن د وکیل نېک محمد چې د دوی اوښي و په واسطه د غلام مجدد (لایق) سره بلد شو، چې گوند ته جذب شو او د کابل د گوندي حوزې مشرتابه ور د غاړې وه. د غويي له انقلابه دوې میاشتې وروسته د د ۱۹۷۸ کال د جون په اووه‌لسمه له شپږو نورو پرچمیانو سره سفیر او له هېواده لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، چې ژر يې د سفارت دارايي چور کړه او وتښتېد. ځای يې معلوم نه و، آواره گرځېده، چې بيا ورته اړه پيدا شوه، د يرغل په کتار کې د يرغلگر له نورو ملگريو سره د مرغومي په شپږمه کابل ته راوستل شو. د مارتوف تر زعامت لاندې د «خاد» د قصابخانې مشر شو.

د تحصيل په وخت کې او تر هغه وروسته دوران کې، څرنگه چې باډي بېلډر و، نجيب گاو ورته ويل کېده. د ببرگ د باډيگارد په توگه ترې کار اخيستل کېده (اردو وسياست، ۳۲۵مخ).

صديق راهي په خپل کتاب کې د ده له اخلاقو څخه پرده پورته کوي چې پر معصومو نجونو او ان پر خپله همسايه نجلۍ يې جنسي تېري کول او تر حامله‌دارۍ يې ورسولې. د دې کتاب ۹، ۱۰، ۱۳، ۱۴ مخونه د لوستلو وړ دي. د ده د جنگ جويۍ او تېري په خاطر پرچميانو خوښ کړ.

د جاسوسۍ ادارې «خاد» چې مخکې «اگسا» بلل کېده، مشر وټاکل شو. د «خاد» اداره اصلاً يوه استخباراتي اداره وه. چې په حقيقت کې يوازينۍ دنده يې دا وه چې په داخل او خارج کې اطلاعات راټول کړي، چې حکومت يا دولت د هغو مطابق خپله پاليسي اعيار کړي. مگر خاد د KGB پر موډل همه‌کاره و؛ نيول، ټکول، شکنجه کول، وژل، ترورونه، سبوتاژونه، اختطافونه يې دنده وه.

د ستالين د وخت د شوروي د وخت د جاسوسۍ ادارې (KGB) د پخواني مشر (بريا) اکټونه يې کول. بريا هم د مېليونو روسانو په وژلو تورن و، چې د ستالين له مرگه وروسته (بريا) د نېکيتا خروسچوف واکمنۍ کې محاکمه او اعدام شو. د دې افغاني ادارې مشران هم يو په بل پسې ووژل شول. او د انقلاب د لارې قرباني شول. د کام مشر اسدالله امين، ببرک اعدام کړ. نواب مرستيال په خپل دفتر کې د سروري د محافظ له خوا فير شو. فاروق يعقوبي د «واد» مشر د خپل مرستيال يارمحمد له خوا ترور شو. نجيب طالبانو ځوړند کړ، اسدالله سروري په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پينځه‌ويشت کاله بند محکوم او پينځه‌ويشت کاله په زندان کې پاتې شو.

نجيب د انقلاب د پايښت او د يرغل د دوام لپاره په هر جنايت لاس پورې کړ چې «د جنګي جنايتکارانو اتهامنامه» کتاب کې يې په اړه ډېر اسناد راټول شوي دي. دی هم له يرغل سره سم د مارتوف په ملګری له شوروي څخه راوارد شو. د *نورالامين* د واکمنی په شان بنديز، اختناق، د خلکو نيولو، تلاشی، شکنجې او اعدامونو دوام درلود، چې تر اسدالله سرور وي کم نه و.

ده خاد نور هم وپړساوه، د ده څنګ ته د KGB مجرب کارمندان د سلاکارانو په نامه په دې اداره کې وټاکل شول او د دوی له تکتيک او مهارتونو څخه ګټه پورته کېده. په تحقيق، شکنجه او محاکمه کې يې په نېغه ګډون درلود. خاد په حقيقت کې د KGB يوه څانګه وه، چې تشکيلات يې پر هغه موډل برابر وو. په تلاشی او نيولو او راپور ورکولو او ان محاکمه کې شخصي عقدو او شخصي مخالفتونو رول درلود.

د پلچرخي زندان د خاد تر ولکې لاندې و. نور زندانيان لږ وو، چې غلا او وژنې وکړي، ټول سياسي زندانيان يا په اصطلاح د انقلاب دښمنان بنديان وو. د ديدوف صاحب له وخته يوازې پلچرخي نه و، له دې کبله چې د دوی په اصطلاح د انقلاب دښمنان ډېر وو، نور زندانونه هم ډېر وو، لکه د صدارت زندان، د دفاع وزرات زېرخانې، پخوانی دهمزنګ. دا چې د انقلاب دښمنان ډېر شول نور به کابل ته نه راوړل کېدل، د محاکمو لپاره دېوان (الف)، دېوان (ب) او دېوان (ج) په ولايتونو کې ورته جوړ شوي وو. زندانونه ژر ډکېدل او ژر تشېدل، ډېر وخت به تورن تر شکنجې لاندې ساه ورکړه. اعدام شوی کورنی ته نه ورکول کېده، ان اطلاع هم نه ورکول کېده. که به کوم چا ته دا زمينه ميسره شوه چې له امين صاحب څخه پوښتنه وکړي، د ده لنډ ځواب دا و: «هغه پاکستان ته تللی دی.» په داسې حال کې چې هغه به اعدام شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ به هغه وخت د خپلو عزیزانو په مرگ او اعدام پوه شول چې جامې به چا نه ترې اخیستې. د جنازې د مراسمو اجازه چا ته نه وه. نجیب کل اختیاره او د پولیت بیرو غړی هم و.

ستر جنرال الکساندر مایروف په خپل کتاب «په افغانستان کې په رښتیا څه تېرېدل، ۲۷۵مخ) کې لیکلي:

د هرات د کب د ۲۴مې د پاڅون په مقابل کې اعلان وشو «که هر څوک وسله په مځکه کېږدي او له جگړې لاس په سر شي، هغو ته به عفوه وشي.» پاڅونوالو دا وکړل، مگر نجیب بیا هم په وژلو پیل وکړ. ۳۰۰ تنه یې په هغه شپه ووژل. جنرال دا هم لیکلي چې ما نجیب ته وویل چې د قانون په څنگ کې تاسې پښتونولي هم لرئ، ته څنگه د وعدې خلاف داسې کوې؟ جنرال د خپل کتاب په ۵۵مخ کې دا هم راوړي دي چې له هراته د پاڅون په خاطر گډوډي رامنځته شوه، چې روسي جنرال بابینیسکي او والي مجید سربلند هم په چور لاس پورې کړ، هر څه چې په لاس ورغلل، پورته یې کړل.»

جنرال دا هم زیاتوي چې په هرات کې د نجیب دا جنایت یې ببرک ته هم ورساوه، هغه هم وویل «**ښه دي چې هېواد له سپړو نه پاک کړي!**»

جنرال د خپل همدې کتاب په ۲۷۶ مخ کې «د انقلاب لوړ پوړي چارواکي ټول د سپي زامن بللي.» دی وایي چې د ملي دفاع وزیر جنرال رفیع وویل چې «**نجیب یوه چټله او بویناکه گیدړه ده!**» جنرال وایي چې ما ورزیاته کړه، چې کارمل هم.

د نجیب په وخت کې گلبدین حکمتیار او احمدشاه مسعود غیابي په اعدام محکوم شول. په عمومي ډول معمول دي چې د جاسوسې ادارې مهمه برخه دننه په بهر کې د شبکې جوړول او فعالیت وي، لکه د KGB، مگر د افغان د ادارې په کور دننه فعال او مصروف وو. د دې لپاره یې ټکسي ډرېوران او بداخلاقه فاحشې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې استخدام کړې وې. دا واقعیتونه شوروي جنرالانو لکه طوفان، سرې لښکرې، په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل، د افغان مېړانه او غمیزه کتابونو کې د یوه زړه سوي په خاطر دا جنایات خپاره کړي دي. مګر د انقلابیانو پر دې کړنو سترګې پټې دي.

نجیب تجربه درلوده، دومره خوش‌باوره نه و، لکه اسلاف. د راتلونکي غم یې خوړ، څو صندوقه او پیسې او زر یې په ډهلې کې ځای پر ځای کړل.

قطبي خرسان، برژنېف، چرینکوف او اندرویوف یو په بل پسې د افغانستان د انقلاب ارمان ګور ته یووړ. د نوي واکمن ګورباچوف مغز کار وکړ، د مسألې د حل په فکر کې شو، چې مجاهدین ناماتېدونکي دي، په دې تکل کې شو چې خپل سربازان ژر وباسي. نو د مارتوف له مخالفت سره مخ شو.

ډاکتر نجیب تر نورو مخلص په نظر ورغی (پشت پرده افغنستان، ۲۵۳مخ) شبارسین د کرینجکوف د KGB د مرستیال له خولې «ډاکتر نجیب یک فرزند طلایي» وباله. د ۱۹۸۶د مې په څلورمه د مارتوف په عوض عمومي منشي او د دولت په سر کې واکمن شو (د وکیل کتاب، ۵۳۳مخ) چې د کارمل ورور او پلویانو شېر یعنې محمود بریالي، پیګر، نورالدین کاویاني، وکیل، فرید مزدک، مخالفت پورته شو، جلا ګوندي شورا جوړه شوه (د افغان مېړانه اوغمیزه، ۴۹۷مخ). دا هم په حقیقت کې د نجیب له خوا د مارتوف په مقابل کې یوه سپینه کودتا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نجیب ولسمشر

د نجیب راتګ او د کارمل تګ د بل چا په اراده وو، که څه هم د سپیني کودتا غوندې وو.
نجیب د ببرک دښمني پر غاړه واخیسته. د هغه پر ځای کېناست، عمومي منشي شو او لوړ واکمن.
په عمومي ډول تر جګپوړي پورې ټاکنې د قوای دوست سلاکار په لاس کې وې.
د اسلامي جمهوریت په دوران کې همدا ډول د امریکایانو خیال ساتل کېده.
ډېرې داسې ټاکنې ولیدل شوې چې نه به چا پېژانده او نه به یې کاري تجربه درلوده، چې عام ولس به دا ټاکنې پراشوټي بللې. البته د NGO کارکوونکو ته ترجیح ورکول کېده، لکه د یک تلوېزیون د کاکتوس د ۱۳۹۸ کال په یوه پروګرام کې چې ښاغلي *لښکري* ته پخواني لوی څارنوال *عبدالجبار ثابت* صراحت ورکړ چې زه (ثابت) د امریکایانو کاندید وم او *محمداسحق الکو* د ولسمشر حامد کرزي. اخېر ثابت ومنل شو. البته امریکایانو د اسلامي جمهوریت په راوستلو کې همداسې مهم رول درلود لکه روسانو د غويي په انقلاب کې. تور استثمار او سور استعمار توپیر نه لري.
همدا دوی دي چې کله مذهبي رهبران راته جوړوي او کله سیاسي.
د نجیب له ټاکلو سره ده هم د نوي کاري ټیم د معرفی اقدام وکړ.
غلام فاروق یعقوبي - د «خاد» مرستیال - یې خپل ځایناستی وټاکه او د «خاد» نوم یې په «واد» واړاوه چې د نامه دا بدلون څلورم ځل شو، اما فعالیت، اجراآت او کړنې یې په پخواني شکل رواني وې، چې دا یو نوم هم اسم با مسما نه و. مامد (ګلابزوی) د کورنیو چارو وزیر پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجیب د انقلاب د نجات په خاطر په سمون لاس پورې کړ، انقلابي شورا یې لغوه کړه او گوند یې منحل او ملي پوخلاینه یې اعلان کړه. «اشرار» *خپه ورونه* وبلل شول. د شاد روان ملگري تره‌کي نورمحمد «نهه فرمانونه» چې یو یې هم علمي نشو، بېرته لغو کړل، خو چا باور پرې ونه کړ. پښېماني به یې ښودله. دا به یې ویل چې «خاد بدنامه کړم»، په داسې حال کې چې ده تر خاده ناوړه کړنې وکړې او ده خاد بدنامه کړ. عقل یې وروسته سر ته راغی. ده هڅه کوله چې خپل خوی بدل کړي. مگر چا پرې باور ونه کړ. تر ټولو د خپل گوند او د انقلاب د سنگر ملگرو دی تخریب او طرحې یې ورخرابې او خنثی کړې.

ټول ذات البیني مخالفتونه د ملا نصرالدین څیرې پوستین و. که له دې څیرې پوستین (انقلاب) څخه څه جوړ شي، لکه د تره‌کي او امین ترمنځ مخالفت، بیا د ببرک او نجیب ترمنځ او بالآخره د شهنواز تني کودتا، یا د ده په مقابل کې.

بله لویه جبهه د نوراحمد نور، جنرال فتاح، محب الله کوشان، محمود (شېر)، عبدالحمید محتاط، ډاکتر اناهیتا، جنرال آصف دلاور لوی درستیز، اعظم سعید، جنرال عبدالرزاق، جنرال محمدافضل لودین، جنرال نبي عظیمي، فرید مزدک، نجم الدین کاویاني، علومیان، دواړه ورونه نورالحق او عبدالحق، جنرال دوستم، میر صاحب کاروال، نیازمحمد مومند، جنرال قادر اکا، جنرال آصف شور. جنرال مومن، سیدجعفر نادري، جنرال امیرمحمد، جنرال عبدالطیف، جنرال رحمت الله روفي، جنرال اسد مارخور، جنرال بابه جان، ډاکتر عبدالکریم یما، جنرال عظیم زرمتی، وکیل (د بهرنیو چارو وزیر)، جنرال روف بېگي، د کشتمند پلویان، د اېران او ازبکستان د پینځم ستون غړي وو (ډاکټر شېرشاه یوسفزی، تاریخ مسخ نمی‌شود، ۳۹۴مخ).

دا مخالفت او جبهه‌گري د مارتوف په پلوۍ وه او د هغه له انقلابي موقفه د دفاع په خاطر ډاکتر نجیب باید موافقه نه وای کړې چې د ببرک پر ځای د دولت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر کې راشي. په دې اړودوړ کې د نجيب له خوا ظهور رزمجو - چې وکيل په خپل کتاب کې د هغه څو ځايه يادونه کړې ده - له پوليت بيرو څخه لرې شو.

نجيب پوهېده، د حالت درک ورسره و، د رفيق مارتوف له حالته يې زده کړه درلوده، چمتو شو چې د شوروي سربازانو د وتلو او د سولې لپاره هم لاس پکار شي، مګر نورو انقلابي ملګرو يې مخالفت کاوه او مارتوف ببرک له مسکو څخه لاسونه رااوږدول.

د نجيب له خوا ببرک وطن ته ممنوع الدخول و، سياسي مخالفت او پخوانی اخلاص په دښمنۍ واوښت. نجيب هم هغه بيت چې په لويه غونډه کې يې په لوړ آواز داسې ووايه، هېر کړ:

موی سپيد را فلکش رايګان نداد          اين رشته را به نقد جواني خريده است

د امسلک همدا ډول دی. د نن مخلص او دوست د سبا دښمن دی، نجيب ته هم د ببرک کمزوری ټکی معلوم و. اکثره وخت به يې په افشاګرۍ تهديداوه. د دوو انقلابيانو (ببرک او نجيب) د انقلاب په ساتنه باندې تفاوتِ نظر په دښمنۍ بدل شو. د ۱۳۶۵ کال د ليندۍ په ۲۲مه نجيب هم د خپل اخلاص او ماست مالي له مخې په غونډه کې ګورباچوف ته داسې خطاب وکا:

**«شما برادران انترناسيونالست شوروي در دشوارترين لحظات به کمک ما شتافتيد، قهرمانی شما فراموش نخواهد شد، و از محو حتمی نجات داديد»** (وکيل، از پادشاهي مطلقه الی... ۵۳۷مخ). **او بل ځای يې روسان خاينان وبلل.**

د سربازانو پر وتلو موافق شو. نجيب ورځ تربلې شاتګ ته اړ کېده. مجاهدينو ته يې بلنه ورکړه، چې په حکومت کې ګډون وکړي. احمدشاه مسعود ته يې د ملي دفاع وزارت او ګلبدين حکمتيا ته يې د ايتلاف وړانديز وکړ، کوم چې دواړه يې د انقلاب ضد او د انقلاب ضد تروريستي اعمالو په تور په غيابي محاکمه کې په اعدام محکوم کړي وو. بيا هم د نجيب، البته هڅه وه چې کليدي ولايتونه به له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان سره ساتي. څو بې‌پرې کسان يې په حکومت کې ونيول، سياسي فعاليتونو او گوندونو ته يې په ظاهر د فعاليت اجازه هم ورکړه او د ملي پوخلاينې اعلان يې وکړ.
مصطفی نوري د خپل کتاب «روزهای دشوار» په ۱۸۳ مخ کې راوړي دي چې له ملي پوخلاينې سره اعدامونو دوام درلود او په خپله يې هم پينځه‌لس کاله د پلچرخي په زندان کې تېر کړل.
نجيب دوه ځله اساسي قانون تعديل کړ، د «ا.خ.د.گ» منحل او د «وطن» په نامه يې بل گوند جوړ کړ. که څه هم غږي يې هغه پخواني قسم‌خوړلي لېننيستان وو، خو د چا پرې باور نه و، نجيب دا هم ونه ويل چې ولې يې جبهه بدله کړه او پر پخوانيو جنايتونو پښېمانه دی. بايد افغان ملت ته يې توبه ايستلې وای. په دې هرڅوک پوه وو چې دا د ده له پاکه نيته نه بلکې د مجاهد د «ډز» زور و او د ملت د قربانۍ.
مجاهده! ستا همت ته مې سلام. ستا عزم او قصد ته مې سلام!
که ستا مېړانه نه وای، نن به لکه تاجکستان او ازبکستان د ډېرو نومونه رحمانوف، قادري اوف، کابلوف، کريموف، کارملوف، ديدوف، يا داسې نور څه وای! ته وې چې د روس له ستوني دې تېر شوی وطن راوکيښ.
د نجيب بې‌ناموسي او وطنفروشي به د چا هېره نشي. دا يو مثال دی:
د شوروي سلاکار په خپلو يادښتونو کې ليکلي: «مازديگر دی، د دوبي ښکلې هوا ده، شوروي سربازان د ټانگ پر سر سپاره په غرور ناست دي، د کورونو دېوالونه لنډ دي، په يوه کور کې پسونه دي، زره پوښ دروي او کور ته وراوړي، په کور کې يې نجونې هم وليدې، د پسونو فکر يې د مېرمنو خوا ته اوړي، هلته نارينه هم شته. د کور نارينه په يوه کوټه کې اچوي او پر ښځو جنسي تېری او بې‌ناموسي کوي. وروسته نارينه او مېرمنې ټول وژني. له ټانگه تېل راباسي او ۱۱ تنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوځوي.» شورويانو دا خبره پټه نه کړه، په دې جنايت يې اعتراف وکړ، مګر «نجيب ګاو» د ولسمشر په توګه په ډېره بېشرمۍ وويل چې دا اشرار (مجاهدين) وو. د قواىِ دوست په جامه کې يې دا جنايت وکړ.
پاس مطلب داود جنبش له روسي څخه په پښتو ژباړلی او خپور کړی.
ځينې کسان اوس هم شته چې نجيب شهيد بولي، چې دا د حقيقي شهيدانو په حق کې جفا ده. نجيب ورځ تر بلې ګوښی کېده او د ببرک ډلې انقلابيان په کمين کې وو، د ده هره طرحه يې خنثی کوله او دايې د انقلاب په خير نه بلله. دا څرګنده وه چې دا بدلون او اصطلاحات د ښه نيت په خاطر نه وو، تر اخېره به يې هڅه وه چې له دوکې او درغلۍ څخه کار واخلي. د شوروي سربازانو وتل او د جنرال شهنواز تني کودتا يوه رواني کمزوري ورپيدا کړه. البته د سولې پروژه مخته وړل هم ساده خبره نه وه.
نجيب هم مقابله کوله، دوه انقلابيان ډاکتره اناهيتا او د دې زوم شېر يې له پوليت بيرو څخه ګوښه کړل، مامد د مسکو سفير او رازمحمد پکتين يې د کورنيو چارو وزير کړ. د اصلاحاتو په لړۍ کې ډاکتر حسن شرق يې د بې‌پرې په نامه لومړی وزير وټاکه.
ډاکتر حسن شرق په خپلو سوانحو او مخينه کې د سردار محمدداود خان مخلص و او د هغه احسانونه يادوي، چې سردار و، د ده په قول له «نعل بندۍ» څخه يې تر لومړي وزارته راورساوه. مګر ده هغه ټول له ياده وايستل، له هغو کسانو سره په ځنګ کې درېږي چې د سردار او د هغه د کورنۍ په وينو يې لاسونه لړلي وو.
د ډاکتر نجيب هم ډاکتر حسن شرق خوښ نه و. هغه په جلا چينل کې و. په دې لړ کې يې د شوروي د سربازانو د وتلو پروژه د ملګرو ملتونو په منځګړتوب پيل کړه، ښاغلی پېرس (شاه‌محمد دوست )د بهرنيو چارو وزير د افغانستان په استازيتوب په جينوا کې د ملګرو ملتونو دفتر ته تګ راتګ پيل کړ. چې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېرس لرې او وکیل د بهرنیو چارو وزیر شو او د سربازانو د وتلو پروژه ده ته ورپاتې شوه. نجیب هم د سربازانو له وتلو سره سر خوځاوه، خو په حقیقت کې یې مخالف و (پشت پرده در افغانستان، ۲۱۷مخ).
ډاکتر شرق هم پر نجیب پوره نیوکې لري. له نوبهار تلوېزیون سره د ۲۰۲۰ کال د مې په ۲۵مه په یوه تلوېزیوني مرکه کې یې له احمدشاه راسته سره نجیب په ملي خیانت تورن کړ چې د شمال او جنوب په نامه یې د وطن تجزیه غوښته او د «نجیب مسیر» په نامه یې د شمال لومړی وزیر وټاکه او دا هم زیاتوي چې د یو مېلیون په قېمت طلا یې ده له میدانه راوګرځوله، چې د نجیب په امر خارج ته غلا کېده. په داسې متشنج حالت کې د ملي دفاع انقلابي وزیر جنرال شهنواز تنې، چې د نجیب انقلابي کړنې په نظر سمې نه ورتلې، د یوه انقلاب په توګه میدان ته راودانګل، چې خپل انقلابي رسالت پر ځای کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تني کودتا

دا شپېرمه کودتا وه چې د انقلاب د سمون په خاطر د انقلابي دولت د دفاع وزير جنرال شهنواز تني د خلقيانو په ډله پورې تړي، د ۱۳۶۸ کال د کب په شپاړسمه يې په کودتا لاس پورې کړې چې انقلابي حکومت د انقلاب په لار سيخ کړي، دوه انقلابيان ښکر په ښکر شول، دواړو خواوو مځکني او هوايي ځواکونه وکارول. د کابل ښاريان بيا د خرابيو او بېګناه وژنو شاهدان شول.
ډاکتر نجيب لا پخوا د تني د يوه داسې اقدام په هکله نبي عظيمي ته خبر ورکړی و. ډاکتر حسن کاکړ په *د افغان – شوروي جګړه* ۵۲۷مخ کې وايي چې شورويانو هم په لمسون کې رول درلود. غله ته يې ويل غلا وکړه او د کور والا ته يې ويل چې بيداره اوسه.
د انقلابي ملګرو دواړو خواوو تلفات درلودل. اقدام (کودتا) ناکامه شوه. مګر ډاکتر نجيب ضربه وليدله او رواني شوک. د دفاع انقلابي وزير فرار ته پر قرار ترجيع ورکړه مخ په پاکستان.
له څو جنرالانو او ملکيانو سره په دوو الوتکو کې يې د هېواد دښمن پاکستان ته ځان تسليم کړ. هغه الوتکې لکه څو نورې هم د پاکستان غنيمت شوې. پخوا هم د حکومت په ضد ځينو پيلوټانو پاکستان ته الوتکې اړولې وې، لکه: تورن جمال الدين، تورن محمدنبي، جګړن فقيرمحمد، تورن محمدحسين، يو فروند هليکوپتر د مې په ۲۵مه تورن محمد داود، تورن عبدالمالک، تورن اسدالله، تورن سفي الله، تورن حامد، تورن جان محمد، تورن جلال الدين، هغه د الوتکو پيلوټان وو چې الوتکې يې د انقلاب په ضد پاکستان ته واړولې، مګر پاکستان تر اوسه دا الوتکې مستردې نه کړې (اردو وسياست، ۴۵۵مخ).
د کمونېستي انقلابي رژيم د کمزورۍ لپاره دا يو پوره انقلابي عمل دی، اما

(c) ketabton.com: The Digital Library

الوتکې د افغان دولت ملکیت دی، لازمه وه چې پوښتنه گروېږنه یې شوې وای. اما د آریانا الوتکه چې داود سلطانزوی په آلمان کې کوزه کړه او پناه یې واخیسته، بېرته افغانستان ته راوړل شوه، داسې الوتکې چې د انقلاب په ضد د اعتراض په توگه وړل کېدې، پر انقلابي رژیم یو گوزار و.

جنرال جلال رزمنده د پینځم ریاست مشر او د پولیت بیرو غړی. رزمنده هغه څوک دی چې له یو شمېر مجاهدینو سره تفاهم ته رسېدلی، چې په هرات کې رژیم ته تسلیم او له جگړې لاس واخلي. چې په دې درندو مراسمو کې والي فضل الحق خالقیار هم گډون درلود. مجاهدینو د پذیرایی په وخت کې وسله پرې راواړوله، له څو کسو سربازانو سره رزمنده ووژل شو او خالقیار تپي شو چې دا هم د انقلاب قربانیان شول.

نجیب له یو شمېر کسانو لکه نبي عظیمي د احسان او فعالیت مرهون او د جنرال تڼي د پلویانو د ټکولو لپاره پلمه په لاس ورغله. نجیب یو ځل بیا انقلاب او سوسیالېزم ته خپله وفاداري اعلان کړه چې «یا وطن یا کفن».

اصلاً جنرال شهنواز تڼي د جنرال ولیشاه او عبدالعظیم وردگ په پلوی چې د ملي امنیت د وزارت له خوا توقیف شوي وو، عکس العمل ته ودرېد. چې وروسته دېرش افسران د انقلاب د ضد په تور ونیول شول (اردو وسیاست، ۴۰۵ مخ).

په ښار کې دننه بمونه ولوېدل، ځاني او مالي زیانونه یې لرل. د انقلاب (کودتا) ضد ملگري جنرال آصف شور، کبیر کارواني، حبیب الله سرتېر د تېښتې په حال کې د انقلابي ډگروال حبیب الله له خوا ووژل شول (اردو وسیاست، ۴۲۱مخ).

البته چې انقلاب خو قرباني غواړي. ډگروال محمدزی نېکمل د خپلو افرادو له خوا د پېژنتون مرستیال، عبدالرحیم ستانکزی او ډگروال فېروز سیاه، د باباجان له خوا ووژل شول (د عظیمي کتاب، ۴۲۱مخ).

ډگروال پاچا هوسا ورک شو او ډگروال عبدالغني له خپلو همکارانو سره ونیول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو. داسې انسانان چې د هېواد مصرف پرې شوی دی په وژلو یې هم د چا افسوس نه راته. افغان‌وژنې دوام درلود.

افغانان خدای د قربانۍ لپاره پیدا کړي دي، د انقلاب د نجات په لار کې ډېرې خرابۍ راغلې، توپ، ټانک او الوتکې تخریب شوې او دا په هغه انقلاب کې چې د پردو و، نه زموږ.

نیازمحمد مومند، جنرال نظرمحمد، جنرال قادر اکا، میر صاحب کاروال له جنرال تني سره د اړیکو لرلو کبله له «وطن گوند» څخه وایستل شول، ډاکتر شېرشاه یوسفزي په خپل کتاب «تاریخ مسخ نمی‌شود» په ۲۷۱ مخ کې وایي چې شورویانو له دې کودتا سره هم تفاهم درلود، چې نجیب بالآخره شورویان خپل خاینین وبلل (د افغان مېړانه او غمیزه، ۴۸۶مخ).

دستگیر ریچارډ او ډاکتر صالح او جنرال عبدالرشید تاتار هم ونیول شول (همدا کتاب، ۴۸۷مخ). د شهنواز تني په پلوي جنرال میرغوث الدین مشهور په «گاگارین» د نجیب له خوا د انقلاب په لار کې ووژل شو (د جنرال قادر کتاب، ۴۱۵مخ) او جنرال قادر (اکا) او حمزه فراهي له تني سره پاکستان ته وتښتېدل. نجیب د ریچارډ او زېري د نیولو امر ورکړ (خاطرات جنرال قادر، ۴۱۶مخ).

جنرال غلام حضرت، جنرال پادشاه، جنرال شیخ محمد باوري، جنرال دوست، جنرال عبدالحق، جنرال عبدالحکیم نوري، ډگروال خان محمد، جنرال خان مموزی، ډگروال عمر زرمتی، گروال غلام سعید، ډگروال نظرمحمد، ډگروال معصوم ستانکزی، زېری، میر صاحب کاروال، جنرال فاروق د توپچي قوماندان، جنرال فقیرمحمد فقیر، جنرال حضرت د جنرال تني د پلوۍ په تور بندیان شول. صالح محمد زېری او ریچارډ هم په دې تور کې راغلل.

مامد (گلابزوی) د مسکو له سفارته برطرف شو (د افغان او شوروي جگړه، ۵۳۵، ۵۳۷ مخ، پوهاند حسن کاکړ) جمله تلفات ۵۰ تنه پوځیان او ۱۵۰ ملکیان ووژل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول او ۳۰۰ زخمي.

د سرو مستو غوایانو په واکمنۍ کې مصطفی نوري لکه نور کړېده او ځورېده، خپلې خاطرې یې د «روزهای دشوار» په نامه په ۱۳۸۶ کال کې چاپ کړې دي.

د «اگسا، کام، او خاد» په وخت کې یې د خپل زندان خاطرې او د دوی جنایات او آن د زندان د خپلې کوټې د اعدامیانو (شهیدانو) نومونه راوړي دي. گوندیان ټول په جنایاتو کې سره توپیر نه لري. د شهنواز تنې دا انقلابي حرکت مجاهدینو او ولس ته د ستونزو د توبې او پښېمانۍ په معنا و چې ستر جنایات جبران کړي. له انقلابه یې مخ وگرځاوه خو سخت وځپل شو.

د حکمتیار له خوا د تنې منل یو تکتیکي او سم پر ځای تصمیم و، چې دا جرئت نورو نشو کولای، ممکن یو مخکنی تفاهم به یې په منځ کې و، چې نجیب پرې کمزوری شو او یوه انقلابي ضربه یې ولیده، په خپل منځ کې سره ونښتل، یو بل یې سره وټکول. نجیب په نورو ملگرو هم باور له لاسه ورکړ. پوه شو او دا یې نورو ته هم ورزده کړل چې د غویي د انقلاب لار ترکستان ته تللې ده.

له دې ټولو مصروفیتونو سره نجیب اړ و چې د شوروي د سربازانو وتلو ته عملاً چمتو شي، چې هغه ورځ راورسېده چې عملي گام پورته شي، د پوځیانو وتلو ته د یوه پروتوکول په مټ د ملگرو ملتونو په مستقیم وساطت لاره هواره شي. اصل په حقیقت کې شوروي د شپې له خوا په غلا برید وکړ، اوس هم باید په پټه بې له پروتوکوله ووزي. شورویانو د اوړو یوه پوزه غوښته، نجیب تر اخېره زړه او نازړه و، له خنډ او ځنډه یې کار اخیست. ده هم د مارتوف چل او ول کاوه. ډېرې یې مخ ته اچولې، اما د «نه» جرئت ورسره نه و او د سربازانو په وتلو کې یې د انقلاب د ټغر د ټولېدو امکان لیده. د ملگرو ملتونو د مرستیال «دیگو کوردوېز» په منځگړیتوب، جینوا ته د څو تگ راتگونو په پایله کې د افغانستان او پاکستان د بهرنیو چارو وزیران عبدالوکیل او زین نوراني له خوا د شوروي او امریکا د بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارو د وزیرانو شیوارد نادزه او جورج شولتز په حضور کې د ۱۳۸۸ د مې په ۱۴مه لاسلیک شوه.

شیوارد نادزه هغه د یرغل د تایید پخوانۍ خبره چې «شوروي د زمانې نادودو ته خپل دوستان نه پرېږدي» هېره کړې وه. په دې ډول د شوروي سربازانو د وتلو لپاره د اوږو پوزه جوړه شوه، اما انقلابي ملګري یتیمان پاتې شول. د جګړې د تاوان خبره چا راپورته نه کړه. دا پروتوکول هم شورویانو له ځان سره واخیست، لکه د یرغل پروتوکول چې څلور میاشتې وروسته ببرک لاسلیک کړ. هم د افغان د بهرنیو چارو د وزارت په آرشیف کې نشته. په دې پروتوکول کې مجاهدین د مسألې اصلي طرف وو، ځای خالي و، داسې ونه شول لکه دا اوس چې امریکا له طالبانو سره کېناسته. شورویان په مړو سترګو د سالنګ په غرو کې د مجاهدینو تر بریدونو لاندې په ډېر ډار له آمو سینده ورتېر شول، د وجدان په محاکمې، په دې بیا هم پوه دي چې تر شا یې خرابۍ او وېرانۍ پرېښودې او دا وه انټرناسیونالېستي دنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**«وطن یا کفن!»** نجیب

مقاومت مات نشو او نه تسلیم، رژیم د سولې غوښتونکی شو، د شوروي د ماتې او د پوځیانو له وتلو وروسته مهمه موضوع سوله وه چې له مجاهدینو سره پرې خبرې وشي. دا پروژه هم ملګرو ملتونو په لاس کې واخیسته، *بېنن بسوان* سولې ته مؤظف شو.

د سولې خبرې په نېغه له نجیب سره کېدې او بل پلو له مجاهدینو سره. د مسکو له خوا هم هدایت دا و چې سوله باید وشي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ پروتوکول هم عملي جنبه ونه موندله. ناظرانو (شوروي او امریکا) هم د دې پروتوکول پابندي ونه کړه.

بېنن بسوان هم هرې خوا ته منډې او رامنډې وکړې، تر امریکا، شوروي، هند، پاکستان او روم (د ملت بابا اعلیحضرت محمدظاهر شاه) پورې لاړ. چنو او چنوبازیو دوام درلود، نجیب پر ایتلافي حکومت ولاړ و، مجاهدینو مطلقه تسلیمي غوښتې ده، د افغانستان او پاکستان ترمنځ په پروتوکول کې دا لاندې مواد باید په جدي ډول راغلي وای. دا دوه اصله باید له یاده ونه ایستل شي:

۱ – ملي خاینانو ته مجازات او د وژل شویو دِیَت.

۲ – له روس څخه د جنګ تاوان اخیستل.

چې دا دواړه د ملت حق دي او د ټولنې غوښتنه ده. مثلاً افغان ولس اوس هم خپل حق بولي چې څو پېړۍ وروسته هم دعوا لري چې د دویمې ملکې الیزابېت له تاجه د «کوه نور» الماس چې د افغان مال دی، راوباسي. حقوقي اصل دی. په نړۍ کې د ملکیت د ثبوت لپاره درې امکانه مطرح دي:

۱ – یا زر خرید،

۲ – میراث،

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – غلا او غصب.
یوه ورځ به دا عدالت په نړۍ کې مطرح شي او یهودان تر درېیمه نسله د آلمان له دولته د نازیانو د وخت د جنګ تاوان غواړي او د دې تاوان تادیه اوس هم دوام لري.
پر رفیق نجیب ورځ تر بلې فشار ډېرېده، دوست او دښمن ورته په کمین کې وو، ده تن ورکړ، چې یوه بې‌پرې حکومت ته د سولې په ګټه واک تسلیم کړي او خپل سر بچ کړي او نور له انقلاب نه لاس په سر شي.
پوه شو چې د خلکو زور د خدای زور دی. خپله مېرمن پتانه او کورنۍ یې لا پخوا په نوي ډېلي کې پرځای کړې وه او د راتلونکې غم یې خوړ او څه صندوقونه یې د هند سفیر سرور ته چې د ده باجه و، لېږلي وو. د سولې پروژه او د واک تسلیمي د ملګرو ملتونو استازي بېنن بسوان ته سپارل شوې وه، دنده او برنامه یې پټه وه. ځکه چې انقلابي رفیقانو او نورو ډلو د ده طرحې خنثی کولې.
له «وطن ګوند» څخه هم څه نه جوړېدل. ګوندیان نور په دې پوه شول چې انقلاب بریالی نه دی زور یې نه رسېږي، روسانو هم دوی یوازې پرېښودل. په مجموع کې انقلابیانو نور له انقلاب سره علاقه نه لرله. د مرکزي شورای ۳۲ تنو غړیو له هېواده بهر ژوند کاوه. جنرال عظیمي د خپل کتاب په ۴۲۳، ۴۵۵، ۴۵۶ مخونو کې دا راوړي دي مامد (ګلابزوی) له سفارته برطرف شو، په روسیه کې یې د پنا اخیستلو وړاندیز ورکړ، میر صاحب کاروال هم هملته په روسیه کې پاتې شو. جنرال غونډی هم مجاهدینو ته ورواوښت. نجیب هر کار ته لاس اچاوه.
جنرال فتح محمد د لوجستیک رییس، جنرال محمدهاشم څارنوال، نظرمحمد د دفاع پخوانی وزیر، صالح محمد زېری او ریچارډ (پنجشېری) برطرف شول (اردو وسیاست، ۴۲۳مخ).
د ده مخالفینو په خپل منځ کې دی د «ګاو، یا بچهٔ اختر» په نامه یاداوه. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله لوبه کې د ستر جنرال نبی عظیمي دو رویه رول مهم و، له یوې خو د نجیب له مخالفو انقلابیانو سره یې پټ لاس و او له بلې یې د هغه له اعتماده ګټه پورته کوله. د ګوند انقلابي رفیقان د نجیب په نیت پوهېدل چې تېښتې ته تیاری نیسي، «وطن یا کفن» نور نه یادوي. د پینځم ریاست باقي د وژلو خبر هم ورته راورسېد، چې د انقلاب قرباني شو.

نجیب به بېنن بسوان سره پټ خاینانه تفاهم کړی، په عوض د دې چې ملي خیانت په تور ملي محاکمې ته وسپارل شي، د تېښتې طرحه یې جوړه کړه چې نور تر انقلاب تېر او د سنګر ملګري خدای او مجاهدینو ته پرېږدي.

د ۱۹۹۲ کال د اپرېل په شپاړسمه د غویي په اتمه یې له خپل ورور احمدزي، محمد اسحق توخي، د دفتر آمر، خپل سریاور چفسر سره په بدلو موټرونو کې د شپې په تیاره کې د حامدکرزي د میدان په لور مخ ونیوه. د نجیب هلته ګوګل وخوت چې د «واد» وزیر فاروق یعقوبي د مزدک ورور یارمحمد د انقلاب ضد حرکاتو په تور مجازات او وواژه.

د انقلابي ملګرو د ګلم جم قطعاتو د جنرال عبدالرشید دوستم په امر قوماندان عبدالرزاق او جنرال مجید روزي د ولسمشر د تېښتې مخه راوګرځوله چې له انقلابه تېښته یو جرم دی.

په دې پوه و چې انقلاب یوه اشتباه وه. اوسنۍ توطیه پخه ده. په ارګ کې یې هم ځان خوندي نه باله. لنډ او ګنډ د کابل د ملګرو ملتونو دفتر ته ننوت. تر ارګ او جمهوري ګارده تېر شو.

د ملي دفاع وزیر اسلم وطنجار، د کورنیو چارو وزیر رازمحمد پکتین او د «واد» وزیر فاروق یعقوبي درېواړو انقلابي وزیرانو د ده مرسته ونه کړه. دی نور انقلابي نه و. سردار محمدداود خان ته د تېښتې لار وه، د فرانسې سفارت چې د ارګ په ګاونډ کې دی، هیله ترې وکړه، خو سردار په خپله خاوره کې مرګ ته ترجیح

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړه. نجیب پینځه کاله د ملګرو ملتونو په دفتر کې پاتې شو. جنرال لیاخوفسکي د خپل کتاب په ۵۳۸ مخ کې راوړي دي چې **نجیب نور له شورویانو څخه ناهیلی و، هغه یې خاینین وبلل.** په رښتیا هغه د هموطن خبره: عقل اوغو پسان میایه.

سبا د ۱۳۷۱ کال د غویي په اتمه مجاهدین له زرغونو بیرغونو او د الله اکبر له نارو سره کابل ته رانوتل. د لومړي وزیر خالقیار، د ولسمشر د مرستیال عبدالرحیم هاتف، ابوي، ولسي جرګې مشر او ډاکتر محمود حبیبي د مشرانو جرګې رییس عبدالکریم شادان خلیلزی د لویې څارنوالۍ سرپرست و، مجاهد صبغت الله مجددي ته د جمهور رییس په توګه بې له چون و چرا دولت تسلیم کړ، مګر ملي خاینانو ته د تېښتې لار برابره شوه، مجازات او د قانون تطبیق چې د ټولنې غوښتنه وه، عملي نه‌شول.

اسدالله سروري د «اګسا» د قصابخانې قصاب هم په پنجشېر کې د پنجشېر د آمر تر نظارت لاندې بې له محاکمې ژوند تېر کړ. ملګرو ټولو د پرولیتاریا د دېکتاتورۍ دنده په بشپړ ډول د تصفیې تر عنوان لاندې عملي کوله. دوه قصابان تر ټولو د خاد مشر نجیب او د اګسا رییس اسدالله سروري په زوره وژنې د خپلې دندې له مخې اجرا کړې دي. سروري د انقلاب د ارمانونو د تحقق په لار کې پینځه‌ویشت کاله بند وګاله، که څه هم د ابتدایې محکمې له خوا په اعدام محکوم شو او نجیب د طالبانو د شرعي نظام په حکم د وطنوالو د وژلو په تور ځوړند شو. ټولو ګوندیانو ته د یوه تفاهم له مخې د تېښتې لار ورکړل شوه. دا تفاهم د هغو پخوانیو پروتوکولو پر بنا ولاړ و، لکه جنرال لیاخوفسکي چې د خپل کتاب «د افغان مېړانه او غمیزه» کتاب په ۴۶۷ مخکې راوړي دي:

«**احمدشاه مسعود به ویل چې له شورویانو سره کومه ستونزه نه لرم.**» شوروي قوماندانانو د اعتماد له مخې له مسعوده دا هیله هم کړې وه چې د کندز ولایت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل نفر وروپېژني، چې مقرر شي او قادر جنرال د دفاع وزیر هم د خپل کتاب «خاطرات سیاسي» په ۴۴ مخ کې راوړي دي چې احمدشاه مسعود د محاکمې په عوض د ده د پاسپورت د اجرا امر ورکړ.»

جنرال بروس گروموف هم د «سرې لښکرې» کتاب چې ډاکتر داود جنبش ژباړلی د احمدشاه مسعود او قوماندان *کلینشوویچ* ترمنځ د ۱۹۸۲ کال پروتوکول ته اشاره کړې ده.

بوریس ریچارډسن په خپل کتاب «افغانستان خاتمه دهندهٔ تسلط دهشتناک شوروي» چې ډاکتر هاشمینان ژباړلی په ۱۵ مخ کې همداسې پروتوکولونه په تفصیل راوړي دي: دا د قانون حکم او د ټولنې غوښتنه ده چې جنگي جنایتکاران باید محاکمه شي، چې عملي نشو.

په همدې ورځ د مجاهدینو له خوا کریم شادان قاضي‌القضات د مجاهدینو د اعدام د پرېکړو په تور او عبدالاحد ولسي د غزني ولایت د وژنو په تور د قاري بابا د مجاهدینو له خوا صحرایي محاکمه شول.

جنرال نبي عظیمي مستعجل ضابط چې د ډاکټر نجیب د وروستیو ورځو هیرو و، د «اردو و سیاست» کتاب په حواله د جنرال عبدالرزاق او جنرال مجید روزي په هکله څه راوړي دي. ډاکتر شېرشاه یوسفزي په خپل کتاب «تاریخ مسخ نمی‌شود« ۴۱۸مخ کې د ده بیان په مستند ډول او په بشپړو دلایلو رد کړی دی او د ده دوه‌مخی ته یې گوته نیولې ده.

ډاکتر یوسفزی وایي جنرال عظیمي هغه قسم ته چې په علم مبارک یې لوړه کړې ده چې د هېواد دفاع به کوي، ولې د روس مخې ته ونه درېد او مادر وطن د ناموس دفاع یې ونه‌کړه. د ۱۸مې فرقې په قوماندانۍ کې د «زنده جان» د ولسوالۍ د څېلو لپاره به یې شعار و چې «زنده جان» په «مرده جان» بدل کړي.

مستعجل ضابطان په هغه وخت کې ماشیني ضابطان بلل کېدل. د جنرال عظیمي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیت په هکله زموږ ډېرو هېوادوالو تبصرې کړې دي. تر ډاکتر یوسفزي وروسته عبدالقدوس غوربندي په خپل کتاب «د افغانستان د خلکو د موکراتیک گوند تاریخ ته یوه کتنه» کې په تفصیل سره راپېژندل شوي دي.

غوربندی د نبي عظیمي کورنی ریښې سپړي او لیکي چې بیرگټ عظیم د حربې فابریکې کارمند چې په بیرگټ عظیمو مشهور و، د شاهي مشروطه خواهانو په ډله کې ځان وهلی، چې د ده د راپورونو په واسطه سردار حبیب الله خان پاچا ډېر کسان اعدام او ځینې یې په زندانو کې واچول (د همدې کتاب، ۲۰۶مخ).

رفیق نبي عظیمي جیگیلو مستعجل ضابط د هر چا په غاښ برابر، سردار داود ته نیژدې او د هغه د سترگو تور، د ببرک د سر تاج او د نجیب بازو و، مگر هېچا ته وفادار پاتې نشو. زه (لیکوال) چې کله د ده لیکل شوی کتاب (اردو وسیاست) لولم فکر کوم چې د «جېمز باند» فلم ته ناست یم، دی عبدالقدوس غوربندي د خپل کتاب په ۱۱۸ او ۱۱۹ مخونو کې سم تشرېح کړی دی. دا مې مشوره ده چې اوس هم که څوک د نبي جان عظیمي (اردو و سیاست) کتاب لولي، ورپسې دې د «تاریخ مسخ نمی‌شود» کتاب هم ولولي، پوه به شي چې رفیق عظیمي څومره چوتار دی.

قضا د انسانانو یا د هغو کورنیو پر سرنوشت باندې تصمیم نیسي. قاضي باید حقوقي او شرعي پوه او تجربه ولري. مگر زموږ رفیق مستعجل ضابط د محمدهاشم میوندوال په توطیه کې د قاضي په توگه د دې محکمې غړی و چې د ۴۴ تنو یا ۴۴ کورنیو په سرنوشت یې تصمیم ونیوه.

نجیب له آصف شور، جنرال شهنواز تني سره مخامخ دښمني کوله خو رفیق نبي د شا له خوا په خنجر وواهه.

پرچمیان یوازې خلقیانو ته په کمین کې نه وو، بلکې په خپله خلقیان هم یو بل ته په کمین کې وو. سروري او مامد (گلابزوی) پروگرام درلود چې امین په ارگ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیسي، (سلیک هرېسن، حقایق پشت پرده افغانستان، ۸۲مخ).
جنرال رفیق عظیمي له مجاهدینو او حقاني سره د خوست جگړه په ۴۵۹مخ کې په تفصیل راوړې دي چې په رښتیا د حق او باطل ترمنځ جگړه چې د ۲۵مې فرقې قوماندان گل آغا، د دفاع وزارت مرستیال ظاهر سوله‌مل، جنرال فاروق، نظرمحمد د دفاع پخواني وزیر، د انقلاب او لېنېنزم په «عدم حقانیت» پوه شول. له انقلابه بېزاره مجاهدینو ته تسلیم شول. په پوځ کې یا مرگ یا بری وي. کوم کسان چې ملا جلال الدین حقاني ته په خوست کې تسلیم شول نو عظیمي د دفاع وزارت مرستیال ولې لکه د میوندوال په شان محاکمه نه کړل؟
چا به چې د تېښتې لار ونیوله، ډاکټر نجیب به هم د تېښتې په تور خپل وطنوال محاکمه کول او نیول. مگر ده هم په دې عمل لاس پورې کړ، په داسې حال کې چې ډاکټرې اناهیتا، شېر (بریالي)، کشتمند، بارق شفیعي، غلام‌مجدد، کریم میثاق او نورو ټولو د تېښتې لار ونیوله. دې پورتنیو کسانو د دوی په اصطلاح د غرب «امپریالېزم» تر لمن لاندې سرونه لاندې کړل.
په عمومي ډول د کمونېزم ایډیولوژي په نړۍ کې د تاریخ برخه شوه او په افغانستان کې د کمونېزم ټغر ټول شو او په شوروي یا روسیه کې هم لېنېنزم او کمونېزم ختم شو. د لېنن کبیر (؟) مجسمه له کرېملېن ماڼۍ څخه لرې شوه. مگر افغان گوندي غړي داسې مغزشویي شوي دي چې له دې ټولو لوړو او ژورو سره بیا هم واقعیت ته پام نه کوي، چې کمونېزم یوه غیر علمي او غیر عملي ایډیولوژي وه، چې د کمونېزم زانگو هم ترې پاکه شوه. دا انقلابیان لا اوس هم کمونېزم په خوبویني.
بریدمن عبدالقریب د شبکه رساني افغان په فېسبوک پاڼه کې د ۱۳۹۶ کال د کب په ۲۲مه د جاوېد کوهستاني په نامه لیکلي:
«حزب وطن و کادرهای با دانش پر از تجربه، دستگاه قدرتمند، گارد مجهز،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزارت دفاع و داخله به معنی واقعي داشت. اما دیدگاه قوم محوري و سرتنبگی‌های نزدیکان، سرنوشت مردم افغانستان را به پرتگاه کامل نیستی به پیش برد.» عبدالقریب پر مادي ابزارو تکیه کوي او دا فکر نه کوي چې د نړۍ ابرځواک د سرو لښکرو سره او د نړۍ د طول او عرض په کچه د KGB اداره د خپلو اقمارو او پینځم ستون سره ونشو کولای چې د اکتوبر انقلاب له پرتگاه ځخه راوگرځوي، کوم چې رفیق جاوېد کوهستاني یې ارمان لري.

سلطان علي کشتمند هم ډېر وروسته پوه او دې ایډیالوژۍ ته یې شا کړه او په لوړ غږ یې وویل چې: «**هزاره بودوم او هزاره موباشم!**»

طاهر بدخشی یوازې د فدرېشن په فکر کې ډوب کمونېست شو چې د ده سر یې وخوړ. میخایل گورباچوف فهمیده د مځکې له سره د جنت تغر ورټول کړ. انقلابیان چې په دې پوه شول چې نور نو حمایه‌گر لاس ترې واخیست، په تلوار یې په ډېره بېباکۍ انقلاب ته شا کړ. هغه شعار یې چې «سر ورکوو خو سنگر نه» هېر کړ.

پر امپریالېستي هېوادونو (د دوی په اصطلاح) اواره او تبعید ته اړ شول، لکه بارق شفیعي، غلام مجدد، پکتین، نبي عظیمي، اناهیتا، محمود شېر (بریالی)، جنرال عثمان (قادر)، قادر اکا، کشتمند، نوراحمد نور، علومي، فتح (صمد اظهر)، صالح زېری، خیال کتهوازی، کریم میثاق، قدوس غوربندی، شراف الدین شرف، مزدک، کاویانی، جوزجانی، وکیل، پېرس (شاه محمد دوست)، پاچاگل وفادار، مزدوریار، رفیع، مجید سربلند، محمدخان جلالي، جنرال نظرمحمد او نور.

کله چې احمدشاه مسعود د طالبانو له راتگ سره کابل پرېښوده، مارشال فهیم نجیب ته ورغی، د تگ وړاندیز یې ورته وکړ، ده د جنرال دوستم له ډاره تگ ونه مانه. شوروي ورسره مرسته ونه کړه. هندوستان ونه مانه. پاکستان ته یې د مجاهدینو له ډاره ده زړه ښه نه کړ. چې اخیر طالبانو کابل ونیو، دی او احمدزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د ده ورور) يې د ملګرو ملتونو له دفتره راوايستل، طالبان چې پخواني مجاهدين وو، د شريعت د تنفيذ غوښتونکي وو.
د ۱۹۸۶ کال د مېزان په شپږمه يې د انقلاب په تور ځوړند کړ. چې په دې ډول حق الله او حق العبد دواړه تنفيذ شول. لکه چې وايي:

**خون ناحق دست از دامن قاتل بر نداشت**

**دیده باشي لکه‌های خون بر دامن قصاب را**

د ۱۳۹۹ کال د مېزان په مياشت کې حمدالله محب د ملي امنيت د شورا مشر هرومرو د دويم متفکر تفکر ته راويښ و چې د ډاکتر نجيب زيارت ته ولاړ او د ده قبر ته يې د دعا لاس پورته کړ او دا دعا يې وکړه:
۱ – يا ربه! دا مختور او ستر ګناهکار چې زرګونه او د هرات د کب مياشتې د ۲۴ مې خلوېښت زره پاخون کوونکي ووژل، عفوه ورته وکړې.
۲ - يا خالقه! کومې شکنجې چې به يې د خپلو روسي دوستانو د خوشحالولو لپاره خپلو وطنوالو ته ورکولې، دا د قبر عذات او شکنجې څه پرې آسانه کړې.
۳ – يا خدايه! پر دې عاجز او ناپوه انسان چې په لېنن کبير باندې يې درود وايه او د شرک او کبيره ګناه مرتکب شوی دی، يو څه رحم وکړې.
۴ – د ملګري کاظم (امين) د وژنې او د مارتوف (کارمل) واک ته رسول، د يرغل ملګري يې وکړه، ملی او اسلامي ارزښتونه يې تر پښو لاندې کړل، خپلواکي يې تر پوښتنې لاندې کړه، جاهل او مغز شويي شوی بنده دی، يوازې خپلې بزرګۍ ته وګوره، دی وبښه.
۵ – يا کريمه! د صديق راهي په شهادت پر کومو سپېڅلو نجونو چې ده جنسي تېری کړی، ته کريم او رحيم يې، عفوه يې کړه.
۶ – يا رحمانه! ده او د ده د فکر د ملګريو له لاسه اووه ميليونه هموطنان د خپل ټاټوبي پرېښودو ته اړ شول او د (سکر ۲۰) او ناپالم بمونو څخه وتښتېدل، ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمان او رحیم يې.
۷ – یا غفار او غفوره! هغه کسان لکه فرید مزدک، جنرال نبي عظیمي، کاویاني، او جنرال نبي عظیمي چې د ده د تېښتې مخه ډب کړه، پرې يې نښود چې په «گاوپرستانو» کې امن پیدا کړي، ته د نېکو هدایت ورته وکړې او د ده په لار پسې يې روان کړې. آمین، ثم آمین، یا رب العالمین.
پوره کمونېستان هغه وو چې د لوېدیځ لمن يې ونیوله، دا نیمچه او ناقص‌العقله خلقیانو غوښتل چې د مېزان په څلورمه د لويې جرگې په تالار کې غونډه ونیسي. چارواکو سر ورسره غورځولی و، مگر د انجینیر حکمتیار او نورو رهبرانو مخالفت دوی ته دا موقع ورنه کړه. دی شهید نه دی. په دې برخه کې خلقیانو دا غونډه باید د نورمحمد تره‌کي لپاره نیولې وای، ځکه چې د گوند مشر، رهبر توانا او موسس و او د بالښت په وسیله يې ساه ورایستل شوې وه.
دویم متفکر چې د متعلمۍ په وخت کې په بازار کې د «پرچم ورځپاڼه» په لاس کې خرڅوله، د (افغان ملت د گوند مشر شمس الهدا) له قوله د پخوانیو اړیکو پر بنا د غلام مجدد د جنازې په دولتي مراسمو کې د اسدالله سروري خوشي کېدل، د خلیل زمرد، وزیر مشاور په توگه ټاکل او نور او نور دي. د متفکر رواداري څرگندوي، او خلیلزاد په خپل کتاب (از کابل تا قصر سفید) کې د متفکر چپي تمایلاتو ته اشاره کړې ده.
دا به وایي چې یا خدایه له هر چا سره عدالت وکړې، د خپلو اعمالو په سزا يې ورسوې. آمین.
مارتوف هم د بل په زور لنډمهاله برې ترلاسه کړ. مگر تلپاتې بدنامي يې په برخه شوه. طالبانو د مارتوف کارمل ښخ شوي هډوکي په حیرتانو کې له خاورو راویستل او په آمو دریاب کې يې اوبو ته وغورځول. وینې سرې شوې، وخت تغییر شو او حالت هم. څه موده وړاندې يې د اناهیتا او شېر او بارق مړي دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړل. سبا به د کشتمند او ډاکتر شرق جنازې هم راروانې وي. دا زموږ نه دي، په دې پاکه خاوره کې د دوی لپاره ځای نشته، هلته یې دې یوسي چې چوپړ یې ورته کاوه. دوی وو چې پر مور (وطن) یې د روس یرغل راوست.
نجیب هم د غویي د انقلاب په لار کې خواسته یا ناخواسته خپل سر لکه چې ویل به یې (کفن یا وطن) ورکړ. او د انقلاب نورو ملګرو میراکبر خیبر، طاهر بدخشي، نورمحمد تره‌کي او حفیظ الله امین پر لار لاړ. اسحق توخي او د ده یاور جغسر رښتیا نه وایي چې هغوی څنګه له مرګه بچ شول او دی یې پرېښود.
په افغانستان کې خلقي نظام نسکور او په نړۍ کې کمونېزم باطل ثابت شو. شوروي ټوټه ټوټه شو. پینځه‌لسو جمهوریتونو خپلواکي واخیسته. نړۍ د لېنېنزم او ستالینېزم له دې فتنې وژغورل شوه. سړه جګړه ختمه شوه، د برلین دېوال ړنګ شو. د آلمان یووالی تامین شو. د ختیځې اروپا هېوادونه حقیقي خپلواکۍ ته ورسېدل. د وارسا پوځي پکټ منحل اعلان شو. مجاهدین د خپلواکۍ نمونه او قهرمانان وبلل شول. د مجاهدینو هوډ پر ځای شو. یرغل یې مات کړ، په بري سره د خلقي نظام چارواکو د دولت واګې مجاهدینو ته وسپارلې. اما د هېواد کړاو ختم نشو. البته په بل شکل (تنظیمي جګړې پیل شوې) د استاد برهان الدین رباني توره او تاریکه دوره کې هم سوله رانغله، موقته اداره جوړه نشوه. د ټولټاکنو ارمان پوره نشو.
اردو چې ملي نه وه، ویې نشو کولای چې خپل رسالت پرځای کړي. د اردو وسلې، توپ، ټانګ او الوتکې د کباړ په ډول د پاکستان بازار ته ورسېدلې. دولتي او ملي اداره چور شوه. د موزیم تاریخي آثار لاس پر لاس په نړیوالو بازارونو کې په ناچیز قیمت خرڅ شول.
جنګي جنایتکاران محاکمه نه‌شول. هر قوماندان د خپل سر پاچا او ملوک‌الطوایفي نظام مسلط شو. هر جهادي رهبر هیله‌من و چې د ده په نامه خطبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل شي. قلم و چمن د زرداد جنایات به د چا هېر نشي.

د ګلم جم له غیرمسؤولو وسلوالو څخه په کابل کې د ناموس د دفاع په خاطر پاکو نجونو له اپارتمانمانونو ځانونه راوغورځول. مېړوښې مېرمنې په نکاح شوې. دولتي مځکې غصب شوې، هېڅوک مصؤون نه وو. کډې بیا بار شوې. چې طالب راورسېد. د طالب څنګ ته القاعده ځای ونیو. له علم او عرفان، کلتور او فرهنګ سره دښمني اعلان شوه. د ښځو شرعي حقوق سلب او له مکتبه راوګرځېدې. د شریعت په نامه بشري حقونه تر پښو لاندې شول.

له طالب سره د شریعت د تطبیق په واسطه نسبي امنیت راغی، مګر رضایت نه.

د بامیانو فرهنګي میراث په توپ والوزول شو. طالب‌جان په عمومي ډول د علم دښمن او په تېره په دې هڅه کې و چې ښځې په جاهلیت کې پاتې شي. نکاح (خواږه سنت) یې ډېر خوښ وو. حاجي آغا (محسني صاحب) هم همداسې خوږه نکاح وکړه:

کله چې دوو ښکلیو ورونو چې په جاپاني هزاره‌ګانو مشهور وو، جهاد ته مخ کړ، خپله همدغسې ښکلې خور یې د دیني زده‌کړو لپاره د حاجي آغا شیخ آصف محسني شاګرده کړه. په دې ورونو کې چې کله یو ونیول شو، په پلچرخي کې د زندان د مدیر سیدعبدالله له خوا شهید او بل ورور یې په جبهه کې د شا له خوا وویشتل شو. حاجي آغا خپل سبق ورکولو ته دوام ورکړ چې بالآخره د نکاح فصل و باب ته راورسېد. د حاجي آغا ورځ په ورځ په زړه کې مینه راپورته کېږي او په دې هم پوه دی چې مینه د ژوند اساس دی. غواړي خپله مینه په حقیقي بڼه بدله کړي، نو د فقهې په درسونو کې د نکاح فصل و باب ته راورسېدل او دا یې تشریح کړه چې نکاح سنت ده، که څوک نکاح نه کوي (فَلَیْسَ مِنِي) دا د رسول صلی الله علیه وسلم حدیث دی. حاجي آغا له دې حدیثه پوره ګټه پورته کړه. نکاح وشوه، زموږ یوې هموطنې نجلۍ د زړه له تله داسې غږ پورته کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرِ کوهِ بلند زردک نموشه دلِ دخترْ به پیرمردک نموشه

همدا ډول لوی ملا محمدعمر خپله شاګرده نجلۍ چې د ده زړه یې وړی و، چې لویه شوه له خپل ترورزي سره نکاح شوه، په دې نکاح کې د امیرالمؤمنین په سپارش د نجلۍ مور اړ ایستل شوه چې اعتراف وکړي چې دا نکاح ناقصه ده، ځکه چې مېړه ته یې، چې خوریی یې کېږي، په سهوه شیدې او تی ورکړی دی.

د نکاح لپاره یې له دېرشو تنو علماوو څخه د طلاق فتوا ترلاسه کړه.

کومو ملایانو چې دې موضوع ته په شک کتل، لکه د فراه ملا دوست محمد او څو تنه نور، له غوندې وایستل شول. طلاق او نکاح عملي شول. لوی ملا څلورم خوږ سنت پر ځای کړ او سوځونکې مینه د بریالیتوب پړاو ته ورسېده. د نجلۍ د پخواني مېړه مړ او ژوندی تر اوسه څرګند نه دي.

طالب د استاد رباني د نااهلۍ او بې‌کفایتۍ زېږنده وه. استاد د خپل روحانیت په څنګ کې تر «ستمي» پالیسۍ لاندې اوبه ځغلولې. د دواړو استادانو او سیدعبدالرسول سیاف د جهاد له ارمانونو سره واټن زیات شو او په معاملو یې لاس پورې کړ.

لوی ملا د چا خبره نه منله. هر څه به یې د خپل خوب په لیدو حواله او الهام به یې اخیست. که څه هم ځینې خوبونه شیطاني هم وي، لوی ملا هم لکه نجیب د تېښتې لار غوره وبلله، لویه لمن یې باد وهله. ډاتسن ته پورته شو چې آیا دا ورځ به یې هم په خوب لیدلی وي او که نه؟

په دې څلورو لسیزو کې که خلقي و، که مجاهد او که طالب، له تصفیې او وژنو پرته مو نور څه ترې ونه‌لیدل. کرنې، اقتصاد، ښوونې روزنې ته پام نه و. کله په یوه نامه او کله په بل نامه افغان‌وژنې دوام درلود.

یو په بل پسې بیا کدې بار شوې، ټوپکسالاران او جنګسالاران واکمن شول او د دوی ملوک الطوایفي شروع شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپټمبر له یوولسمې سره F16 او B52 طالباني نظام نسکور کړ او اسلامي جمهوریت راغی. بیارغونه، تعلیم او تربیه، اقتصاد، د ډموکراسۍ اصول، ټولټاکنې او د قواوو تفکیک په اساسي قانون کې ومنل شول. مګر د پرمختګ او مدنیت دښمنان بیا لاس په کار شول، ورځ تر بلې نیابتي جګړو زور ونیو. پردیو پر شا وټپول، ځانوژنو او هم د خپل هموطن وژنو، چاودنو او انتحارونو دود وموند. د ځوان او زاړه، نر او ښځې او ماشوم وژنې ورځني خبرونه جوړوي. دا وژنې هدفمنې وي، کله بې‌هدفه. دا کسان له وینې تویېدو خوند اخلي. په واده او جنازه کې امن نشته، نه ښوونځی پرېږدي، نه مسجد او نه روغتون؛ نه ملا، نه معلم او نه ډاکټر. له عام المنفعه تاسیساتو، لکه سړک، پل او پلچک، برېښنا او ټیلیفون سره ذاتي دښمني لري، د ملکي کسانو وژل خوند ورکوي. تر ټولو د پولیو واکسین مخنیوی د نسل‌کُشي په مانا دی او یو لوی بشري جنایت دی.

زوی د پلار په ګناه او مېرمن د خاوند په ګناه مجازاتېږي. دا غیراسلامي کړنې، د اسلام لپاره او اسلام تر نامه لاندې عملي کېږي. افغان د اسلام تر نامه لاندې د شلمې پېړۍ په جهاد کې دوه نیم مېلیونه شهیدان نذرانه کړل. څوک به وي چې افغان ته اسلام وښیي.

داسې بشرضد اعمال نه چنګېز او نه هلاکو، نه ستالین او نه کارمل کړي دي.

څوک چې د هېواد تاریخ او ویاړونه سپکوي او زړه سوی نه لري، افغانان نه دي.

د تذکرې په نامه دوې ګوتې کاغذ بسنده نه دی او نه یوازې توره لونګۍ.

دا نن د ۱۳۹۹ د لیندۍ په ۲۰مه نېټه د ارغنداب د رود پل د طالبانو له خوا په موټر بم والوزول شو، تر دې پورې مې رایاد شول. وایي:

وروستۍ شپې او ورځې وې، جنرال نوره جګړه بې ګټې وبلله، په برلین کې یې له هېټلر نه خدای‌پاماني وکړه. دروازې ته نارسیده راوګرځېد او ویې ویل: «ای رهبره! ما په عمر کې ستا هر امر پر ځای کړی دی، بې له هغه امره، کله چې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

قطعات په هنګري کې د دانیوب له روده راتېر شول، ستا هدایت راغی، د دې لپاره چې د دښمن لښکرې ما تعقیب نه کړای شي، هغه پُل باید خراب کړم، مګر ما دا کار ونه کړ. له تا ښښنه غواړم.» خو طالب د پردیو د خوښې لپاره خپل کور ورانوي.

طالب‌جانه القاعده او داعش له ځانه لرې کړه. هدفي وژنې د شلمې پېړۍ او جهاد وخت هم کله دلته کله هلته اورېدل کېږي. دې پوښتنې ته باید ځواب پیدا شي، چې عبدالقیوم رهبر، ډاکتر بهاءالدین مجروح، عزیز الفت، جنرال عبدالحکیم کتوازی، جنرال نظرمحمد، جنت خان غروال، عبدالاحد کرزی چا او ولې ووژل؟ طالبانو هم ملي احساس درلود، ولې چې ملا عبیدالله او یاسر هم ووژل شول.

د دې شهیدانو شخصیت د ظالم او ملي دښمن موندلو ته رهنمایي کوي. همدا افغانان دي، د جګړې لپاره د هر چا په کار دي. کله په کشمیر کې جنګېږي، کله په عراق او سوریه او کله آذربایجان کې.

اې افغانه له جګړې لاس واخله. پر خپل هموطن زړه وسوځوه، خدای او کلام ته یې رجوع وکړه. په نړۍ کې د تاریخ د جګړو ډېرې ناخوالې په یاد دي. انسانانو د انسان له خوا ډېرې جفاوې لیدلې دي؛ په تېره د شلمې پېړۍ دا دوې وروستۍ نړیوالې جګړې هېرې نه دي، پر بشري احساس بنا ځینو خیرخواه بشر غوښتونکو هڅه کړې چې د هغو بشري ناورینونو مخه ونیسي، چې په خپله د بشر په لاس راځي. یا یې لږ تر لږه تاوان، خسارې او تلفات راکم کړي. د دې لپاره یې ډول ډول کنوانسیونونه جوړ کړل، چې عام المنفعه تاسیسات خراب نه کړي. د وړو او زړو، ښځو او ناروغانو او یا تسلیم شویو سربازانو د تلفاتو مخه ونیسي. د طالب اعمالو په بهر او په کور دننه د اسلام په مقابل کې دومره نفرت پیدا کړ، چې خلک وایي پس له دې به د طالب پخوانی محبوبیت نه وي.

په مجموع کې پر طالبانو ورونو د جنګي جنایاتو او بشري حقونو څرګند لفظي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتراضونه ثبت شوي دي.
تاریخ وښودله چې د افغانستان نیول آسانه دي، مګر ساتل یې سخت. W.Bosh هم په War of Afghanistan کې په همدې مطلب داسې ویلي وو چې:
**افغانستان اجاره کېدای شي اما رانیول کېږي نه!**
پرکمونېزم نوره لیکنه د وخت ضیاع ده. کمونېزم، سوسیالېزم او لېنینېزم په نړۍ کې ناکامه تجره وه، چې عملي نه دی. نړۍ د تاریخ په زباله‌دانۍ کې واچاوه. د یوې مافیایي اېډیولوژۍ په توګه پېژندل شوي دي. کوم هېوادونه لکه ختیځ اروپایي هېوادونو او روسیې او افغانستان د دې اېډیولوژۍ د جنایاتو ترخه تجربه وڅکله، چې د مېلیونونو انسانانو په قربانۍ تمامه شوه. روسیه په یوه پېړۍ کې له مدنیت پاتې شوه، چې جبران یې ساده نه دی. د دې اېډیولوژۍ نور څوک نوم نه اخلي. یوازې یو یا دوه خلقیان چې په امپریالېستي هېوادونو کې یې ډډه وهلې ده کله کله لکه د ژمي ګیدړان چیغه ترې پورته شي، چې «بې خلقیانو به شل نشي!».
داسې ښکاري چې اوس لا هم د مارکس په ... شخوند وهي.
بیا هم د داسې کتابونو لیکل دا ښه‌والی لري چې د محاکمې لپاره اسناد پکې راټول شي او د دې رژیم په عاملانو باندې یې زامن او لمسیان وشرمېږي او دا څېرې په تاریخ کې رسوا شي او نوي د خبرتیا لپاره ګټه ترې پورته کړای شي.
غلام مجدد چې د نجیب د غلا تېښته غندله او ملل متحد ته یې دی غل او شغال وباله، اوس بیا دا شعر ورته وایي:

**زوړ انګرېز به بیا راپاڅي انتقام ته**

**زموږ پر ضد به له پنجابه سره پره شي**

**چا ویل د پنجابي د کسات هوډ به**

**د نجیب په قربانۍ باندې پوره شي**

دا د سلېمان لایق ( ۲۰۲۰ جولای ۳۱ مړ) شعر دی چې د ۲۰۲۰ د اګېست په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ په تاند وېبپاڼه کې خپور کړی دی. اما د زاړه انګرېز یاد کوي، مګر د وفادارۍ له مخې د روس یاد نه کوي. د نجیب په مرګ خپه دی، مګر ملګری امین یې چې هم ملګری و، د ورس د وژنې یادونه نه کوی. دا په ولس پورې اړه نه لري، دا د انقلابیانو ذات البیني سیاست او اخلاق دي.

طالب په خپل ذهن ټینګ مسلمان دی، د ده د عقیدې پر بنا به، خدای رحمان او رحیم دی، عفوه به ورته وکړي. پر اسلام عقیده لري، مګر ډېرې چارې یې د اسلام له اصولو سره اړخ نه لګوي. د پردیو په ګټه دي، پردي هڅه کوي چې د افغان ملي غرور او روحیه ووژني. پر اوږده ږیره یا لنډه ږیره، کېبل په لاس درسره بحث کوي. د اکوړې د مدرسې سبق اخلي. خپله لور او زوی به یې په لندن او واشنګټن کې لوست کوي، تا ته به د علم دښمني در زده کوي. اکوړه مدرسه نن د دیوبند کاپي ده، چې بادار په کلونو کلونو د خپلو استعماري چلونو لپاره کاروله. اې افغان قهرمان، مجاهد او د خپلواکۍ اتله، د نړۍ له ابرځواکونو سره سر جنګوې مګر د اکوړې قربانیان کېبل په لاس د اسلام په نامه غواړي ستا غرور زندۍ او مړ کړي او د ځان غوندې دې مریی کړي.

القاعده او داعش زموږ نه وو. طالب هم د پردیو خیال ساتي، دا یې ځای دی چې ولیکم:

د ۱۳۹۹لمریز کال د لیندۍ په اتمه نېټه ۹ ټانکره تېل چې کابل ته وړل کېدل، د زابل په سیمه کې طالبانو ټول په دې نامه پر مځکه خالي کړل، چې کافرانو ته وړل کیږي. هغه ځوان طالب چې کله پر دې پوه دی چې کافران خو هغه وو چې په دوحه (قطر) کې د ۲۰۲۰ز کال د فبرورۍ په میاشت کې ورسره د دوستۍ قرار لاسلیک شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رهبرانو د وژلو ډولونه

دیدوف: د بالښت په واسطه.
کاظم (امین): د فیر په واسطه.
مارتوف: زهر ورکړل شول او تجریدي وژنه او (د ده د ناروغۍ معافیت نه کول، یو ډول وژنه).
نجیب: ځوړندول.
ټول صحرایي محاکمه شوي دي، چې له قانون او شریعت سره اړخ نه لګوي. همدا ډول د دوی د جنازې لمونځ - چې فرضِ عین دی - هم ادا نه‌شو. ګرچې دوی سیخه عقیده نه درلوده. دوی ټول د انقلاب قربانیان دي، چې زموږ له خوا «د انقلاب قربانیان» شمېرل کیږي.

پای

ځو چې دا مځکه آسمان وي   ځو چې ژوند پر دې جهان وي
ځو چې دا جهان ودان وي   ځو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل به دا افغانستان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کی جی بی د جاسوسانو لیست

د KGB د افغان جاسوسانو دا لیست د میتروخین په کتاب کې راغلی دی:

| گڼه | نوم | اېجېنټ نوم | روسی نوم | د استخدام نېټه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | نورمحمد تره‌کی | نور | دیدوف | ۱۹۵۱ |
| ۲ | ببرک کارمل | مرید | مارتوف | ۱۹۵۷ |
| ۳ | حفیظ الله امین | کاظم | | |
| ۴ | محمود بریالی | شیر | | |
| ۵ | شاه محمد دوست | | پیریس | (د KGB در افغانستان،۸۳مخ) |
| ۶ | اسد عباس | (اصلي نوم يې معلوم نه دی، خو دی افسر دی.) | | د KGB در افغانستان، ۵۱مخ. |

او د GRU په پوځي برخه کې دا هغه استخدام شوي پوځيان دي چې تر اوسه افشا شوي دي:

| گڼه | نوم | دنده | اېجېنټ نوم | روسی نوم | د استخدام نېټه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | جنرال قادر وزیر | وزیر | عثمان | | |
| ۲ | سیدمحمد گلابزوی | وزیر | مامد | | |
| ۳ | رفیع | وزیر | پیروز | | |
| ۴ | صمد اظهر | جنرال | فتح خان | | ۱۹۷۷ |
| ۵ | فیض محمد | د | اکبر | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | استخباراتو مامور | | | |
| ٦ | دستگیر پنجشېری | وزیر | ریچارډ | | |

ممکن نور هم وي، چې تر اوسه يې معلومات نشته. دا کتاب د بېنوا په وېبپاڼه کې د کتابتون په ۲۴مه گڼه راغلی دی، په (KGB در افغانستان) کتاب کې د ۹۶ افغاني جاسوسانو رمزي نومونونه راغلي دي، چې د ځينو اصلي نومونه يې متأسفانه نه دي ليکلي، چې هغه هم پېژندل شوي واى، دا نومونه په ۲۹۷-۳۰۱مخونو کې چاپ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی ګڼه مل

د هغو روسي ښاريانو د نومونو لړليک چې د ک.ج.ب غړي او اېجېنټان وو او په افغانستان کې اوسېدل، د «excised» معنا «غير مستقيم يا غير اصلي» ده:

Osadchy [Excised].
Krivoguzi.A. [Excised]
Kukhta Yu.L. [Excised]
Kostromin L.P. [Excised]
Voskoboynikov B.N. [Excised]
Chuchukin V.A. [Excised]
Martov – Martynushkin Valery Alexandrovich [Excised]
Desnin – Bogdanov L.P.
Macloy – Samunin Valery Ivanovich [Excised]
Miran – Romashko Mikhail Platonovich [Excised]
Panchenko A.L [Excised]
Bogatov V.P [Excised]
Varlamov V.M. [Excised]
Alexandrov Yuri Mikhailovich [Excised]
Belove [excised]
Furnan [excised]
Tikhon [excised]
Sizov [excised]
Kholmov [excised]
Zubrov [excised]
Pyotr [excised]
Pavel [excised]
Pers [excised]
Remiz [excised]
Komov [excised]
Samarin [excised]
Satar [excised]
Khavar [excised]
Fakir [excised]
Ragim [excised]
Mishkar [excised]
Syoma [excised]
Mirab [excised]
Yakov [excised]
Miron [excised]
Antar [excised]
Furman [excised]
Volodya [excised]
Mure [excised]
Roschin [excised]
Shiit [excised]
Noble [excised]

(c) ketabton.com: The Digital Library

Emir [excised]
Tamada [excised]
Noy [excised]
Rasul [excised]
Kim [excised]
Pinmen [excised]
Vin [excised]
Shayan [excised]
Karpov [excised]
Fakir [excised]
Fizik (Physicist) [excised]
Iskhak [excised]
Volin [excised]
Abdullah [excised]
Siddik [excised]
Rakkas [excised]
Fuladi [excised]
Hodzha [excised]
Gardez [excised]
Ahmded [excised]
Anwar [excised]
Kharvar [excised]
Nafar [excised]
Asamai [excised]
Akbar [excised] (فیض محمد)
Richard [excised] (دستگیر پنجشیری)
Jafar [excised]

Bost [excised]
Shiit [excised]
Pyotr [excised]
Araz [excised]
Pavel [excised]
Travin [excised]
Ben [excised]
Bashir [excised]
Ustod [excised]
Borin [excised]
Potomok [excised]
Salikh [excised]
Lori [excised]
Merkury (Mercury) [excised]
Rostov [excised]
Ali [excised]
Ktorov [excised]
Alexander [excised]
Ostad [excised]
Arbakesh [excised]
Bakhed [excised]
Mekhr [excised]
Jan [excised]
Samad [excised]
Jan [excised]
Shir [excised] (محمود بریالی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویمه ګڼه مل

### د اجېنټانو او خبري رسنیو د نومونو لړلیک

Nur, Dedov [excised] (تره‌کی) (۲۹۷مخ)

Martov, Dekabryov [excised] (ببرک)(۲۹۷مخ)

Kazem [excised] (امین) (۲۹۷مخ)

Piruz [excised] (رفیع)

Semyon [excised]

Mamad [excised] (ګلابزوی)

Osman [excised] (جنرال قادر)

Sima [excised]

Habib [excised]

Sharki [excised]

Fatekh [excised] (صمد اظهر)

Pers [excised] (شاه محمد دوست)

Dust [excised]

Verny (faithful) [excised]

ټول «۱۱۰» تنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مأخذونه

د غويي د انقلاب په هکله او بیا د شوروي له یرغل سره سم ډېرو بهرنیو لیکوالو هم لیکنې کړې دي. د شورویانو کتابونه چې زما لاس ته راغلي دي او په دې کتاب کې د مأخذ په توگه گټه ترې پورته شوې ده دا دي:


۱- جنرال پروفیسور محمود فارییف ۱۱، افغانستان پس از بازگشت سپاهیان شوروي، ترجمه عزیز آریانفر.

۲- جنگ در افغانستان، مولفان کارمندان انستیتوت نظامي روسیه.

۳- وایسلي مېتروخین، کی جی بی در افغانستان.

٤- سویتلانا، پټې توبې، د محمداسحق الکو ژباړه.

۵- جنرال موریس گروموف، سرې لښکرې.

٦- الکساندر لیاخفسکي، توفان در افغانستان.

۷- الکساندر مایورف، در پشت پرده‌های جنگ افغانستان.

۸- دیگور دوویز و هاریسون، حقایق پشت پرده تهاجم شوري بر افغانستان، ترجمهٔ جبار ثابت.

۹- ولادیمیر سنگیریوف او سامونین، بیماري ویروس A.


دا باید زیاته شي چې د روسي لیکوالو لیکنې د افغاني لیکوالو او سیاستپوهانو خلاف پر واقعیت ولاړې او بې‌پرې دي.

د کورنیو لېنانو لیکنې:


۱. از پادشاهي مطلقه الی سقوط جمهوریت دیموکراتیک، عبدالوکیل.

۲. ظهور و زوال حزب دموکراتیک خلق، دستگیر پنجشېری.

۳. د نیمې پېړۍ خاطرې، صالح محمد زېری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤. خاطرات و رویدادهای سیاسی، سلطان علي کشتمند.
٥. اردو و سیاست، نبي عظیمي.
٦. د افغانستان د خلکو دموکراتیک گوند تاریخ ته یوه کتنه، عبدالقدوس غوربندی.
٧. خاطرات سیاسی، جنرال قادر.
٨. د دموکراتیک گوند او خاطرې، عبدالقادر اکا.
٩. د پسرلي سباوون او د گولیو باران، ډاکتر صبور سیاسنگ.
١٠. تاریخ مسخ نمی‌شود، داکتر شېرشاه یوسفزی.
١١. کرباس پوشان برهنه‌پا، داکتر حسن شرق.
١٢. د مرگ کاروان، د BBC فلم، د رحمت آریا ژباړه.
١٣. افغانستان در مسیر تاریخ، غلام محمد غبار.
١٤. نجیب رابشناسید، صدیق راهي.
١٥. داودخان د کې جي بي په لومو کې، هارون الف.
١٦. مجاهد د افغان، اتهامنامه.
١٧. ظاهر طنین، افغانستان در قرن ٢٠.
١٨. افغانستان څنگه تباه شو، ستر جنرال رحمت الله صافی.
١٩. محمدحیدر اختر، غلط گویان جنایت کار.
٢٠. محمدغوث، سقوط افغانستان.
٢١. عبدالحمید محتاط، خاطرات سیاسی.

نوټ: وایسلي مېتروخین د ک، ج، ب د آرشیف مامور له شپږو بوجیو محرمو اسنادو سره په ١٩٩٢ کال برتانیې ته وتښتېده او دا محرم اسناد یې په څو کتابونو کې خپاره کړل، چې ډېر شهرت یې وموند، یو کتاب یې د افغانستان په هکله «ک، ج، ب در افغانستان» دی، چې احمدضیاء رهگذر ژباړلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

KGB پر خپلو جاسوسانو، چې ټول یې خاینین وو، په ناسنجول شوي ډول ډډه ولګوله چې د دې جاسوسانو د سر سر کسان یې د افغانستان د دولت د مشرتابه په توګه غوره کړل. تعریف یې ساده دی، هغه څوک چې د ملي یووالي او ملي ګټو په ضد وي، یا دښمن دي یا ملي خاینین.

«په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل» کتاب ستر سلاکار ستر جنرال الکساندر مایروف ۲۰۷ – ۲۰۸مخ، د ډاکټر داود جنبش ژباړه.

بنگاه انتشارات میوند
کابل - افغانستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**